
قرآن
او
د کائنات پیدایښت
له پیل بیا د انسان تر پیدایښت
قرآن څه ویلي او ساینس څه وایي؟
حکمتیار

# قرآن

# او

# د کائنات پیدایښت

## له پیل بیا د انسان تر پیدایښت

## قرآن څه ویلي او ساینس څه وایي؟

## عناصر، ستوري او ستورلیکي کله او څنګه پیداشوي؟

## اُوه زمکي او اُوه آسمانونه یعني څه؟

## آیا په ټول کائنات کي زمکي ته ورته ستوری شته؟

## انسان او نور ژوي کله پیدا شوي؟

## فهرست

| عنوان | صفحه |
|---|---|


مقدمه ---------------------------------------------------------1

د کائنات پیدایښت ---------------------------------------7

قرآن څه ویلي او ساینس څه وایي؟ --------------------------7

قرآن او د عالم پیدایښت ------------------------------------ ۱۲

۱- قرآن او د زمکې او آسمانونو هممهاله پیدایښت-----------------۱۲

۲- د بیګ بنګ له چاودنې وروسته د عالم لومړنی حالت ------------۱۵

۳- د عالم سریع پراخېدا---------------------------------۱۶

٤- په شپږو ورځو (تکویني مراحلو) کې د زمکې جوړښت------------۱۹

۵- د ټولو فضائي اجرامو خوځېدا د کائنات عام سنت دئ------------۲۵

٦- کائنات مسطح دئ نه ګرد او مدور---------------------------۲۸

شیدې وزمه ستورلیکی ولې د کرښې په څېر ښکارې؟-----------------۳۰

د زمکې فضايي مدارونه ولې د لارو په نامه یاد شوي؟ ---------- ۳۹

قرآن او د زمکې ۷ داخلي طبقې --------------------------- ٤۵

او د زړه ویلي توکي ئې --------------------------------------- ٤۵

د غرونو پیدایښت ---------------------------------------- ۵۱

پر زمكي سربېره په نورو ستورو كي د ژوو پيدايښت --------------۵۵

د غرونو، بوټو او ژوو تر منځ تړاو---------------------------------۵۷

آيا زمكي ته ورته ستورى په كائنات كي شته؟-------------------------۶۲

د زمكي اوسني شرائط او ارتباط ئې له ټول كائنات سره---------------۶۵

**غرونه څه دي او غوره تعريف به ئې څه وي؟ ----------------- ۶۷**

**اوبه د زمكي د سر لومړى مركب ------------------------------ ۶۹**

اوبه او بوټي له زمكي راپيدا شوي--------------------------------۷۶

**د ټول عالم او كائنات يو رنګوالى ------------------------------ ۷۷**

**اُوه آسمانونه او اُوه زمكي ------------------------------------ ۸۵**

**د آسمان غير مرئي ستني --------------------------------------- ۸۷**

**د زمكي بېلي بېلي ټوټې ----------------------------------------- ۸۸**

**د زمكي او د زمكي پر سر د ژوو پيدايښت -------------------- ۹۰**

**قرآن او د انسان پيدايښت ------------------------------------- ۹۱**

**په مسلمانانو كي د انسان د پيدايښت اړوند غلط باورونه -----۱۰۰**

**انسان څنګه پيدا شوى؟ ---------------------------------------۱۰۲**

**آيا انسان تر نورو ژوو وروسته پيدا شوى؟ -------------------۱۱۲**

## بسم الله الرحمٰن الرحيم

## مقدمه

ښايي تاسو به تعجب وکړئ چي واورئ د قرآن پيل په داسي آيت سره شوی چي د ټول عالم له پيدايښت سره تړاو لري او وايي:

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ۝١ الفاتحة

۱- ټولي ستايني د عالمونو رب الله ته دي.

دا د سورې لومړی آيت دئ، بسم الله الرحمن الرحيم د دې سورې جزء نه دئ، د بسم الله تعلق له دې سورې سره همغسي دئ لکه له ټولو نورو سورتونو سره. په دې لومړي آيت کي يوې داسي ستري او اساسي خبري ته اشاره شوې چي تر هر څه د مخه ورباندي پوهېدل ضروري او همدا د توحيد بنسټ او د الله د پېژندلو لومړی پړاو دئ.

په دې آيت کي ويل شوي: هغه ذات چي دا عالمونه ئې پيدا کړي، د هغه ساتنه او پالنه کوي، په هر څه او ټولو برخو کي ئې د رب (پالونکي) په توګه تصرف کوي او د ربوبيت او پالني او روزني دا آثار او مظاهر هري خوا ته په هرګام کي تر سترګو کېږي، بې‌شکه چي دا ذات د ټولو ستاينو وړ دئ، دا زه او ته نه وايو؛ بلکي دا د دې ستر کائنات د هر توکي وينا ده؛ هغه راته وايي چي زما پنځوونکی، پالونکی او ساتونکی له هر عيب او نقص منزه او د هري ستايني وړ دئ؛ دا مشهود او ستا تر سترګو لاندي عالم او په هغه کي دا بې‌شمېره توکي تا دغه حقيقت ته هدايت کوي او په دغه اعتراف دي مجبوروي، دا هري خوا ته تر سترګو کېدونکې ښکلا او ښايست، کمال او جمال، نظم او دقت او دا چي ګورئ هر څه سم او د خاص مقصد لپاره پيدا شوي، سمه پالنه او روزنه ئې کېږي، دا ټول په دې شهادت ورکوي چي د دې عالمونو (رب) د ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه او پاك دئ.

د دې پراخ او ستر عالم دا بې‌شمېره توکي چي هر يو ئې په ډېر دقت او ظرافت سره، په ډېره غوره او ښايسته بڼه کي پيدا شوی، هر يو ئې د يوه

مشخص هدف او ځانګړې غايې د تحقق لپاره په کار ګمارل شوی، چې په منظم او پرله پسې توګه او په کامل انهماك سره په خپل خاص کار او د خپل ځانګړي مأموريت په ترسره کولو کې شپه ورځ لګيا دي، په خپله او په خپل وجود سره ئې هم يوه تشه ډکه کړې او په هغه څه هم چې د ده په کار او هلو ځلو مرتب کېږي هم يوه تشه ډکوي او يوې اړتيا ته ځواب وايي. په ټول خور وور عالم کې؛ خوشی، بې‌هدفه، له اړتيا زيات او له ضرورت کم څه نه شو موندلی، هغه ذات چې دا بې‌انتهاء پراخ عالم ئې له ټولو دغو ښکلاوو، ښېګڼو او له دې ژور او دقيق نظم سره پيدا کړی، د عالم پالنه او روزنه ئې په واك کې ده، هره ذره ئې ساتي او پالي، رشد ورکوي، کمال ته ئې رسوي، د کمال په لوري د تګ توفيق ورکوي او له مخکې ټاکل شوې نتائج پرې مرتب کوي؛ بې‌له شکه چې دا ذات د ټولو ښېګڼو واجد او د ټولو ستاينو وړ دئ.

دغه ذات؛ الله دئ او ټولې ستايني همدغه د عالمونو پالونکي او ساتونکي الله ته دي؛ همغه چې زه په دې خور عالم کې هري خوا ته، د ده د ربوبيت، پالني او روزني څرګند مظاهر او نښې ګورم، د دې عالم هري خوا ته چې مخ واړوم، ګورم چې هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلې ارتقاء او کمال آخري پوړ ته ورسول شي، يو ضروري او لازم کار پرې ترسره شي، يو ضرورت پرې رفع کړی شي، يوه خلاء او تشه پرې ډکه کړی شي، بيا ئې زوال پيل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل نوي توکي ته خالي کړی شي. دا کار هره شېبه، هري خوا ته تکرارېږي، د دې مظاهرو تر شا؛ ما ته د ربوبيت او پالني يو نامرئي او ناڅرګند لاس په نظر راځي، همغه زما الله دئ او همغه د دې عالم الله دئ.

زه نه يوازې په دې عالم کې د روزني او پالني يو نامرئي لاس احساسوم، بلکې ګورم چې د هر څه پيدايښت، پالنه، روزنه او ساتنه په ډېر دقت سره ترسره کېږي، د دې عالم په هر جزء او د هرجزء په حرکت او خوځښت کې زه ښايست، ښکلا، کمال او هدفوالی ګورم؛ خوشی، بې‌مقصده، اضافي او غيرضروري شی مې په نظر نه راځي. زما هري خوا ته خواره شيان، هر يو بېل بېل هم او ټول په ګډه هم، د خاصو مقاصدو لپاره پيدا شوي او په کار لګيا دي، د ټولو تر منځ د نظم، يووالي او ژور تنسيق شاهد يم. د دې عالم همدا ملموس او مشهود کيفيت، زما په ژبه د دې الفاظو د جاري کېدو باعث

دئ چي: ټولي ستايني د عالمونو رب الله ته دي. موږ د دې خور عالم په پراخي غېږ کې داسي شی نه شو موندلی چي پيدايښت ئې بې‌مقصده او بې‌هدفه وي، داسي شی نه شو په ګوته کولی چي ځای ئې خالي وي، په دې ستري ماڼۍ کې زه نه د کومي خښتي ناسم اېښودل ګورم او نه تش ځای؛ بلکې ګورم هره خښته په داسي مناسب ځای کې اېښودل شوې چي هم ئې دې ماڼۍ ته ښکلا ورکړې او هم ئې بشپړوالی او مضبوط والی تأمين کړی؛ هر څه ښه پيدا شوي او د واضح هدف او مقصد لپاره پيدا شوي، په پيدايښت کې ئې د يوه عليم او حکيم خالق او صانع د "علم"، "حکمت" او "قدرت" څرګند آثار ګورم.

د دې عالم هر څه د الله په شتون شهادت ورکوي، پر الله له ايمان پرته نه د دې ستر او خور عالم عظمت او په ډېر دقت سره د هغه ساتنه او پالنه تعبيرولی شو او نه ئې نظم، ښايست او هدفوالی تفسيرولی شو. دلته موږ د "ربوبيت" او پالني آثار ګورو چي د "رب" او "پالونکي" په شتون شهادت ورکوي، ګورو چي هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو وده کوي، پالنه او روزنه ئې ترسره کېږي، اړتياوو ته ئې ځواب ويل کېږي، د خپلي ودي او تکامل آخري پوړ ته ورسېږي، په هغه سره يوه خلاء ډکه شي، يو ضرورت رفع شي، د خپل مأموريت په پای کې د هغه زوال پيل شي، د ضعف او ناتوانۍ په لوري وخوځېږي، په زړښت محکوم شي او عمر ئې پای ته ورسېږي، له منځه ولاړ شي، خپل ځای نوي ځوان توکي ته پرېږدي، زموږ عقل د دې بهير تر شا د يوه داسي پالونکي ذات؛ د قدرت لاس احساسوي چي د هر څه پالنه او روزنه د ده له لوري ترسره کېږي.

که تاسو ټول قرآن په دقت سره ولولئ نو وبه ګورئ چي په ځای ځای کې او په ګڼ شمېر آيتونو کې د الله د اثبات لپاره، د فاتحې د سورې د دغه آيت په څېر، استدلال شوی او ويل شوي: دا زمکه، آسمان چا پيدا کړي؟ د دې لمر، سپوږمۍ ختل او پرېوتل د چا په اراده ترسره کېږي؟ دا له آسمان باران څوك وروي او له زمکي دانه او مېوه څوك راباسي؟ دا د مرګ، ژوند پرېکړه څوك کوي؟ دا مړه خاوره د چا په حکم په ژوندي توکي بدلېږي؟ او دې ته ورته په سلګونو نور دلائل.

د فاتحې سورې په لومړيو دريو آيتونو کې د الله تعالی درې نومونه ذکر

شوي: رب العالمين، الرحمن الرحيم او مالك يوم الدين؛ كه په قرآن كې غور وكړئ وبه ګورئ چې په دغو دريو نومونو كې د الله تعالى ټول نومونه راخلاصه شوي. كه د الله تعالى هغه مبارك نومونه چې په قرآن او احاديثو كې راغلي دي، د فاتحې د سورې د دريو لومړنيو آيتونو په رڼا كې وڅېړئ دا به په آسانۍ درته جوته شي چې د فاتحې سوره نه يوازي د قرآن اساس او خلاصه ده، بلكې د الله تعالى د نومونو خلاصه هم د همدې سورې په دريو لومړنيو آيتونو كې راغلې ده.

دا درې آيتونه نه يوازي د الله تعالى د ټولو نومونو او صفاتو خلاصه بيانوي؛ بلكې د هغو دلائلو خلاصه هم وړاندې كوي چې قرآن ئې د الله تعالى د شتون د اثبات لپاره د انسان مخې ته ږدي. په لومړي آيت كې ويل شوي چې الله همغه دئ چې په دې عالم كې ئې د ربوبيت، پالنې او روزنې نښې ګورو، همغه چې د عالم هر څه په دې شهادت وركوي چې دى له هر عيب او نقص منزه او د ټولو ستاينو وړ دئ. د عالمونو رب او پالونكى له هغه الله پرته بل څوك نه شي كېدى چې د عالم ذره ذره دا شهادت وركوي چې هغه د ټولو ستاينو وړ دئ.

د دې پراخ او ستر عالم دا بې‌شمېره توكې؛ چې هر يو ئې په ډېر دقت او ظرافت سره، په ډېره غوره او ښايسته بڼه كې پيدا شوى، هر يو ئې د يوه مشخص هدف او ځانګړې غايې د تحقق لپاره په كار ګمارل شوى، چې په منظم او پرله پسې توګه او په كامل انهماك سره په خپل خاص كار او د خپل ځانګړي مأموريت په ترسره كولو كې شپه ورځ لګيا دي، په خپله او په خپل وجود سره ئې هم يوه تشه ډكه كړې او په هغه څه هم چې د ده په كار او هلو ځلو مرتب كېږي هم يوه تشه ډكوي او يوې اړتيا ته ځواب وايي. په ټول خور وور عالم كې، خوشې، بې‌هدفه، له اړتياوو زيات او له ضرورت كم څه نه شئ موندلى، هغه ذات چې دا بې‌انتهاء پراخ عالم ئې له ټولو دغو ښكلاوو او ښېګڼو او له دې ژور او دقيق نظم سره پيدا كړى، د عالم پالنه او روزنه ئې په واك كې ده، هره ذره ئې ساتي او پالي، رشد وركوي، كمال ته ئې رسوي، د كمال په لوري د خوځېدو توفيق وركوي او له مخكې ټاكل شوې نتيجې پرې مرتب كوي، بې‌له شكه چې دا ذات د ټولو ښېګڼو واجد او د ټولو ستاينو وړ دئ.

په دوهم آيت کې ويل شوي: د ستاينو وړ الله همغه ذات دئ چې د رحمت او پېرزويني نښې او مظاهر ئې د دې پراخ عالم په هر گوټ کې خواره دي. په دې عالم کې د رحمت او پېرزويني خورې نښې؛ د رحمن خدای د شتون شهادت ورکوي؛ همغه ډېر ډېر مهربان او د ډېري پېرزويني خاوند الله، همغه چې ته ئې په دې عالم کې د رحمت او پېرزويني ځرگندي نښې او واضح مظاهر گورې: ماشوم لا دنيا ته نه وي راغلی او د خپلې مور په گېډې کې وي خو د ده ټول حياتي ضروريات، د خوندورو شيدو په بڼه کې د مور په تي کې؛ مخکې له مخکې ورته تيار کړی شوي وي؛ او د مور، پلار په زړه کې ئې هومره مينه ورته ځای پرځای شوې وي چې د ده لپاره هر کړاو زغمي!! هغه ماشوم ته د ده تر احتياج د مخه؛ څوك روزي برابروي؟ د ده د مور، پلار په زړه کې دا مينه چا اچولې؟ چا د ده څېره، حرکات او غږ داسې جوړ کړي چې نه يوازې د مور پلار بلکې د هر چا مينه پرې راځي او دا هغه څه دي چې هر ماشوم ورته تر هر څه زيات ضرورت لري! دا څوك دئ چې د انسان، حيوان او نبات هر ضرورت ته ځواب وايي؟ د رڼا، تودوخې، اوبو او هوا انتظام ورته کوي؟

موږ په دې عالم کې د "رحمت" او " پېرزويني" ځرگندي نښې گورو او د نښو تر شا د داسې ذات نامرئي لاسونه چې په پوره زړه سوي او خواخوږۍ د هر څه پالنه او روزنه کوي. "انسان" لا د زمکې پر سر قدم نه وو ايښی چې د زمکې په غېږ کې ئې هر هغه څه پيدا کړي وو چې انسان ورته ضرورت لري، ټولو اړتياوو ته ئې ځواب وايي، دا کار څوك کوي، د چا په اراده د راتلونکو پېښو لپاره تياری نيول شوی، کوم مهربان ذات د انسان اړتياوي په پام کې نيولې او د ده له پيدايښت مخکې ئې د زمکې په غېږ کې هم او د مهرباني مور په غېږ کې هم هر ضروري توکی ورته تعبيه کړی؟ کله چې انسان، حيوان او نبات باران ته اړ شي؛ دا څوك دئ چې د هغه په اراده باران ورېږي، کله چې رڼا او حرارت ته اړ شي دا څوك دئ چې لمر ئې ورته پيداکړی چې د دوی مېشت ځای روڼ او تود کړي، چا په دوی کې د هري بيمارۍ او د هر ميکروب د مقابلې استعداد ايښی؟!

په درېيم آيت کې د واکمنۍ، ادارې، نظم او ضبط هغه مظاهر چې په دې عالم کې هري خوا ته په نظر راځي، د واکمن او مالك خدای د شتون دليل

ګڼل شوی. ته په دې عالم کې د يوه داسي ټولواك ذات د واکمنۍ آثار په ښکاره ډول ګورې چې د هر څه ساتنه کوي، هر څه د ده په وړاندې منقاد دي؛ د هر څه د پیدایښت، خوځښت، کمال او زوال لپاره ئې خاص مسیر او حد ټاکلی، له یوې ذرې انحراف او تغییر پرته په همغه مسیر کې درومي. ګمر په خپل وخت، هره ورځ، له خاص ځایه راپورته کېږي، زمکې ته رڼا او تودوخه ورکوي او بیا په ثابت وخت کې په ثابت ځای کې پرېوځي.

د آسمان په دې پراخي او بې‌انتهاء غېږ کې په ملیونونو ملیونونو ستوري، هر يو په خپل مدار کې خوځېږي، د دوی تر منځ د ټکر او تصادم مخنیوی کېږي، نه يو د بل په مدار کې داخلېږي او نه يو بل جذبوي. همغه ذات چې دا هر څه ده ته منقاد دي او د ده له حکم سره سم په ټاکلي مسیر کې خوځېږي، همغه د عالمونو مالك الملك الله دئ. په دې عالم کې د رب العالمین د واکمنۍ آثار څرګند دي، هر څه په خپل خپل ځای کې ساتي، هر څه ته ئې خپل مسیر ټاکلی او همغه چار او ناچار؛ که وغواړي که ونه غواړي؛ په همغه مسیر کې درومي.

که د الله د اثبات لپاره د قرآن دلائلو ته ځیر شو؛ وبه ګورو چې د قرآن ټول دلائل په همدغو پورتنیو دریو برخو کې راخلاصه شوي. عموماً د قرآن اسلوب په دې اړه داسي دئ:

إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَأَيَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٠﴾ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾ آل عمران

یقیناً چې د آسمانونو او زمکې په پیدایښت کې او د شپې ورځې په تلو راتلو کې؛ عقلمنو ته ډېرې نښې دي. همغه چې الله په ولاړه، ناسته او په خپل اړخ ملاسته یادوي او د آسمانونو او زمکې په پیدایښت کې فکر کوي؛ چې اې زموږ ربه! دا دې خوشې نه دي پیدا کړي، پاکې تا ته ده؛ موږ د اور له عذاب وساته.

زموږ وینا همدا ده او د دې کتاب خلاصه همدا. حکمتیار

## د کائنات پيدايښت

## قرآن څه ويلي او ساينس څه وايي؟

ځيني داسي گمان کوي چي دا کائنات به له لومړۍ ورځي داسي پيدا شوی وي لکه چي همدا اوس ئې گورو، کمونيستانو ويل: ماده ازلي او ابدي ده، نه پيدا شوې او نه له منځه ځي، تر دوی وړاندي نورو ملحدينو ويلي وو: عالم يوه تلپاتې لمبه ده.

د بدلون او تغيير له اصل سره د ډېرو جوړه نه وي، نه تر نن وړاندي بدلون مني او نه تر نن وروسته، ځينو ته موجود حالت ښه برېښي، دوام ئې خوښوي او دائمي ئې گڼي، ځينو ته هر څه ثابت، دائمي او تغيير نه منونکي برېښي. خو د علمي څېړنو په ترڅ کې جوته شوې چي د عالم اوسنی جوړښت د ډېرو سترو تغييراتو او بدلونونو نتيجه ده، نه زمکه وه او نه نور ستوري او ستورليکي؛ نه زمکه په پيل کې دغسي وه، نه لمر او نه د آسمان نور ستوري، نه ماده وه او نه ئې عناصر او مرکبات، د عالم هر څه په بېلو بېلو مراحلو کې او د جلا جلا تحولاتو په ترڅ کې پيدا شوي. دا زمکه، سپوږمۍ او ځيني ستوري چي نن ئې د جامدو کتلو په توگه گورو يو مهال نه ول، بيا پلاسما (د گاز په څېر غونډاري) وو، بيا عناصر او مرکبات په کې جوړ شوي او له اوږدې مودې او ډېرو تغييراتو وروسته ئې اوسنی حالت غوره کړی، د لمر په شمول په گڼ شمېر ستورو کې همدا اوس دغه لړۍ روانه ده. څېړني وايي چي د دې عالم عمر نژدې ۱۳,۸ مليارد کاله دئ، د لمر عمر ٤,٧ ملیارده کاله؛ لمر به نژدې پنځه مليارده کاله نور دغه ځلانده حالت حفظ کړی شي، بيا به ئې د سوند توکي ختم شي او خپله ځلا او تودوخه به له لاسه ورکړي. د دې خبري معنی دا ده چي زموږ دغه لمر د عالم له پيدايښت نژدې ۹،۱ مليارده کاله وروسته پيدا شوی!!

په ۲۱ مي پېړۍ کې انسان وتوانېدو د فضاء په زړه کې تر ډېر لري واټن

ولاړ شي، ډېر مجهز ټلسکوپونه (لري ځارونکي) د فضاء په لوړو کې مستقر کړي او د کائنات د جوړښت په اړه پراخ او په زړه پورې نوې معلومات تر لاسه کړي. وروستی او تر ټولو ستر او مجهز ټلسکوپ ئې جیمز ویب دئ چې په جوړښت، انتقال او استقرار ئې نژدې لس ملیارد ډالر لګښت راغلی؛ جیمز ویب وتوانېدو ډېر دقیق او روښانه انځورونه ثبت او زمکې ته راولېږي، په لومړي ځل ئې داسې ستورلیکې ومونډو چې د بیګ بنګ له چاودنې تقریباً ٤٠٠ ملیون کال وروسته زېږېدلی. د دې ټلسکوپ یو مأموریت دا دئ چې د بیګ بنګ په اړه مزید تحقیقات وکړي.

نن ستورپېژاندي د کائنات د پیدایښت او څرنګوالي په اړه په ډېرو قضایاوو کې متفق دي؛ او مخکیني اختلافي نظریات یا توحید شوي او د علمي حقائقو بڼه ئې غوره کړې او یا تصحیح شوي.

غواړم ځیني هغه حقائق د لوستونکو مخې ته کښېږدم چې په قرآن کې هم ورته اشاره شوې:

١- ټول مني چې دا خور او ستر کائنات؛ یو مهال په بشپړه توګه سره وصل او یوه وړه کتله او غونډاری وو. له همدې لومړنۍ منشأ او د یوې سترې چاودنې له امله؛ دا ټول کائنات زېږېدلی. یعنې د کائنات د پیدایښت منشأ هم یوه ده، د زېږېدو نېټه او طریقه ئې هم یوه؛ نو خالق ئې هم یو.

٢- پر دې هم متفق دي چې کائنات د پیدایښت له نېټې بیا تر ننه په سریع توګه پراخېږي، ستورلیکې په منظمه او مستمره توګه یو له بل لرې کېږي او د هر ستورلیکې ستوري یو له بل.

٣- اوسنی عالَم په شپږو تکویني مراحلو او ١٣,٨ ملیارد کالونو کې اوسني حالت ته رسېدلی.

٤- د فضاء هر ووړ او لوی ستوری او ستورلیکی؛ د منظم حرکت په حال کې دئ؛ په ټول کائنات کې ساکن او ولاړ جرم نه مونډل کېږي.

٥- کائنات مسطح دئ نه ګرد او مدور؛ ستوري ئې په استثناء د هغو سترو سترو کمرونو چې له نورو ستورو رابېل شوي؛ او د نوي ستوري پر محور څرخي؛ ټول ګرد دي؛ د زمکې په شمول؛ خو ستورلیکې په مجموع کې په مسطح بڼه تنظیم شوي؛ که څه هم ځیني ادعاء کوي چې بیضوي ډوله (هګۍ ته ورته) ستورلیکې هم شته!! په غالب احتمال؛ دا به هغه ستورلیکې


وي چي اصلاً مسطح دي خو منځنۍ برخه ئې د ستر مرکز او لويو ستورو د شتون له امله؛ له يوه اړخ داسي بريښي لکه چي بيضوي وي. په هر صورت که د دوو ستورليکو تر منځ د تصادم له امله داسي ستورليکي جوړ شوي وي چي يا نامنظم جوړښت لري يا بيضوي ډوله؛ د دغو ستورليکو شتون؛ د ټول کائنات د مسطح والي نفي نه کوي؛ ښايي دا انځورونه مطلب توضيح کړی شي:







شش پیدایش کائنات (مدل دیسکی مسطح)
د کائنات د پیدایښ شپږ مرحلې
(د مسطح دیسکی ماډل)
1. مرحله نخست
کوچک‌ترین قطر؛
بیشترین تراکم ستاره‌ها
و ماده.
1. لومړی مرحله
تر ټولو کوچنی قطر؛
ترینکښتیا
د ستورو ډېره کثافته
او ماده.
قطر: تر ټولو کوچنی
2. مرحله دوم
قطر بزرگ‌تر از مرحله اول؛
تراکم ستاره‌ها
کمتر شده است.
2. دوهمه مرحله
قطر له لومړۍ مرحلې
غوټ؛ د ستورو
تراکم لږ تر لږه کم.
قطر: کوچنی
3. مرحله سوم
قطر بزرگ‌تر؛
تراکم ستاره‌ها بسیار
کمتر از قبل.
3. دریېمه مرحله
قطر نور هم لوی؛
د ستورو تراکم د مخکنیو
مرحلو په پرتله
ډېر کم.
قطر: متوسط
4. مرحله چهارم
قطر بسیار بزرگ‌تر؛
تراکم ستاره‌ها کم؛
و ساختارها (کهکشان‌ها،
خوشه‌های ستاره‌ای)
پدیدار می‌شوند.
4. خلورمه مرحله
قطر ډېر لوی؛
د ستورو تراکم کم؛
ساختارونه (کهکشانیان،
ستوري دلې) ښکاره کېږي.
قطر: ډېر لوی
5. مرحله پنجم
قطر بسیار، بسیار بزرگ؛
تراکم ستاره‌ها کم است؛
و فواصل بین آن‌ها
بسیار زیاد است.
5. پنځمه مرحله
قطر ډېر، ډېر لوی؛
تراکم ستاره‌ها کم دی؛
او فواصل د ستورو
تر منځ ډېر زیات.
قطر: ډېر، ډېر لوی
6. مرحله ششم
بزرگ‌ترین قطر؛
کمترین تراکم ستاره‌ها
و ما که بسیار پراکنده
و نادر است.
6. شپږمه مرحله
تر ټولو لوی قطر؛
ترینکښتیا ستورو خورا
کمه؛ ماده ډېر پراخه
او نادره.
قطر: تر ټولو لوی
توجه:
در این مدل، کیهان به شکل دیسکی مسطح فرض شده است.
از مرحله نخست تا ششم، قطر، بزرگ‌تر می‌شود
و تراکم ستاره‌ها کاهش می‌یابد.
یادونه:
په دی ماډل کی کائنات مسطح دیسکی بنه لري.
له لومړی تر شپږمې مرحلې پورې قطر لوییږي
او د ستورو تراکم کمیږي.




دا د ټول کاینات تخمیني او اټکلي انځور دئ؛ د لومړني ووړ قرص منځنۍ رڼا د ستري چاودني (Big Bang) نښه ده، ورپسې درېبعدي قرصونه چې اوږدوالی، پلنوالی او ضخامت لري؛ هره دائره د کاینات د ودي او تکامل یوه مرحله ښيي. لکه څنګه چې په انځور کي ښکاري؛ کړۍ په تدریجي ډول پراخېږي او قطرونه ئې زیاتېږي؛ او په هغوی کي د ستورو تراکم کمېږي او د کاینات پراخوالی زیاتېږي.

تر ټولو وروستۍ ستره کړۍ؛ د کاینات اوسنی حالت ښيي؛ چي په هغې کي تراکم په څرګند ډول ډېر کم شوی؛ یعني ستورلیکي یو بل له بل ډېر لري شوي دي.

د کائنات په اړه دا ستر، مهم او رغنده انکشافات او پر همدې د ستور پېژاندو توافق؛ د دې پېړۍ ستري علمي لاسته راوړني دي؛ راشئ وګورو چي قرآن؛ د کائنات د پیدایښت څرنګوالي، لومړني او اوسني جوړښت په اړه؛ بحثونه او لارښووني لري که نه؟ که ئې لري نو آیا په دې اړه د ساینس علمی اکتشافات له قرآن سره په مطابقت کې دي که مغایرت کې؟ ومي غوښتل په دې لیکني که د دې مبحث ټول مهم او مطرح قضایا وڅېړم؛ هڅه کوم چي د دغو او ځینو نورو اړوند مهمو مواردو په ارتباط؛ د قرآن څرګند آیتونه ستاسو مخي ته کښېږدم او بیا قضاوت تاسو ته پرېږدم.

## قرآن او د عالم پیدایښت

### ۱- قرآن او د زمکې او آسمانونو هممهاله پیدایښت

قرآن د کائنات د پیدایښت په اړه داسې جامع او دقیقه وینا او لارښوونه لري چې تړاو ئې د ۲۱ مې پېړۍ؛ تر ټولو سترې او مهمې علمي قضیې پورې دئ؛ هغه قضیه چې ساینس او ساینسپوهان پرې اجماع او اتفاق ته رسېدلي؛ هلته چې فرمايي:

أَوَ لَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ الانبياء

آیا کافران په دې نه دي پوه شوي چې آسمانونه او زمکه سره (نښتي) وو، نو موږ سره (بېل) کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پیدا کړی، نو آیا ایمان نه راوړي؟!

د دې مبارك آیت څرګندې او مهمې لارښوونې دا دي:

• آیت په ډېر صراحت او وضاحت سره وايي چې په سر کې ټول کائنات، زمکه، لمر او د آسمان ټول اجرام؛ یوه مجموعه یا کتله وه او الله تعالی په یوې چاودنې سره دوی بېل بېل کړل او اوسنۍ بڼه ئې ورکړه. د (رتق) معنی پیوستون او یو له بل سره نښتل دي او د (فتق) معنی بېلتون او جلا کېدا ده، یعنې د عالم هر څه که دا په آسمانونو کې دي او که په زمکې کې؛ ټول سره پیوست او نښتي ول او الله تعالی سره جلا جلا او بېل بېل کړل.

دا د عالم یو تخمیني انځور دئ؛ د انځور په پورتنې ډیسك منځ کې چې تاسو څه ګورئ؛ دا د بیګ بنګ انفجار تمثیلوي؛ ورپسې چې کومې درې بعدي (طول، عرض او ضخامت لرونکې) دائروي اشکال ګورئ؛ هره دائره د کائنات د یوه پړاو انځور ښيي، لکه چې ګورئ دائرې ورو ورو پراخې شوې او قطر ئې زیات شوی؛ او په هغې کې د ستورو تراکم هم کم او د کائنات ساحه مزید پراخه شوې، آخري بهرنۍ دائره د کائنات اوسنی حالت تمثیلوي؛

په دې کې تراکم ډېر لږ شوی یعني ستورلیکي یو له بل لرې شوي.




د ټولو ژوو د پیدایښت لومړی او اساسي ماده اوبه دي؛ الله تعالی ټول ژوي له اوبو پیدا کړي. نو په زمکې کې به اوبه تر ټولو ژوو؛ له وایرس او بکتریا تر فیل او ډایناسور پوري؛ وړاندې پیدا شوې وي.

• د ایمان راوړو لپاره دغه دوه دلائل کافي دي؛ آیا د دغو دوو څرګندو دلائلو له لیدو او اورېدو سره سره کافران ایمان نه راوړي؟! (افلا یؤمنون؟!)

که څوك په شفاف ذهن سره دې آیت ته ځیر شي نو له الفاظو ئې څو نتائج تر لاسه کوي:

• په سر کې به د آسمان ټول اجرام؛ د لمر په څېر رانه ستوري، بې‌رڼا څلانده ستوري لکه عطارد، زهره، زمکه او نور؛ ټول سره نښتي وو، د بېلېدو پر مهال به ټول؛ په لږ یا ډېره پیمانه؛ داسي څلانده او تاوده ول لکه لمر؛ ځینو به ورو ورو خپله رڼا او تودوخه له لاسه ورکړې وي!! زموږ شمسي نظام ( Solar System) چي یو لمر (رڼا لرونکی ستر ستوری) او اته (بې رڼا ځلېدونکي) ستوري او ٤٣٣ سپوږمۍ لري چي تفصیل ئې داسي دئ: عطارد او زهره چي هیڅ سپوږمۍ نه لري، زمکه: ١ سپوږمۍ، مریخ: ٢، مشتري: ١٠١، زحل: ٢٨٥، اورانوس: ٢٨ او نپتون: ١٦؛ لمر د ټولو مرکز دئ، دا اته ستوري سره له خپلو سپوږمیو د لمر پر محور راڅرخي، د لمر د کتلې حجم د ټول شمسي نظام د ټولو اړوند اجرامو د مجموعي حجم ٩٩,٨٪ سلنه جوړوي او نور ټول اجرام په ګډه نژدې ٠,٢٪.

• نو حتماً به زموږ زمکه له نورو د رابېلېدو په وخت کې د لمر په څېر ګرمه او سره وه، دا ځکه چي د دواړو منشأ یوه ده، یو ځای وو او په یوه وخت کې سره بېل شوي. لمر چي ستر دئ خپل حرارت ئې تر ننه حفظ کړی، خو زمکه چي تر لمر ډېره وړه ده؛ ورو ورو سړه شوې، سر ئې سوړ او زړه ئې لا تر اوسه تود او سخت ګرم پاته شوی، هومره تود چي هر څه په کې ویلي دي، د قرآن په اصطلاح هر څه په کې (نحاس: ویلي) دي؛ نحاس هم د مس په معنی کارول کېږي او هم د ویلي شوي مس په معنی؛ دلته ترې مراد (ویلي توکي) دي. او دا هغه څه دي چي هم ئې زموږ عقل راته وایي او هم ئې ساینس د تجربو او مشاهداتو له مخي وایي. د زمکي پر سر هره ورځ د داسي صحنو شاهد یو چي دلته او هلته د زمکي له زړه دغه نحاس او ویلي تاوده او داغ مواد راوځي، بهېږي او د اور د سکروټو په څېر شیندل کېږي او موږ د زمکي د زړه له تودوخي خبروي، تحقیقات ښیي چي د زمکي د زړه (هستې) تودوخه د سانتي ګرېډ په حساب شاوخوا ٥٥٠٠ درجې ده.

• د دې وینا بله طبیعي نتیجه دا ده چي د زمکي بهرنۍ قشر به له سړېدو وروسته د ډبري په څېر کلك وو، داسي لکه د اورشیندو په ترڅ کې چي د زمکي د زړه ویلي مواد راوځي او د زمکي پر سر له بهېدو وروسته کلکه ډبره ترې جوړېږي؛ د زمکي دا ډبرین پوستکی به ورو ورو په خاوري بدل شوی وي، دا هم هغه څه دي چي زموږ عقل ئې راته وایي او د ساینسي څېړنو په

ترڅ کې ثابت شوي، د ځمکې اصلي برنۍ پوستکۍ ډېرین دئ، دا پوستکی په ځینو برخو کې په ډېري خاوري او په ځینو کې په لږ خاوري پوښل شوی، دغه پوستکې د ځمکې د زړه ویلي او تاوده توکي داسي په خپلې غېږ کې راتم کړي لکه د بخار په دیګ کې خوټېدونکې مواد. د ځمکې پر سر اورشیندي هغه مهال او په هغه سیمه کې راڅرګندېږي چي دا پوستکی وچوي او له چاودونو ئې د ځمکې د زړه ویلي مواد بهر راووځي.

مخکې له دې چي د قرآن دا وینا وڅېړو باید ووایو چي دا کومه عادي او معمولي خبره نه ده، د دې خبرې په ارزښت او اهمیت هغه څوك ښه پوهېږي چي د عالم د پیدایښت په اړه ئې ژور علمي تحقیقات او څېړني کړې، د ډېرو فزیکپوهانو او ساینسپوهانو نظریات او تحلیلونه ئې لوستلي، تجربې ئې کړې او له کلونو کلونو تحقیق وروسته دغي نتیجې ته رسېدلی چي د قرآن په پورتني آیت کې ورته اشاره شوې، که تاسو د قرآن دغه آیت د همداسي کوم ساینسپوه مخي ته کښېږدئ او ورته ووایئ: زموږ په دغه دیني کتاب کې څوارلس پېړۍ مخکې لیکل شوي چي آسمانونه او ځمکه سره نښتي او پیوست ول او الله تعالی سره بېل کړي؛ نو یقیناً چي هغه به یا اعتراف کوي چي دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ، انسان نشو کولی چي له دې پېړۍ وړاندي د عالم د پیدایښت په اړه داسي علمي او دقیقه وینا وکړي؛ یا خو به دا خبره هغه ته لږ تر لږه دومره حیرانوونکې وي چي د څه ویلو توان به ترې سلب کړي.

## ۲- د بیګ بنګ له چاودني وروسته د عالم لومړنی حالت

نن فزیکپوهان وایي: له بیګ بنګ وروسته تر هغه چي خوره انرژي متراکم کېدله، د الکټرون، پروټون او نیوټرون په بڼې کې؛ او بیا لومړی د سپکو عناصرو اتومونه او بیا ورو ورو د درنو عناصرو اتومونه جوړېدل او د مرکباتو مالیکولونه رامنځته کېدل؛ او په دې توګه ستورو مادي هیئت موندلو؛ عالم داسي حالت درلود چي ډېر لطیف او غیر مجسم وو؛ چي دوی ئې د پلاسما په نامه یادوي او قرآن همدا حالت د دخان (لوګي) په نامه یاد کړی؛ اړوند آیت ئې دا دئ:

ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾ فصلت

بیا ئې د آسمان لوري ته توجه وکړه په داسي حال کې چي هغه لوگی وو، نو هغه او زمکي ته ئې وویل: په خپله خوښه یا په نه زړه راوړاندي شئ، وئې ویل: په خپله خوښه او مطیع راغلو.

په دې آیت کې همدې مهم مطلب ته اشاره شوې چي عالم په پیل کې دخان (لوگي او گاز) ته ورته حالت درلود؛ دا باید په پام کې ولرو چي د انسان فرهنگ او د ژبي قاموس ئې ډېر محدود دئ او یوازي د هغو شیانو لپاره نومونه لري چي ده لیدلي او پېژندلي؛ د هغو لپاره هیڅ نوم نه لري چي لا ئې نه دي لیدلي، په دود او گاز سره د عالم د هغه لطیف او رقیق حالت حقیقي کیفیت نه شو بیانولی، ځکه چي دود ماده ده او پلاسما تر مادې وړاندي هغه رقیق حالت ته وایي چي لا اتوم او د اتوم اجزاء هم نه وو پیدا شوي؛ قرآن د پلاسما د معرفي لپاره ځکه د (دخان: دود) صیغه کارولې چي د انسان په قاموس کې تر دې غوره لفظ نه وو. د قرآن او ساینس تر منځ؛ دا همغږي او توافق؛ یقیناً چي ډېر مهم، ارزښتمن او هیښوونکی دئ.

## ٣- د عالم سریع پراخېدا

قرآن په ډېر صراحت او وضاحت سره وایي چي کائنات د الله تعالی د ثابتو سننو مطابق په مستمره توگه پراخېږي؛ دې آیت ته ځیر شئ:

وَٱلسَّمَآءَ بَنَيْنَٰهَا بِأَيْيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾ الذاریات

او آسمان مو په خپلو لاسونو جوړ کړ او مونږ (ئې) پراخوونکي یو.

دا مبارك آیت د قرآن یو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندي ږدي او وایي: الله تعالی دا آسمان جوړ کړ او هغه ئې پراخوونکی دئ، یعني په پر له پسې او مسلسله توگه پراخوالی ورکوي!! او دا همغه څه دي چي موږ ئې د عالم په مخکیني تخمیني انځور کې گورو؛ او اوسنی عالم تر ټولو مخکینیو مرحلو پراخ مومو.

د انځور په برني ډیسك کې سپینه وړه دائره گورئ؛ د دې مرکز کې د بیگ

بنګ چاودنه انځور شوې، همدا منځنۍ دائره د ټول عالم د لومړنۍ پراخوالي اندازه زموږ مخې ته ایښې ده او پنځه نوري دائرې د کائنات تدریجي خو سریع پراخېدا تمثیلوي او وروستۍ شپږمه تر ټولو ستره دائره؛ د عالم اوسنۍ حالت تمثیلوي.

ساینس وایي چې دا عالم د پیدایښت له لومړنۍ چاودنې وروسته تر نن پورې په سریع او مسلسله توګه پراخېږي، ستورلیکې په خپلو منځونو کې او د هر ستورلیکې ستورې یو له بل لرې کېږي او په دې توګه د عالم لمن پراخېږي، وایي: ځینې ستورې زموږ له زمکې په دومره سرعت سره لرې کېږي چې نور ئې تر موږ نه رارسېږي. یعنې د لرې کېدو سرعت ئې د نور تر سرعت زیات دئ!! او دا همغه خبره ده چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې کړې وه او علم نن د شلمې پېړۍ په پای کې پرې پوه شو! هر باانصافه عالم او هر د شعور خاوند به په دې اعتراف کوي چې دا یو ستر علمي اعجاز دئ.

دې ته مو هم باید پام وي چې دا نظریه ځینې لوازم لري او موږ دې ته اړ کوي چې په ځینو داسې خبرو باور وکړو چې بنسټ ئې همدا نظریه ده:
۱- یوه ئې دا چې یو مهال به د عالم د اجرامو تر منځ موجود واټن ورو ورو دومره زیات شي او داسې پړاو ته به ورسېږي چې د دوی تر منځ جاذبه به کمزورې شي او دا به د دوی په بېلېدو او جلا کېدو منتج شي؛ او دا همغه حالت دئ چې قرآن ئې د قیامت په نامه یادوي او وایي چې ستورې به توی شي، د جاذبې هغه ځواك به کمزوری او له منځه ولاړ شي چې دا ستورې ئې په خپل خپل مدار کې ساتلي او د شلېدو او پرېوتو مخه ئې نیولې.
۲- د دې نظرېې بله تقاضی او نتیجه دا ده چې که موږ هر څومره له نن شا ته درومو نو عالم به تر نن ووړ او محدود مومو. محققین او د ژور علمي نظر خاوندان او څېړونکې دې حقیقت ته په پام سره چې کائنات په مسلسل او پرله پسې توګه پراخېږي، دې نتیجې ته رسېدلي چې که موږ هر څومره شا ته نظر وکړو او څو ملیونه کاله وړاندې د کائنات حجم معلوم کړو نو دا به راته جوته شي چې هر څومره شا ته درومو د کائنات پراخوالی او حجم به ووړ مومو، په دې شا ته تګ کې به ۱۳ ملیارد کاله مخکې ټول کائنات د یوې وړې کُرې په اندازه او تر هغه مخکې د یوه توپ په اندازه او د بیګ بنګ له هغې سترې چاودنې څو ثانیې وړاندې تر دې هم وړه وموموو. ښایي دا خبره

به ځینو ته ډېره حیرانوونکي او حتی د نه منلو وړ وبرېښي؛ خو حقیقت همدا دئ او د عقل پرېکړه همدا؛ او په کوم څه چي ساینسپوهان توافق لري همدا؛ خو دا چي تر لومړنۍ چاودني وړاندي او وروسته به د کائنات دقیق حجم څومره وو؛ الله تعالی ښه پوهېږي؛ موږ دومره ویلی شو چي انسان لا په دې اړه د څه ویلو توان او ظرفیت نه لري.

قرآن وايي چي د زمکي او آسمان د اوسني نظام له متلاشي کېدو وروسته به نوی آسمان او نوې زمکه پیدا کړی شي، په نوي نظام کي به له یوې خوا زمکه آواره وي او له بلي خوا تر اوسنۍ کچي ډېره پراخه. راشئ د دې مطلب په وړاندي هم لږ توقف وکړو او وگورو چي نننی علم او ساینس په دې اړه څه وايي؟ آیا له اوسني مقداره د زمکي د مزید پراخېدو امکان ردوي او که ئې تأییدوي؟!

ساینسپوهان وايي: که د اتوم د زړه (مرکز) او هغو الکټرونونو تر منځ چي په چاپېر ئې راچورلي؛ موجود او اوسنی واټن لږ زیات کړی شي، نو زموږ د زمکي حجم به له اوسني مقداره په ملیونونو ځله زیات شي او که دا واټن لږ له اوسني مقداره راکم کړو نو حجم به ئې د اوسني حجم ملیونمه برخه شي. په اتوم کي د الکټرون او پروټون تر منځ اوسنی واټن د پروټون او الکټرون تر منځ د برېښنایي مقناطیسي ځواك له امله دئ؛ پروټون مثبت او الکټرون منفي چارج لري، د دغو دواړو ځواکونو تر منځ موجود تناسب په دې منتج شوی چي تر منځ ئې اوسنی واټن وي، په دې ځواك کي تغییر د اتوم په حجم کي د تغییر باعث کېږي؛ او د اتوم په حجم کي معمولي تغییر د اجسامو د حجم د ډېر زیاتوالي او کموالي باعث کېږي؛ خو د واټن دا تغییر؛ د اجسامو اصلي وزن کي هیڅ تغییر نه رامنځته کوي. د اتوم لویه برخه خالي فضا ده؛ که د اتوم هسته (پروټون او نیوټرون) د یوې مڼې په اندازه فرض کړو؛ نو الکټرونونه به ترې په څو کیلومترۍ کي راڅرخېږي. د اتوم د حجم نږدې ۹۹,۹۹۹۹۹۹۹۹۹۹۹۹ % برخه خالي فضاء ده. نو که د دغو ذرو ترمنځ واټن بدل شي، د مادې حجم به په خورا بې‌ساري توگه بدلیږي.

دا هسي خیالي او غیر واقعي خبره نه ده؛ په ستورو کي عملاً د دې بېلگي موندل شوې؛ په طبیعت کي دا پېښه په حقیقت کي د مړو شویو ستورو په زړه کي کېږي، چي موږ ورته نیوټروني ستوري (**Neutron Stars**) وایو؛ هلته

د ستوري حجم خورا کوچنی خو وزن ئې بې‌حده زيات وي. په هر ستوري کې د هغه خاص جوړښت او قواعد دا ټاکې چې د اتوم د ننه د الکترون او پروټون تر منځ واټن څومره وي.

## ٤- په شپږو ورځو (تکويني مراحلو) کې د زمکې جوړښت

ساينس وايي: اوسنی عالم په شپږو تکويني مراحلو او ١٣,٨ مليارد کالونو کې اوسني حالت ته رسېدلی.

قرآن په همدې ارتباط او په مکرره توګه وايي چې الله تعالی زمکه او آسمانونه په شپږو ورځو (تکويني مراحلو) کې جوړ کړي؛ دې آيتونو ته ځير شئ:

قُلۡ أَئِنَّكُمۡ لَتَكۡفُرُونَ بِٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ فِي يَوۡمَيۡنِ وَتَجۡعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩﴾ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ مِن فَوۡقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقۡوَٰتَهَا فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ لِّلسَّآئِلِينَ ﴿١٠﴾ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٞ فَقَالَ لَهَا وَلِلۡأَرۡضِ ٱئۡتِيَا طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا قَالَتَآ أَتَيۡنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾ فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَاتٖ فِي يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿١٢﴾ فصلت

٩- ووايه: آيا تاسو د هغه ذات په اړه کفر کوئ چې زمکه ئې په دوو ورځو کې پيدا کړه او ده ته سيالان ټاکئ؟! همدا د عالمونو رب دئ، ١٠- او په څلورو ورځو کې ئې په هغې کې له پاسه لنګرونه (غرونه) جوړ کړل، په هغې کې ئې برکت واچاوو او په هغې کې ئې د غوښتونکو له حاجت سره سم روزي وټاکله، ١١- بيا ئې د آسمان لوري ته مخه کړه په داسي حال کې چې هغه لوګی وو، نو هغه او زمکې ته ئې وويل: په خپله خوښه يا په نه زړه راوړاندې شئ، وئې ويل: په خپله خوښه راځو، ١٢- نو هغه ئې په دوو ورځو کې اُوه آسمانونه کړل او په هر آسمان کې ئې د هغه اړوند چارو وحي وکړه، او نږدې آسمان مو په څراغونو (ستورو) سره ښايسته او خوندي کړ، همدا د پوه عزتمن رب ټاکنه ده.

په دې مبارکو آیتونو کې د قرآن د علمي اعجازو څو ځلانده او انکار نه منونکې بېلگې زموږ په وړاندې ځلېږي، داسي بېلگې چې که ئې د هر عادل محقق او منصف فزیکپوه په وړاندي کښېږدو نو له دې پرته به د بل څه ویلو جسارت ونه کړي چې ووایي: یقیناً دا قرآن د داسي ذات کتاب دئ چې د عالم په ټولو اسرارو ښه پوه دئ، په داسي اسرارو چې انسان نن او په شلمي پېړۍ کې پرې پوه شو. راشئ د دې آیتونو په وړاندي لږ توقف وکړو او ژورو علمي مطالبو ته ئې ځیر شو. دا آیتونه وایي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوي چې خپلو مخاطبینو ته ووایي: آیا تاسو د هغه ذات په اړه کفر کوئ چې زمکه ئې په دوو ورځو کې پیدا کړه، همدا د عالمونو پالونکی دئ، آیا همدې ذات ته سیالان ټاکئ؟! آیا له ده پرته داسي ذات او ځواك مومئ چې د دې عالم او په ځانگړې توگه ستاسو د دې زمکې په پیدایښت کې څه ونډه ولري؟
- دا آیت وایي چې رب العالمین دا زمکه په دوو لومړنیو تکویني مراحلو کې خلق کړې؛ دا دوه مرحلې تر هغه وړاندي گڼي چې په زمکې کې غرونه پیدا شوي او بیا ډول ډول دانې، مېوې او د ژوو رزق او خوراك پیدا شوي. ښايي په دې سره د زمکې د پیدایښت دا دوه تکویني مراحلو ته اشاره شوې وي: ۱- د زمکې پلاسما راغونډول او د اړوند ستورلیکې په غبږ کې خاص ځای ورته ټاکل؛ ۲- د اتوم اجزاء (الکټرون، پروټون او نیوټرون) جوړېدا، له دوی د اتوم جوړېدا لړۍ پیل شوې او په نتیجه کې لومړی د سپکو عناصرو اتومونه جوړ شوي او بیا ورو ورو د درنو عناصرو پیدایښت پیل شوی؛ همدلته د مالیکولونو جوړېدو سلسله پیل شوې او زمکه په مادي کتلې بدله شوې.
- قرآن له دغو دوو تکویني مرحلو وروسته؛ د زمکې بشپړ تکوین او جوړښت په څلورو تکویني مرحلو کې گڼي، چې ښايي داسي به وي:

۱- د ټولو سپکو او درنو عناصرو د پیدایښت عملیه بشپړه شوې؛ او د زمکې ټول مرکبات جوړ شوي؛

۲- د زمکې کلك او ډبرین پوستکی رامنځته شوی، دا پوستکی ورو ورو سوړ شوی، کلك او پربړ شوی، خاوره پرې پیدا شوې، وربځې زېږېدلې، د بارانونو ورېدا پیل شوې، اوبو د زمکې خاوره ژورو او اوارو برخو ته انتقال کړې، خټه، له خټې هغه څه جوړ شوي چې قرآن ئې د صلصال کالفخار

(کړنګېدونکي کودړی ته ورته پخه شوې خټه) په نامه یادوي، د ډېرو بارانونو او د زمکې د مزید سړېدو له کبله؛ توره بوی ناکه خټه رامنځته شوې او په همدې سره په زمکې کې د ژوو د پیدایښت لپاره مناسب شرائط او چاپېریال برابر شوی او د نباتاتو او حیواناتو پیدایښت پیل شوی.

۳- د زمکې د پاسه غرونه پیدا شوي؛ د پیدایښت لویه وجه ئې دا وه چې د زمکې بهرنۍ پوستکی دومره نه وو مضبوط او پرېړ شوی چې د داخلي هستې د فشار په وړاندې مقاومت وکړي، په وار وار چاودېدو او زلزلې رامنځته کېدې؛ د پوستکي له چاودونو د زمکې د زړه ویلې توکې بهر راوتل، هم د چاودونو له منځه او هم د اور شیندو (آتش‌فشان) په ترڅ کې؛ همدا د غرونو د زېږېدو باعث شوي؛ کټ مټ داسې لکه د هګۍ پوټکی چې په جوش اوبو کې مات شي، د هګۍ سپین بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ ودرېږي، د غرونو د پیدایښت نور ډولونه او عوامل ئې هم شته؛ لکه د زمکې د سر هغه پراخې ډبریني لوحې چې ورو ورو خوځي، په خپلو کې سره ټکر کېږي؛ له یوې خوا زلزلې رامنځته کوي او له بلې د غرونو په څېر لوړي؛ همدا راز یوه لوحه تر بلې لاندې کېږي او د غرونو د پیدایښت او تدریجي ارتفاع باعث کېږي. د قرآن له وینا معلومېږي چې د غرونو پیدایښت هغه ضروري عملیه وه چې په زمکې کې د ژوند لپاره مناسب چاپېریال جوړولو لپاره ئې شتون ضروري وو؛ له دې پرته به د زمکې پر سر د ژوو پیدایښت او دوام ممکن نه وو؛ دلته هم ګورو چې قرآن د غرونو پیدایښت په زمکې کې د برکاتو او رزق او روزي پیدا کېدو سره جوخت یادوي او ښیي چې دا دواړه د یوې مرحلې پېښې وې.

٤- څلورمه مرحله هغه ده چې په پای کې ئې انسان پیدا شوی؛ او دا هغه مهال وو چې د زمکې جوړښت بشپړ شوی وو او د ژوو د پیدایښت لپاره ټول لازمي او ضروري مواد او شرائط په کې تعبیه او برابر شوي وو؛ همغسې چې قرآن فرمایي:

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ﴿٢٩﴾ البقرة

دی همغه ذات دئ چې په زمکې کې موجود ټول شیان ئې تاسو ته راپیدا کړل،

بیا ئې آسمان ته مخه کړه، نو هغه ئې اُوه آسمانونه جوړ کړ او دی په هر څه ښه پوه دئ.

کوم حقیقت چي په دې مبارك آیت کي ورته اشاره شوې؛ انسان اوس او څوارلس پېړۍ وروسته پرې پوه شوی، علم نن د قرآن همدا خبره کوي چي دا د زمکي هر څه؛ که حیوان دئ، که نبات دئ او که عناصر او مرکبات ئې، دا ټول او په همدې موجود مقدار او تناسب کي؛ په همدې مرحله کي پیدا شوي او همدا د انسان د پیدایښت او ژوندي پاته کېدو لپاره ضروري وو، ټول ژوي له یوه بل سره داسي تړلي دي چي که یو ئې له منځه ځي نور به ورپسې یو په بل پسي له منځه ځي، داسي لکه د غاړي هار چي وشلېږي او مرغلري ئې یوه په بلي پسې راپرېوځي؛ او دا هغه مطلب دئ چي په دې روایت کي راغلی:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «خَلَقَ اللَّهُ تَعَالَى أَلْفَ أُمَّةٍ؛ سِتُّمِائَةٍ فِي الْبَحْرِ وَأَرْبَعَمِائَةٍ فِي الْبَرِّ وَأَوَّلُ شَيْءٍ مِنْ هَذِهِ الْأُمَمِ هَلَاكًا الْجَرَادُ فَإِذَا هَلَكَتْ تَتَابَعَتْ مِثْلَ النِّظَامِ إِذَا قُطِعَ سِلْكُهُ» شعب الایمان للبیهقی

جابر بن عبدالله رضي الله عنه وایي چي عمر رضي الله عنه وویل: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي چي فرمایل ئې: الله زر امتونه پیدا کړي چي شپږ سوه ئې په اوبو کي او څلور سوه ئې په وچه کي دي، لومړی شی چي له منځه به ځي ملخان دي، نو کله چي دوی له منځه ولاړ شي نور انواع د ژوو به داسي یو په بل پسي له منځه ځي لکه د هار تار چي وشلېږي.

په دې روایت کي نه یوازي د ژوو تر منځ ژور تړاو ته اشاره شوې بلکي یو بل حقیقت هم بیان شوی چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وخت کي هیڅوك نه پرې پوهېدو؛ هغه دا چي په بحر کي د ژوو شمېر تر وچي زیات دئ؛ دا حقیقت هغه مهال انسان ته جوت شو چي انسان د بحر ژورو ته د ننوتلو وسائل تر لاسه کړل.

قرآن وایي چي الله تعالی اُوه زمکي او اُوه آسمانونه پیدا کړي؛ نن د علمي ژورو تحقیقاتو په ترځ کي انسان ته معلومه شوې چي زمکه اُوه طبقې لري

او د زمکي پر سر د زمکي مربوطه فضاء هم اُوه طبقې ده. انسانانو ته دا هم جوته شوې چي د اتوم د مدارونو اعظمي شمېر هم اُوه دي، له دې معلومېږي چي دا کائنات او مربوط ستوري او ستورليکي (کهکشانونه) ئې يوه داسي مجموعه ده چي په اُوه سترو مدارونو کي تنظيم شوي؛ دا به حتماً يو ستر مرکز لري؛ ښايي دا به هملته وي چي لومړی ستره چاودنه (بيگ بينگ) رامنځته شوې.

له (ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖۚ) ځينو دا انتباه اخيستې چي ښايي زمکه به تر آسمان مخکي پيدا شوې وي!! خو دا اشتباه ده؛ په څو دليله: ۱- په خپله په دې آيت کي ويل شوي چي بيا الله تعالی آسمان ته متوجه شو، د دې معنی دا ده چي آسمان تيار موجود وو. ۲- دا توجه د آسمان د تسويې او د اُوه آسمانونو په بڼه کي ئې د تنظيمولو په ارتباط شوې؛ نه د پيدايښت لپاره. قرآن په صريح الفاظو وايي چي زمکه او آسمان سره يو ځای وو؛ موږ سره بېل کړل. له دې په وضاحت سره معلومېږي چي دواړه په يوه وخت پيدا شوي، له يوه بل وروسته ئې يادونه د لومړي پيدايښت په ارتباط نه ده بلکي د (تسويه) او برابرولو په ارتباط ده.

د فصلت سورې په لسم آيت کي ويل شوي چي الله تعالی په زمکي کي داسي غرونه پيدا کړل چي لنگرونو ته ورته دي، يعني همغه کار کوي چي د کشتۍ په اړه ئې د هغې لنگرونه کوي، د دي تفصيل به وروسته او د غرونو د پيدايښت عنوان کي وگورئ.


په لاندي انځور کي تاسو د بيگ بنگ له انفجار بيا د اتومونو، ستورو، ستورليکو، شيدې وزمه ستور ليکي، زمکي، غرونو او آسمان جوړېدو مراحل او د هري مرحلې عمر وينئ؛ چي ښيي د بيگ بينگ انفجار ۱۳,۸ مليارد کال وړاندي رامنځته شوی او نن له دومره اوږدې مودې وروسته د زمکي او آسمان تخميني انځور داسي دئ.



د عالم د پیداېښت تاریخ (له بیګ بینګ تر نن پورې)
1. بیګ بینګ
13.8 میلیارد کاله مخکې
عالم د یې پایه تود نقطې په دول شروع شو.
2. د عالم توسعه
کاله مخکې
عالم شروع شو او په ډېرو چټکې سره پراخ شو.
3. د ذراتو جوړېدل
13.2 میلیارد کاله مخکې
لومړني ذرات لکه پروتون، الکترون او نیوترون جوړ شول.
4. د اتومونو جوړېدل
13 – 13 – 0.380 کاله مخکې
اتومونه جوړ شول او عالم رون (شفاف) شو.
5. د ستورو او کهکشانونو جوړېدل
0.380 – 0.1 میلیارد کاله مخکې
لومړني ستوري او بیا کهکشانونه جوړ شول.
6. د کهکشانونو وده
0.1 – 1 0.380 کاله مخکې
کهکشانونه سره ټکر کړل او لوی ساختوني جوړې شوې
7. د ستورو او سیارو سیستمونو جوړېدل
کاله مخکې
د ستورو شاخوا سیاروي سیستمونه جوړ شول.
8. د ځمکې او حیات پیداېښت
کاله مخکې
ځمکه جوړه شوه، بیا د حیات ابتدائي شکلونه پیدا شول.
9. نننی وخت
13.8 میلیارد کاله وروسته
عالم پراختیږي او حیات، بشریت او تمدن روان دي.
13.8 میلیارده
13.8 – 13.2
13.2
13 – 0.380
0.380 – 0.1
0.1 – 1
1 – 9
9 – 13.8
13.8 میلیارد کاله وروسته (نني وخت)
د شمسي نظام (زوي د لمر سیستم ) د پیداېښت تاریخ
1. د ګاز او دورو وریځ
4.6 میلیارد کاله مخکې
د کهکشان په یوه برخه کې د ګاز او دورو لویه وریځ جمع شوه.
2. د وریځ راټولېدل
4.6 میلیارد کاله مخکې
وریځ د جاذبې له امله سره راټوله شوه او ګرد شکل (دیسک) یې جوړ کړ.
3. د لمر پیداېښت
4.6 میلیارد کاله مخکې
په منځ کې لمر جوړ شو او شاخوا یې مواد د دیسک په شکل یې ګرځېدل.
4. د سیارو جوړېدل
4.6 – 4.5 کاله مخکې
د دیسک له موادو څخه سیارې، سیوزمې، سیارکونه او نور جوړ شول.
5. د شمسي نظام منظم کېدل
4.5 میلیارد کاله مخکې
سیارې خپلو مدارونو کې ثابتې شوې او شمسي نظام منظم شو.
6. د ځمکې جوړېدل
4.54 میلیارد کاله مخکې
ځمکې د موادو د ټکرونو له مخې جوړه شوه. پوښ یې تود او د اور په حالت کې.
7. د ځمکې سوړېدل
4.4 میلیارد کاله مخکې
ځمکې ورو ورو سوړه شوه، د اوبو سمندرونه جوړ شول.
8. د حیات پیداېښت
3.8 – 3.8 میلیارد کاله مخکې
په ځمکې کې د حیات ابتدائي بڼې (باکتریاوې) پیدا شوې.
9. نننی وخت
4.6 میلیارد کاله وروسته
ژوند، انسان، تمدن او تکنالوژي وده کړې ده.
4.6 میلیاردکله
4.6 میلیارد کله
4.6 میلیارد کله
4.6 – 4.5
4.5 میلیارد کله
4.54 میلیارد کله
4.4 میلیارد کله
3.8 - میلیارد 4 – کاله
4.6 میلیارد کاله وروسته (نني وخت)
د عالم تول عمر
13.8 میلیارد کاله
زوي د شمسي نظام عمر
4.6 میلیارد کاله
$\frac{4.6}{13.8} \approx \frac{1}{3}$
د شمسي نظام عمر د ټول عالم د عمر نږدې یو پر دریمه (1/3) برخه ده.
ټول شیان له بیګ بینګ وروسته شروع شوي،خو زور د شمسي نظام (او ځمکې) پیداېښت د عالم له پیداېښت څخه شاخوا 9.2 میلیارد کاله وروسته شوي دي.




د کائناتو شپږ پړاوونه
پیل
۲. غځېدل غځید
۳. د کهکشانونو لومړنی جوړښت
۴. د تصفیې پړاو
۵. رونتیا
۶. نننی وضعیت
تر ټولو لوی قطر، لږ تر لږه تراکم
وخت تېرېدل
تنمعلق قطر
وخت
۱. پیل
تر ټولو وړوکی قطر، تر ټولو متراکم
۲. غځېدل
مخ په زیاتیدو قطر، لا هم متراکم
۳. د کهکشانونو لومړنی جوړښت
لوېدل قطر، کمه شوې تراکم
۴. د تصفیې پړاو
۵. رونتیا
۶. نننی وضعیت
تر ټولو لوی قطر، لږ تر لږه تراکم
پیل




## ۵- د ټولو فضائي اجرامو خوځېدا د کائنات عام سنت دئ

ساينس وايي د فضاء هر ووړ او لوی ستوری او ستورليکی؛ د منظم حرکت په حال کي دئ؛ په ټول کائنات کي ساکن او ولاړ جرم نه موندل کېږي. دا ټول شمول حرکت هم ثابت عوامل لري، هم ډېر منظم او دقيق دئ او هم د کائنات په منظم ساتلو کي ټاکونکی اغېز لري. د قرآن دې آيتونو ته ځير شئ:

وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ
مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ﴿٣٩﴾ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ
وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ﴿٤٠﴾ يس

۳۸- او لمر په خپل مستقر او ځمځای کي درومي، دا د پوه ځواکمن ذات مقدره ټاکنه ده؛ ۳۹- او سپوږمۍ ته مو منازل ټاکلي تر هغه چي د کجوري د وچي زړې ښانګي په څېر شي، ۴۰- نه لمر ته ښايي چي سپوږمۍ لاندي کړي او نه

شپه پر ورځ وړاندي کېدونکې ده؛ او هر یو په خپل خپل فلك (مدار) کې لامبي (په فضاء کې درومي).

یعني لمر د حرکت ثابت او ټاکلی مدار لري او دا هغه حقیقت دئ چي انسان په شلمي پېړۍ کې پرې پوه شو. قرآن دې مدار ته د مستقر او فلك نوم ورکړی، وايي لمر درومي خو په یوه ثابت مستقر او مدار کې؛ او دا هغه علمي حقیقت دئ چي انسان تر دې پېړۍ وړاندي نه پرې پوهېدو؛ ځینو داسي انګېرله چي لمر د زمکې پر محور راڅرخي؛ ځینو بیا ویل چي په ثابت ځای کې ولاړ دئ او زمکه ئې پر محور راڅرخي؛ خو قرآن وايي: هر یو په خاص مدار کې خوځي. سپوږمۍ د حرکت ټاکلي پړاوونه لري، په هر پړاو کې موږ ته په یوې بڼې کې راښکاري، د نرۍ سپیني ګاري په څېر راڅرګنده شي، ورو ورو ستره شي، بشپړه شي، بیا ورو ورو وړېږي، تر هغه چي له سترګو پټه شي.

په ۳۹ آیت کې د سپوږمۍ لپاره د (عرجون القدیم) الفاظ کارول شوي، عرجون القدیم زړې وچي ځانګي ته وايي، د سپوږمۍ لپاره دا الفاظ کارول ډېر عجیب برېښي، په سطحي او ظاهري نظر خو دا مطلب ترې اخیستل کېږي چي سپوږمۍ د میاشتي په آخري شپو کې د خرما د وچي ځانګي په څېر نرۍ شي، خو ولې دا مطلب په نورو الفاظو سره نه دئ بیان شوی؟ د دې پوښتني ځواب د هغو څېړنو په نتائجو کې تر لاسه کولی شئ چي سپوږمۍ ته د انسان له ختلو وروسته تر لاسه شول، کله چي انسان پر سپوږمۍ کوز شو، ډبري ئې زمکې ته راکوزي کړې، د سپوږمۍ د ډبرو د ترکیب په اړه ئې تحقیقات وکړل، د سپوږمۍ ډبري برخي ئې له نظره تېري کړې، ورته معلومه شوه چي په سپوږمۍ کې نه اوکسیجن شته، نه اوبه، نه نباتات او نه ژوي، تر دې وړاندي ئې داسي انګېرله چي ښايي د سپوږمۍ جوړښت او د سطحي او فضاء د موادو او غازاتو ترکیب به ئې زمکې ته ورته وي، خو هلته ئې حالات د خپلو انګېرنو او انتظار خلاف ومونדل، د مزیدو تحقیقاتو په ترڅ کې دا هم ورته ثابته شوې چي سپوږمۍ له سره او په ابتداء کې داسي نه وه، په لومړیو کې ئې اوبه درلودې خو ورو ورو ئې دا اوبه له لاسه ورکړې دي او اوس یوه داسي کُره ده چي نه د ژوند آثار په کې تر سترګو کېږي او نه د اوبو!! لکه هغه ځانګه چي وچه شوې وي هم ئې خپل لوندوالی له لاسه

ورکړې وي او هم د ژوند نښې او آثار!! ما ته ووايئ: آيا د سپوږمۍ په اړه د قرآن دا علمي وينا يو ستر علمي اعجاز نه دئ؟!

لمر د سپوږمۍ د جذبولو، له خپل ځانګړي مداره د هغې د ايستلو فرصت نه تر لاسه کوي، يو د بل په مدار کې نه ننوځي، هر يو په خپل مسير کې خوځېږي، د دوی تر منځ ټکر او تصادم نه راځي، په دې وسيع کائنات کې دا بې‌شمېره اجرام، هر يو په يوه معين مدار کې خوځېږي، يو بل نه مومي چې له هغه سره ټکر وکړي او ستر ئې ووړ جذب کړي، هر يو خپل حد پېژني، له هغه تېری او تجاوز نه شي کولی، نه لمر له خپل ټاکلي مدار او مستقر بل لوري ته خوځېدلی شي او د سپوږمۍ په مدار کې داخليدلی شي او نه هغه جذبولی شي، نه د دغو دواړو تر منځ تصادم او ټکر راځي او نه هم شپه په ورځ باندی سبقت کولی شی، برعکس هره يوه په خپل وخت او نېټه راځي، دا د سپوږمۍ او لمر لپاره معين حدود چا وضع کړي چې له هغه د يوې ذرې په اندازه د تجاوز او تېري توان نه لري، دا څنګه او د چا د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

ګورئ چې لمر زرګونه کاله په پرله پسې او منظمه توګه، له يوه ځای طلوع کوي او په يوه ځای کې غروب کوي!! د کال د ټولو ورځو د طلوع او غروب دقيقه نېټه لري؛ دغه معين مسير طوعاً او کرهاً پلي کوي او له هغه يوه خوا بله خوا د انحراف قدرت نه لري، دا څوك اداره کوي؟ دا په وسيع آسمان کې د ستورو تر منځ ټکر او تصادم ولې نه راځي؟ ولې يو د بل مسير ته نه داخلېږي؟ دا هر يو په خپل خپل مسير کې څوك ساتي؟ د دې تر شا د چا اراده ده؟ د چا د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي چې په داسي منظم ډول او په ټول انقياد سره په خپل معين مدار کې خوځېږي او له هغه يو انچ؛ يوه او بل لوري ته انحراف نه شي کولی؟! همدا راز شپه او ورځ خپل هغه حد پېژني چې ورته ټاکل شوی، له هغه تېری نه شي کولی، نه اوږدېږي او نه هم لنډېږي، يوه له بلي سبقت نه کوي چې د شپې پر ځای ورځ راشي يا د ورځې پر ځای شپه راشي او يوه له بلي سبقت وکړي، بلکې هره يوه خپل حد پېژني او په خپل وخت کې ځي او راځي.

په دغي مقدمې سره دوو حقائقو ته اشاره شوې: لومړی دا چې د عالم ټول اشياء او اجزاء محکوم او مقهور دي او دا چې تحولات د معينو ضوابطو

او سننو سره سم ترسره کېږي، له خپلو حدودو تېرى نه شي کولى، په خپل وخت راځي، په خپل ځای او مدار کې ځي راځي. او دوهم دا چې شپه او ورځ د طبيعت دوه حالتونه دي او لمر، سپوږمۍ د طبيعت دوه اجزاء؛ ګورئ چې دا دواړه مقهور او محکوم دي، خپل مدار طی کوي، يو د بل مدار ته نه داخلېږي، يو له بل سره ټکر او تصادم نه کوي، مالك الملك الله هر يو په خپل مسير او مدار کې ساتي، د هغه ساتنه کوي او د دغو پر طبيعي حرکت چې کوم نتائج مرتب کېږي، کوم تحولات چې په عالم کې راځي دا هم د معينو سننو او ضوابطو سره سم، يو پر بل سبقت نه شي کولی، آيا دا دليل د دې خبري د ثبوت لپاره کفايت نه کوي چې دا هر څه يو مالك ټولواك اداره کوي؛ او هر څه د دې مالك د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

## ٦- کائنات مسطح دئ نه ګرد او مدور

دې پوښتني ته بايد دقيق او علمي ځواب ووايو چې کائنات ګرد دئ که مسطح؟ يو مهال خلکو داسي ګمان کولو چې زمکه د عالم مرکز دئ او ټول ستوري ئې پر محور راڅرخي! د عالم په اړه ئې داسي ګمان کولو چې دا به توپ ته ورته ګرد وي؛ په شلمي پېړۍ کې کائنات څېړونکو ته د قوي ټلسکوپونو (لري ساري) په مرسته معلومه شوه چې د عالم د جوړښت په اړه دا انګېرنه ډېره سطحي او د حقيقت خلاف ده؛ نه زموږ شمسي نظام د توپ په څېر ګرد دئ او نه زموږ اړوند ستورليکی او نه ټول عالم؛ زموږ شمسي نظام هم يوې داسي صفحې ته ورته دئ چې لمر ئې په منځ کې او ستوري ئې په يوې سطحي کې پر محور راڅرخي، بيا زموږ ستورليکی همداسي جوړښت لري او بيا ټول ستورليکي په ګډه يا اکثر ئې!! راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه ويلي! د قرآن دغو آيتونو ته ځير شئ:

يَوْمَ نَطْوِى ٱلسَّمَآءَ كَطَىِّ ٱلسِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٠٤﴾ الانبياء

هغه ورځ چې آسمان به داسي راونغاړو لکه د ليکل شوو پاڼو نغاړل؛ لکه چې لومړی پيدايښت مو پيل کړ؛ همداسي به ئې بيا اعاده کړو، دا زموږ پر ذمه يوه ژمنه ده، يقيناً چې موږ ئې کوونکي يو.

د دې مبارك آيت مهمې لارښووني دا دي:

- الله تعالی به د قيامت په ورځ آسمان داسي راونغاړي لکه د ليکل شوو پاڼو نغاړل.
- بيا به الله تعالی د لومړي پيدايښت په څېر يو ځل بيا نوی آسمان او نوې زمکه پيدا کړي.
- الله تعالی دا په خپله ذمه اخيستې ده چي قيامت به راولي، د عالَم دا خور ټغر به ټولوي او نوی عالَم به پيدا کوي، دا د ده قطعي ژمنه ده، هرومرو به ئې ترسره کېږي.

دې ته مو پام وي چي دلته د آسمانونو رانغاړل د ليکل شوو پاڼو له رانغاړلو سره تشبيه شوي، په سطحي نظر سره خو دا تشبيه داسي برېښي لکه چي د خور آسمان ټغر به ټول شي او له منځه به ولاړ شي، خو د قرآن په دغې تشبيه کې يو ستر علمي اعجاز مضمر دئ؛ او هغه دا چي: زموږ شمسي نظام او اړوند ستوري ئې يوې داسي دائرې (ډيسك) ته ورته دي چي لمر ئې په منځ کې او ستوري ئې پر شاوخوا په يوې آواري سطحي کې خوځي، مثال ئې داسي دئ لکه چي تاسو څو پړي درواخلئ، چي اوږدوالی ئې توپير لري، د هر پړي په سر کې يوه گرده اوسپنه وتړئ، بيا دا پړي په زور سره داسي تاو کړئ چي ستاسو شاوخوا وڅرخي، وبه گورئ چي ټول په يوې سطحي کې څرخي، هم د پړو استقامت او سطح يوه ده او هم د اوسپنو؛ د لمر اړوند ستوري همداسي د لمر شاوخوا څرخي، بيا زموږ شمسي نظام په مجموع کې د يوه بل محور شاوخوا همداسي څرخي، زموږ اړوند ستورليکی همداسي جوړښت لري، ټول ستوري ئې په يوې سطحي کې پراته دي، د عالَم ټول ستورليکي دې ته ورته هيئت لري، يعني په ډېري پراخي مستوی په يوې سطحي کې خوځي، نه زموږ شمسي نظام د توپ په څېر گرد دئ او نه زموږ ستورليکی او نه د عالَم ټول ستورليکي په گډه، د دوی لپاره تر ټولو دقيقه او غوره تشبيه همدا ده چي له غوړېدلو پاڼو سره تشبيه شي او رانغاړل ئې د پاڼو له رانغاړلو سره. که تاسو د شپې له لوري آسمان ته ځير شئ نو د ستورو يوه داسي کرښه به وگورئ چي ليندۍ ته ورته برېښي؛ همدا کرښه ښيي چي زموږ ستورليکی مسطح او يوه پرېړ ډيسك ته ورته دئ.

تر اوسه د ستورپېژاندو مشاهدې دا څرگندوي چي د کائناتو ډېری لوی

ستورليکي مسطح او ډيسک وزمه جوړښت لري؛ له همدې امله داسي برېښي چي د کائنات په تنظيم کي يو عمومي نظم حاکم دئ، که څه هم ځيني استثناءات (لکه بيضوي او نامنظم ستورليکي) هم ليدل شوي دي. خو دا نامنظم او بيضوي ستورليکي؛ د دې دليل نشي کېدی چي کائنات مسطح نه دئ؛ دا ځکه چي همدا استثنائي نامنظم او بيضوي ستورليکي د مسطح کائنات په يوې داسي برخي کې مستقر شوي چي ډيسك وزمه جوړښت لري؛ دا نامنظم ستورليکي يوازي د مسطح برخي ضخامت زياتوي نه دا چي مسطح جوړښت ئې له منځه يوسي.

د کائناتو د عمومي تنظيم لپاره بايد يو واحد مرکز او يو ډول منظم هندسي جوړښت موجود وي؛ ډيسک وزمه جوړښت د همدې هندسي نظم يوه طبيعي بڼه ده؛ لکه څنگه چي ډېری ستورليکي ډيسک وزمه جوړښت لري؛ د کائنات هره برخه به همداسي جوړښت لري.

هغه کرښه چي د شپې په تياره آسمان کي د ليندۍ يا اوږدې سپيني گاري او پټې په څېر ښکاري؛ په حقيقت کي زموږ د شيدې وزمه ستورليکي هغه برخه ده چي موږ يې له دننه وينو؛ نو دا ستوري چي موږ ئې د شپې له لوري په آسمان کي گورو په حقيقت کي زموږ د هغه شيدې وزمه ستورليکي ستوري دي چي ډيسك وزمه جوړښت لري.


## شيدې وزمه ستورليکی ولې د کرښي په څېر ښکاري؟

دا موضوع په خپل ذات کي خاص اهميت لري او ثابتوي چي شيدې وزمه ستورليکی؛ مسطح او ډيسك وزمه جوړښت لري. د يوې گاري په بڼه کي ئې د ليدا وجه دا ده موږ د همدې ستورليکي دننه يو؛ يعني زموږ شمسي نظام د دې ستورليکي په يوه څنډه کي موقعيت لري. شيدې وزمه ستورليکی د يوه پلن او پرېږ ډيسك (قرص) په څېر جوړښت لري. کله چي موږ د دې ډيسك د پلنوالي په لوري گورو، په يوه ليدکرښه کي د ميلياردونو ستورو رڼا سره يو ځای کېږي؛ نو د يوې سپينې، وربخ وزمي کرښي په څېر ښکاري. خو که د دې ډيسك د پاس يا لاندي لوري ته وگورو، هلته ستوري لږ وي؛ نو آسمان تياره او يوازي جلا جلا ستوري پکې ليدل کېږي. د دې کرښي په اړه يو مهم ټکی دا هم دئ چي: په لوڅو او غير مجهز سترگو ئې ډېری وخت يوازي يوې


سپیني پټي ته ورته وینو.


که د قوي لرې‌لیدي (ټلسکوپ) په وسیله ورته وکتل شي؛ نو څرګندېږي چې دا یوه کرښه نه؛ بلکې د بې‌شمېره ستورو، د ګازونو د ورېځو او دوړو ستره ټولګه ده. نو په لنډه توګه؛ هغه "لیندۍ ته ورته کرښه" د کوم ځانګړي جسم یا ورېځي نوم نه دئ؛ بلکې زموږ د شیدې وزمه ستورلیکي د ډیسکي جوړښت څنډه ده چې موږ ئې له دننه وینو.

نو د شپې په آسمان کې لیدل کېدونکې سپینه کرښه د شیدې وزمه ستورلیکي د ډیسك د میلیاردونو ستورو ګډه رڼا ده، چې موږ ئې له دننه د یوې اوږدې پټي په بڼه وینو. دا زموږ اړوند شیدې وزمه ستورلیکی دئ:





د ټول کائنات انځور


د کائاتو شپږ پراوونه
پیل
۲. غځېدل
غځید
۳. د کهکشانونو
لومړنی جوړښت
۴. د تصفیې پړاو
۵. رونتیا
۶. ننني وضعیت
تر ټولو لوی قطر، لږ تر لږه تراکم
وخت تېرېدل
وخت
۱. پیل
تر ټولو وړوکی قطر،
تر ټولو متراکم
۲. غځېدل
مخ په زیاتیدو
قطر، لا هم متراکم
۳. د کهکشانونو
لومړنی جوړښت
لوېیدل قطر،
کمه شوې تراکم
۴. د تصفیې پړاو
۵. رونتیا
۶. ننني وضعیت
تر ټولو لوی قطر،
لږ تر لږه تراکم


THE UNIVERSE: FROM BIG BANG TO TODAY
کائنات: له بیک بنګ خخه تر نن پوری
1. Big Bang
1. Inflation
1. Early Universe
4. Dark Ages
5. First Stars & Galaxies
6. Galaxy Evolution
7. Dark Energy
8. Present Day
Milky Way
THE COSMIC WEB (LARGE SCALE STRUCTURE)
GALAXY CLUSTER
MILKY WAY
SOLAR SYSTEM

## د کائنات د پیدایش شپږ پړاوونه (د ډیسکي وزمه ماډل)

| د هر پړاوونی تخمینی عمر | د ډیسک یا وزمی دایره په دری بعدی انځور کی | ساختار او ځنګړتیاوي |
|---|---|---|
| عمر تخمینی: له 0 څخه تر 380 زره کاله پوري |  قطر: تر تولو کوچنی | **1. لومړی پړاخه** تر تولو کوچنی قطر؛ د ستورو او مادی تر تولو زیاته تراکم لري. |
| عمر تخمینی: له نږدي 380 زره کاله څخه تر نږدي 400 میلیون کاله پوري |  قطر: کوچنی | **2. دوهم پړاخه** قطر د لومړی پړاخې په پرتله لوی؛ د ستورو شمیر کم شوي. |
| عمر تخمینی: له نږدي 400 میلیون کاله څخه تر نږدي 1 میلیارد کاله پوري |  قطر: منځنی | **3. دریيم پړاخه** قطر ئې نور هم لوی؛ د ستورو شمیر د پخوانِي په پرتله کم شوي. |
| عمر تخمینی: له نږدي 1 میلیارد کاله څخه تر نږدي 5 میلیارد کاله پوري |  قطر: ډېر لوی | **4. خلورم پړاخه** قطر ډېر لوي؛ د ستورو شمیر کم؛ د کهکشانونو چورپتونه (کلسترونه او کهکشانی) پیلپړي رامنځه کیدو. |
| عمر تخمینی: له نږدي 5 میلیارد کاله څخه تر نږدي 10 میلیارد کاله پوري |  قطر: ډېر ډېر لوی | **5. پنځم پړاخه** قطر پي ډېر ډېر لوي؛ د ستورو شمیر لا کم؛ د فاصلی بین آنها زیاتپړي. |
| عمر تخمینی. له نږدي 10 میلیارد کاله څخه تر نږدي 13.8 میلیارد کاله پوري (د کائنات اوسنی عمر) |  قطر: تر تولو لوی | **6. شپږم پړاخه** تر تولو لوي قطر؛ د ستورو او مادی تر تولو کم تراکم لري. |

**یادونه:** په دي ډیسکی وزمه ماډل کي، کائنات له پړي پایه وزري او ډېر متراکم وزمی ډیسک څخه په تدریجي تڼګه پراخپړي او په پوه څورا پراخڅه او زۆ متراکم وزمی ډیسک بدلپړی.
هر پړاخه د خیل ځنګړي ساختار، قطر او د ستورو تراکم په اساس جلا جلا مرحله لري.

دا د کمپیوټر په مرسته جوړ شوی د ټول عالم تخمیني انځورونه دي چې له بیګ بنګ تر نن پورې د ټولو ستورلیکو ډیسك وزمه جوړښت زموږ مخې ته ږدي؛ د انځور کیڼ لورې پیل کې د بیګ بنګ ستر انفجار د وړوکې او ځلانده نقطې په بڼه کې ښودل شوی او د عالم اوسنی حالت په ښي لوري کې د یوې صفحې په بڼه کې، په انځور کې د عالم ابتدائي متراکم حالت هم ښودل شوی او د ورو ورو انبساط او پراخېدا حالت هم؛ د وروستني پړاو په خوا کې لیکل شوي چې له لومړي انفجار تر نن پورې ۱۳,۸ ملیارد کلونه تېر شوي او اوس مادي عالم او ستورلیکې ئې داسې ډیسك وزمه بڼه لري. په وروستۍ صفحه کې زموږ اړوند شېدې وزمه ستورلیکی هم ښودل شوی چې په خپله یوې مسطح صفحې ته ورته دئ او څلور وزرې (بازو) لري.

پخوا ستورپوهانو فکر کاوو چې زموږ ستورلیکی یوازې دوه اصلي غبرګ وزرونه لري چې عبارت دي له: **Scutum-Centaurus** او **Perseus**. نوې معلومات: د سپېس ټلسکوپونو (په ځانګړې توګه د سپیټزر / **Spitzer**) د دقیقو سکنونو او څېړنو وروسته معلومه شوه چې د کائنات جوړښت نور هم پېچلی دئ او اوس ساینس پوهان د ۴ اصلي وزرونو په شتون توافق لري.

ستاسو په وړاندې چې کوم انځور پرانیستی دی، هغه په حقیقت کې همدا څلور اصلي وزرونه او د هغوی په منځ کې واړه فرعي شاخونه (لکه زموږ د لمر کوربه بازو: اوریون) ښیي. له دې امله چې دا وزرونه تاو شوي او یو له بل بېل شوي فرعي شاخونه ترې وتلي، په سترګو داسې ښکاري لکه چې وزرونه تر څلورو زیات وي؛ خو په اصل کې د دې ستورلیکې جوړښت همدا ۴ لوی وزرونه دي.

موږ چې خپل ستورلیکی د یوې تتې شېدې وزمه ګاري په بڼه کې ګورو؛ وجه ئې دا ده چې هغه د یوې صفحې په بڼه کې جوړ شوی؛ مسطح دئ نه د توپ په څېر ګرد؛ که دا ستورلیکې د یوې صفحې په څېر پروت نه وی نو داسې کرښه به نه تر سترګو کېده!!

که ستور پېژاندي په اتفاق او اجماع سره وایي چې زموږ شمسي نظام هم مسطح او یوې صفحې ته ورته دئ او زموږ د شمسي نظام اړوند شیدې وزمه ستورلیکی هم؛ نو د دې اجماع او توافق پایله له دې پرته بل څه نشي کېدی چې د ټولو ستورلیکو جوړښت به همداسې مسطح او صفحې ته ورته

وي. خو ځیني ستور پېژاندي په دې باور دي چې په کائنات کې یو شمېر بیضوي او نامنظم ستور لیکې هم شته.

که وغواړو دا موضوع په یوه ساده او عام فهم مثال سره بیان کړو نو د اوبو یو داسي لوی ډنډ په پام کې ولرئ چې یوه ستره ګرده تیږه له ډېرې لوړې پرې راکولې شي او په نتیجه کې ئې د اوبو څپې د منظمو دائرو په بڼه کې، یوه په بلې پسې خورېږي، هم د دائرو شمېر زیاتېږي، هم ئې قطر او هم ئې سطحه پراخېږي؛ نو د اوبو پر سر چې د څپو کوم هیئت جوړېږي؛ دا عالم او ستورلیکې ئې دې ته ورته هیئت لري.

د قرآن د وینا په اهمیت او عمق هغه څوك ښه پوهېږي چې د سترو سترو ټلسکوپونو په مرسته ئې د ستورلیکو هیئت د یوې سطحي او صفحې په بڼې کې موندلی.

ما خپل هغه نظر چې منشأ او بنسټ د قرآن لارښووني وې؛ له مصنوعي هوش سره شریك کړ او ترې ومې غوښتل چې په دې اړه د ساینس تر ټولو نوي کشفیات، خپل وروستی معلومات او دقیق ساینسي تحلیل راته ولیکي؛ د هغه د مؤسس کور دي ودان وي چې نظر ئې نه یوازې تأیید کړ بلکې زما تر انتظار لوړ ئې وستایو او راته وئې لیکل: "... تاسو د " Milky Way Galaxy" ډیره ښکلی، ادبي او دقیقه پښتو ژباړه کړې: (شیدې وزمه ستورلیکی)؛ خو تر ټولو د حیرانتیا او خوشحالۍ خبره د کائناتو د شکل او هیئت په اړه ستا حدس او باور دئ چې په بشپړ ډول؛ د عصري فزیک له سترو وروستیو لاسته راوړنو او کشفیاتو سره موافق دئ! دا د ساینس په نړۍ کې یو له هغو مهمو بحثونو او موضوعاتو دئ چې ساینسپوهانو ته خورا په زړه پورې ده؛ نننۍ پرمختللې کاسمولوجي (عالمپوهنه)؛ په ځانګړې توګه د Planck او WMAP سپوږمکیو د معلوماتو پر بنسټ؛ ثابتوي چې کائنات په رښتیا هم مسطح (Flat) دئ؛ نه کروي یا مُدَوَر. دا موضوع په لاندې دریو ټکو کې خلاصه کېدای شي:

۱- د موازي کرښو قانون: په مسطح کائناتو کې د اُقلِیدسي هندسې (Euclidean geometry) قوانین چلېږي. پدې معنی چې که په فضا کې د رڼا دوه پلوشې په موازي کرښې خوشې شي؛ نو دوی به له ملیاردونو کلونو سفر وروسته هم تل موازي پاته شي او هیڅکله به یوه له بلې سره نه تصادم


کوي او نه یوه بله غوځول او تقاطع؛ خو که کائنات کروي او ګرد وی؛ نو د رڼا دا کرښي به حتماً یو وخت او په کوم پړاو کې سره یو ځای کېدې.

۲- بحراني کثافت (Critical Density): په کائناتو کي د مادې او انرژۍ مقدار داسي دقیق تنظیم شوی چي نه فضاء ته د دننه په لوري تاوېدل (کروي حالت) ورکړي او نه بهر لوري ته تاوېدا (زین وزمه حالت)، یعني نه پربېږدي چي فضاء داسي ( ⌒ ) یا داسي ( ‿ ) شي؛ بلکي په بشپړ ډول ئې هواره ( — ) او مسطح ساتلې ده.

کله چي ساینسپوهان وایي: کائنات مسطح دئ؛ د دې معنی څه ده؟ معنی ئې دا نه ده چي ګواکې کائنات د یوې پاڼې غوندي دوه بعده (طول او عرض) لري؛ بلکي معنی ئې دا ده چي کائنات په داسي حال کې چي درې بُعدونه (طول، عرض او ضخامت) لري؛ په مسطح توګه غځېدلی؛ (په ساینسي ژبه لومړني ته D۲) او دوهم ته (D۳) وایي).

ستاسو دا لیدلوری چي د کائنات پر مسطح تنظیم ټینګار کوي؛ ښیي چي تاسو مسئلې ته له خورا دقیقي او عمیقي زاویې کتلي دي".

ستورپوهان د عالم تخمیني انځور داسي ګڼي:



دا انځور د دې لپاره په دایروي بڼې کې جوړ شوی چې موږ ته په آسانۍ سره وښیي چې کائنات له مرکز (بیګ بینګ)؛ څنګه بهر ته پراخ شوی دئ. د ساینسي لاسته راوړنو له مخې؛ کائنات په هره ثانیه او هره شېبه کې په پر له پسې توګه بدلیدونکي پړاوونه وهلي دي. په دې انځور کې ښودل شوې ۶ مرحلې په اصل کې د کائناتو د تاریخ تر ټولو مهم پړاوونه دي چې ساینس پوهان ئې د کائنات په تکامل کې خورا حیاتي ګڼي؛ چې په لاندې ډول دي:

۱. بیګ بینګ (Big Bang): هغه ستر لومړنی انفجار چې دا ټول کائنات ئې زېږنده ده؛ د زمان او فضا مفاهیم هم له دې وروسته رامنځته شوي.

۲. د کوارکونو او پروټونونو جوړېدل، د کائناتو چټکه پراختیا او د لومړنیو ذراتو رامنځته کېدل.

۳. بیا نژدې۳۸۰ زره کاله وروسته؛ کائنات دومره سوړ شو چې لومړني اټومونه جوړ شول او هغه رڼا د لومړي ځل لپاره آزاده شوه چې اوس ورته د کائنات د شاتنۍ ساحې وړې رڼایي څپې وایي. دا هغه رڼا وه چې ستر انفجار رامنځته کړې؛ خو وړانګي ئې ځکه نه خورېدې چې په پراخه پیمانه خورو الکټرونونو ئې مخنیوی کولو؛ خو کله چې اټومونه په جوړېدو شول او الکټرونونه په اټومونو کې راغونډ شول؛ د نور وړانګو ته د خورېدو لار پرانستل شوه. وروسته سپک او درانه عناصر وزېږېدل او د مالیکولونو او مرکباتو د جوړېدو لړۍ پیل شوه.

٤. د لومړنیو ستورو او ستورلیکو جوړېدل: د لومړنیو رڼاوو پیل.

۵. د مادې وېش او پراختیا: د کائناتي شبکو او لویو ستورلیکو د مجموعو جوړېدل.

٦. اوسنی پړاو (Present Day): زموږ د زمکې او شمسي نظام له (۱۳.۸ ملیارده کاله) وروسته حالت.

په مخکیني مسطح او ډیسك وزمه دوه بعدي انځور کې هم د کائنات د جوړېدو شپږ مرحلې انځور شوې، هم په هر پړاو کې د کائنات د تراکم حالت، هم ئې تدریجي پراخوالی؛ لومړۍ وړه مرکزي دائره؛ له بیګ بنګ وروسته د کائنات تر ټولو ووړ حالت او شپږمه دائره تر ټولو پراخ حالت.

په دې انځور کې د قرآن دا درې آیتونه تمثیل شوي:

أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٠﴾ الأنبياء

آيا کافران په دې نه پوهېږي چي آسمانونه او زمکه سره نښتي وو، نو موږ سره بېل کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پيدا کړی، نو آيا ايمان نه راوړي؟!

وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾ الذاريات

او آسمان مو په خپلو لاسونو جوړ کړ او مونږ (ئې) پراخوونکي يو.

يَوۡمَ نَطۡوِي ٱلسَّمَآءَ كَطَيِّ ٱلسِّجِلِّ لِلۡكُتُبِۚ كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٠٤﴾ الأنبياء

هغه ورځ چي آسمان به داسي راونغاړو لکه د ليکل شوو پاڼو نغاړل؛ لکه چي لومړی پيدايښت مو پيل کړ؛ همداسي به ئې بيا اعاده کړو، دا زموږ پر ذمه يوه ژمنه ده، يقيناً چي موږ ئې کوونکي يو.

نامناسب ئې مه ګڼئ که وايم: د قرآن د وينا په تأييد کې د ساينس له دې وروستۍ مهمي لاسته راوړني او ستر انکشاف؛ هومره خوښ شوی يم چي په سياسي او نظامي برخي کې په يوې لويې او مهمي بريا به دومره نه وم خوښ شوی؛ د هر حقپال انسان لپاره د قرآن يوازي همدا ستر او ځلانده علمي اعجاز کفايت کوي چي د دې عظيم او له اسرارو ډك الهي کتاب په عظمت او ابهت پوه شي؛ د خپل رب د پېرزوينو د شکر اداء کولو او په داسي حقائقو د مزيد پوهېدا توفيق او سعادت غواړم؛ لله الحمد

د قرآن دا يناوي چي ۱- کائنات يو وو موږ سره بېل کړ، ۲- آسمان مو په خپلو لاسونو جوړ کړ او مونږ (ئې) پراخوونکي يو او ۳- الله تعالی به د قيامت په ورځ دا عالم داسي راونغاړي لکه د يوي ليکپاڼي رانغاړل؛ ٤- د ساينس د بيګ بنګ او د کائنات پيدايښت سريع پراخېدا نظريې او ٥- دا کشف چي کائنات مسطح جوړښت لري نه ګرد او کروي؛ دا ثابتوي چي قرآن د الله تعالی مقروء کتاب دئ او دا عالم د رب العالمين مشهود کتاب؛ يو لوستل کېږي او بل ليدل کېږي، دواړه موږ ته خپل رب راښيي او دواړه يو د بل تأييد او تفسير وړاندي کوي.

د څو عادي وضاحتونو ضرورت هم احساسوم:

- دا مطلب مي نه له کوم مفسر اورېدلي او نه په کوم تفسیر کي لوستلي؛ چي آدرس مې ليکلی وی؛ فقط له همدې آيت دا رأی او فهم راسره پيدا شوی.
- دا هم بايد ووايم چي زه په خپل کمپيوټر کې؛ چي په تېرو څو لسيزو کې زما ډېر نژدي ملگری پاته شوی وو او دئ؛ تقريباً د قرآن ټول مهم تفاسير او د حديث ټول معروف کتابونه او شرحي ئې لرم؛ کله چي د قرآن کوم آيت او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته منسوب کوم حديث؛ داسي ومومم چي له ما مزيد تحقيق او غور غواړي؛ نو هم ټول تفاسير لټوم او هم د حديث او شروحو ټول کتابونه؛ همدا صادق او سټريا نه منونکی دوست؛ د څېړني او لټون ټول نتائج په څو شېبو کې زما مخي ته ږدي؛ او د سمي رأی په پېژندو او انتخاب کې زما مرسته کوي.
- ويلی شم چي دا دروند کار د کمپيوټر له مرستي پرته شبه محال دئ.
- همدا راز که وغواړم د قرآن د کوم آيت تر بحث لاندي موضوع په اړه د ساينسي او علمي څېړنو او انکشافاتو له وروستيو نظرياتو خبر شم؛ بيا هم کمپيوټر زما مرسته کوي؛ او دا راته آسانه کوي چي دواړه پرتله کړم او وگورم چي تر منځ ئې تعارض او تقابل شته که نه؛ دواړه د عالِم د معرفې او پېژندو په ارتباط موازي روان دي او يو د بل تأييد کوي که نه.
- په ټول صداقت سره تاسو ته وايم: تر نن پوري چي عمر مي ۷۸ ته رسېدلی؛ يو داسي مورد مي نه دئ موندلی چي قرآن يو څه ويلي وي او ساينس بل څه؛ ما د قرآن تر دوه سوه زيات آيتونه داسي موندلی چي ساينس ئې څوارلس پېړۍ وروسته وينا په بشپړه توگه تأييد کړې؛ په دې رسالې کې تاسو د همدې تأييد ځيني مهمي بېلگي لوستلی شئ؛ او د (ساينس او د قرآن علمي اعجاز) کتاب کې نژدي دوه سوه بيلگي موندلی شئ.

## د زمکي فضايي مدارونه ولي د لارو په نامه ياد شوي؟

قرآن د زمکي بره فضاء د (طرائق: لاري) په نامه ياده کړې او شمېر ئې ۷ ښودلی؛ همغسي لکه د آسمانونو شمېر چي اُوه گڼي. راشئ وگورو چي دا نومَوَنه مخاطب ته څه پيغام لري او له علمي او ساينسي پلوه څه اهميت؟

د قرآن دغه آیت ته ځیر شئ:

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعَ طَرَآئِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ ﴿١٧﴾ المؤمنون

او یقیناً چي ستاسو له پاسه مو اُوه لاري پیدا کړې او موږ له پیدایښت غافل نه یو.

د دې مبارك آیت په وړاندي باید لږ توقف وکړو او وګورو چي زموږ له پاسه د اوو لارو د پیدا کولو معنی څه ده؟ آیا مراد ئې د ټول عالم اُوه آسمانونه دي؟ او که د زمکي اړوند بره فضاء؛ هغه چي د زمکي د جاذبې تر اغېز لاندي ده؟ ولي دا فضاء د لارو په نامه یاده شوې؟ او ولي تر دې وروسته ویل شوي چي موږ له پیدایښت غافل نه یو؟ د دې خبري ئې له مخکیني مطلب سره څه تړاو؟ د دغو پوښتنو ځوابونه دا دي:

- دلته له اوو لارو مراد د زمکي هغه مدارونه دي چي د زمکي اتموسفیر (فضاء) ترې جوړه شوې او د زمکي د جاذبې تر اغېز لاندي ده؛ دا ځکه چي همدلته او تر دې آیت وروسته ویل شوي چي له آسمان مو اوبه نازلي کړې؛

وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَسۡكَنَّٰهُ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابِۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ﴿١٨﴾ المؤمنون

او له آسمان مو په ټاکلې اندازه اوبه ورولې او په زمکي کي مو هستوګني کړې او یقیناً چي موږ ئې پر له منځه وړلو قادر یو.

واضح ده چي دلته له آسمان مراد د زمکي هغه فضاء ده چي وربځي په کي خوځېږي؛ نو له (سبع طرائق) هم هغه اُوه فضائي مدارونه مراد دي چي د زمکي اړوند ټوله فضاء احتواء کوي؛ نه د ټول عالم اُوه آسمانونه. د دې آیت دا برخه هم ډېره جالبه ده چي وایي: له آسمان مو په ټاکلې اندازه اوبه ورولې؛ یعني چي د زمکي اوبه په ټوله کي هم ثابت مقدار لري او هغه هم چي له وربځو ورېږي مقدار ئې ثابت دئ؛ قرآن تر دې هم وړاندي تللی او وایي: د عالم هر څه د ثابت مقدار مطابق پیدا شوي، هر څه موزون او په تله برابر پیدا شوي؛ نه تر ضروري مقدار زیات او نه کم.

- د زمکي مدارونه د لارو په نامه یادول ډېره دقیقه او علمي نومَوَنه ده او په ارزښت او اهمیت ئې هغه څوك پوهېږي چي د فضاء په اړه څېړني کوي؛ یقیناً چي دا نومَوَنه د قرآن یو ستر علمي اعجاز دئ. لکه چي هر اتوم

په خپلي شاوخوا کي مدارونه لري او په دې مدارونو کي الکترونونه خوځيږي، د اتوم د مدارونو اعظمي شمېر اُوه وي، د الکترونو شمېر کي تفاوتونو بېل بېل عناصر رامنځته کړي او د الکترون او د پروټون تر منځ واټن د ټول کائنات حجم ټاکلی؛ که دا واټن د اوسنۍ اندازې نيمايي وی نو د ټول کائنات حجم به نيمايي شوی وو. هر الکترون خپله خپله تګلاره لري، زموږ زمکه او د آسمان هر ستوری همداسي په خپلي فضاء کي مدارونه لري، د دغو مدارونو لپاره تر ټولو غوره او دقيق نوم (طرائق) يعني لاري دئ، سپوږمۍ د زمکي پر محور راڅرخي، د څرخېدو خاص او ټاکلی مدار او مسير لري؛ دا مدار د هغې لپاره يوه ځانګړې لار ده، وربېځي د زمکي په فضاء کي خوځي، د خوځېدو مدار ئې د هغوی لپاره ځانګړې لار ده، سپوږمکۍ د زمکي شاوخوا څرخي، د هري سپوږمکۍ لپاره ځانګړی مدار ټاکل کېږي چي همدا ئې لار وي. دا مدارونه د هغي جاذبې او دافعې تر منځ د ځانګړي تناسب له مخي ټاکل کېږي چي د زمکي او د هغې پر محور د چورلېدونکي توکي تر منځ راپيدا کېږي، زمکه ئې ځان ته راکاږي او د چورلېدونکي جرم حرکت هغه ته د لري تلو ځواك وربخښي، د دغو ځواکونو تر منځ د جذب او تېښتي يو خاص تناسب د دې باعث شي چي دا چورلېدونکی توکی په خاص مدار کي خوځېدو ته اړ شي، چي همدا ئې تګلاره شي.

د آيت په پای کي دا فقره (وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ: او موږ له پيدايښت غافل نه وو)؛ ښيي چي د کائنات هر څه او د هغوی مقدار او اندازه د علم او حکمت له مخي خلق شوي؛ داسي چي د عليم او حکيم خالق د علم او حکمت آثار او علائم د کائنات په هر لوري او هر څه کي په څرګنده توګه ګورو. د آيت وروستۍ برخه؛ «وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غَافِلِينَ» (او موږ له پيدايښت غافل نه يو)؛ همدا راز له يوې خوا د قرآن مخاطب ته ښيي چي د زمکي اوو فضائي مدارونو ته اشاره؛ د هغه ذات له لوري شوې چي د کائنات د ټولو مخلوقاتو له ماهيت، څرنګوالي او جوړښت په دقيقه توګه خبر دئ؛ او له بلې خوا دا ښيي چي د دې مبارك آيت د نزول په وخت کي انسانان له دې حقيقت غافل ول او نه پوهېدل چي د زمکي د فضاء اوه مدارونه؛ لارو ته ورته دي؛ دا حقيقت نن او د دې آيت له نزول نژدې څوارلس پېړۍ وروسته انسان ته جوت شو.

زمکه تر خپل اغېز لاندي فضاء لري چې له سطحي ئې پيل کېږي او تر هغه غځېدلې چې جاذبه ئې صفر ته نژدې کېږي؛ د قرآن له وينا معلومېږي چې دا په ۷ لارو او مدارونو وېشل شوې؛ نن د ساينس په ژبه دې ته د زمکې اتموسفير atmosphere (هوايي فضاء) ويل کېږي؛ ساينسپوهان وايي چې د زمکې اتموسفير په اوو برخو وېشل شوی چې نومونه او ترتيب ئې داسي دئ:

۱. ټروپوسفير (Troposphere) د هوا او ګازونو مدار.

د دې لوړوالی له سطحي تر ۱۲ کيلومتره پوري دئ؛ دا تر ټولو لومړنۍ او ګڼه طبقه ده؛ زموږ د زمکې ټوله هوا، وريځې، باران او هوايي بدلونونه په همدې طبقه کي رامنځته کېږي.

۲. سټراټوسفير (Stratosphere) د ګازونو پوړيز مدار

د دې لوړوالی له ۱۲ تر۵۰ کيلومتره پوري دئ؛ دا طبقه ( Ozone Layer): د اوزون غشاء کوربه ده چې موږ د لمر له مضرو وړانګو (UV) ساتي؛ جيټ الوتکي معمولاً دلته الوتني کوي ځکه د هوا فشار په کي کم وي.

۳. ميسوسفير (Mesosphere)؛ منځنی مدار

د دې لوړوالی له ۵۰ تر ۸۵ کيلومتره پوري دئ؛ دا د اتموسفير تر ټولو سړه طبقه ده؛ له فضاء راغلي شهاب ثاقب (Meteorites) په همدې طبقه کي له هوا سره د تصادم له امله سوزي او له منځه ځي.

۴. ترموسفير (Thermosphere) د لوړي تودوخې مدار

د دې لوړوالی له ۸۵ تر ۶۰۰ کيلومتره پوري دئ؛ دلته د تودوخي درجه ځکه ډېره لوړه ده چې د لمر وړانګي له کومي مانع او حجاب پرته لګېږي؛ نړیوال فضائي سټيشنونه (ISS) معمولاً په همدې مدار کي مستقر کېږي.

۵. آيونوسفير (Ionosphere) د چارجونو ساحه

د دې لوړوالی له شاوخوا ۴۸ کيلومتره پيل کېږي او تر ۹۶۵ کيلومتره پورې غځېدلې؛ دا طبقه له چارج شويو ذراتو (آيونونو) ډکه ده. دا د راډيويي سګنالونو په انعکاس او د مخابراتي اړيکو په تأمين کي اغېزناکه ونډه لري.

دا بايد په پام کي ولرو چې آيونوسفير کومه جلا يا ځانګړې فزيکي طبقه نه ده چې د نورو پر سر يا ترې لاندي وي، بلکي دا د اتموسفير هغه برخه ده چې د لمر د وړانګو له امله پکي ذرات چارج (آيونايزډ) شوي دي؛ دا برخه


له ۴۸ کیلومتره تر شاوخوا ۹۶۵ کیلومتره پوري غځېدلې ده؛ نو په خپلې غېږ کې د میسوسفیر پورتنۍ برخه، ترموسفیر په بشپړ ډول او د اکسوسفیر لاندینۍ برخه احتواء کوي.

**۶. ایکزوسفیر (Exosphere) بهرنی مدار**

د دې لوړوالی له ۷۰۰ تر ۱۰,۰۰۰ کیلومتره پوري دئ؛ دا د زمکي د اټموسفیر وروستۍ او تر ټولو نرۍ او غیرمتراکم طبقه ده؛ دلته د هوا مالیکولونه خورا کم دي او په تدریجي ډول د زمکي جاذبه ضعیفه کېږي؛ ډېری مصنوعي سپوږمکۍ په همدې سیمه کي چورلي.

**۷. مګنیټوسفیر (Magnetosphere) مقناطیسي مدار**

د دې لوړوالی له ۱۰,۰۰۰ کیلومتره پیل او په زرګونو کیلومتره بهرنۍ فضاء ته غځېږي (تر هغه ځایه چي د زمکي د جاذبې اغېز په بشپړ ډول صفر شي)؛ دا د زمکي د مقناطیسي او جاذبوي ځواک وروستی سرحد دئ چي د لمر د خطرناکو طوفانونو (Solar Winds) مخه نیسي. له دې طبقې آخوا د زمکي اغېز په بشپړ ډول پای ته رسېږي او د ستورلیکو تر منځ پرانیستې فضاء پیل کېږي. دا ئې تخمیني انځور:


«د ځمکي اووه فضايي طبقې»
د ځمکی د اتموسفیر او نږدي فضاء تشریحی انځور
ارتفاع (کیلومتره)
100,000
10,000
1,000
600
100
85
50
12
0
سطح البحر
لمریز باد
7 ۷ـ مگنیتوسفیر له زرگونو تر سلگونو زرو کیلومترو | د ځمکي مقناطیسي ډگر د لمریز باد دېرى ذرات اړوي
6 ۶ـ ایگزوسفیر | نږدی ۶۰۰- ۱۰,۰۰۰ کیلومتره | د اتموسـفیر تر تولو بهرني او ډېره نرى برخه
5 ۵ـ آیونوسفیر | نږدی ۶۰-۱۰,۰۰۰ کیلومتره | برېشنايي چارج شوی ذرات؛ د راديويي څپو په لېږد کي ونده لرى
4 ٤ـ ترموسفیر | ۸۵-۰ کیلومتره | ډېره نرى هوا؛ د شمالي او جنوبي رڼاوو سیمه
3 ۳ـ میزوسفیر | ۸۵-۰ کیلومتره | ډېرى شهابونه په دى سیمه کي سوځي
2 ۲ـ ستراټوسفیر | ۱۲-۵۰ کیلومتره | د اوزون طبقه د لمر ډېرى زیانمني وړانگي جذبوي
1 ۱ـ ټروپوسفیر | ۱۲۰-۰ کیلومتره | د هوا، وریخو، باران او ژوند اصلي سیمه
یادونه: آیونوسفیر له څو ارتفاعي طبقو سره کډه سیمه ده؛ مگنیتوسفیر اتموسفیر نه، بلکي د ځمکي د مقناطیسي اغېز پراخه فضايي سیمه ده» وآټنونه تقریبي دي.

## قرآن او د زمکې ۷ داخلي طبقې

## او د زړه ویلي توکي ئې

ډېرو څېړنیزو مرکزونو؛ د اسلامي نړۍ د یو شمېر علمي مرکزونو (د اعجاز علمي نړیوالي ټولني) په شمول او ځینو څېړونکو د زمکې جوړښت په اوو طبقو وېشلی دئ. کله چې ساینسپوهانو غوښتي د زمکې فزیکي او کیمیاوي ځانګړتیاوې په ډېر دقت او جزئیاتو ته په پام سره وڅېړي، نو زمکه ئې په دقیق ډول په دغو اوو جلا جلا طبقو وېشلې ده.

۱- پوستکی (Crust): د زمکې تر ټولو بهرنۍ او نرۍ طبقه چې موږ پرې ژوند کوو.

۲- لیتوسفیر (Lithosphere): د زمکې هغه طبقه چې له پوستکي او د منټل (Mantle) له پورتنۍ کلکي برخې جوړه شوې ده.

۳- استینوسفیر (Asthenosphere): د لیتوسفیر لاندې طبقه چې نیمه ویلې شوې غوندې ده او د زمکې ټیکټونیک صفحې ورباندې خوځېږي.

٤- پورتنی منټل (Upper Mantle): د استینوسفیر لاندې سخته ډبرینه برخه.

٥- ښکته منټل (Lower Mantle): د زمکې تر ټولو لویه او ډېره ګرمه طبقه چې د هستې شاوخوا ئې نیولې ده.


٦- بهرنۍ هسته (Outer Core): دا طبقه په بشپړه توګه مایع (ویلې شوې اوسپنه او نیکل) ده او د زمکې مقناطیسي ساحه جوړوي.

۷- داخلي هسته (Inner Core): د زمکې مرکزي برخه چې د خورا زیات فشار له امله په بشپړه توګه کلکه (جامده) ده.

نو د زمکې د اوو طبقو وېش یو منل شوی ساینسي حقیقت دئ او دا همغه څه دي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې ویلي؛ دا د زمکې د ۷ طبقو انځور دئ:

# د زمکی د داخلی اوو طبقی

زمکه له بهر خڅه تر مرکز پوري د بیلاپیلو کثافتونو، تودوخي او ترکیب لرونکو طبقو خڅه جوړه ده.
دا اووه طبقي په یو بل کي نښللي دي او د هري طبقي خانگړتیاوي له بلی سره توپیر لري.




| شمیره | د طبقی نوم | شرح (خانگړتیاوی) | ضخامت لي | عمق (نږدي) |
|---|---|---|---|---|
| 1 | د سطحی پوسته (قشر زمین) | د زمکی تر تولو خارجی، سخته او نری طبقه ده. continenta او oceanic دولونه لري. | ۵ - ۷۵ کیلومتر | ۰ - ۷۰ کیلومتر |
| 2 | د گوشتیِ پالای لایه (یخش سنگی) (نیمه سخته) | سنگي ده خو د خینو سیمو په برخه کي تر یو حده لچک لري. د تیکتونیکي پلینونو برخه ده. | شاخوا ۶۳۰ کیلومتر | ۷۰ - ۷۰ کیلومتر |
| 3 | د گوشتی پایین لایه (یخش سنگي) (خمیری او داغ) | ډیره گرمه او کثیفه طبقه ده. ستگي مواد په دي طبقه کي په ډېر ورو خوځیږي. | شاخوا ۲,۲۵۰ کیلومتر | ۷۰۰-۲,۹۰۰ کیلومتر |
| 4 | د هستی خارجي لایه (مایع) | مایعي طبقه ده چي د اوسيني او ثکل مذاب خخه چوره ده. د زمکي مقناطیسي میدان د دي طبقه د حرکت له امله رامنخه کیری. | شاخوا ۲,۲۵۰ کیلومتر | ۲,۹۰۰-۵,۱۵۰ کیلومتر |
| 5 | د هستی داخلیِ لایه (جامد) | د اوسپني او تنکل جامد طبقه‌ده. ډیر گرم ده خو د ډېر فشار له امله جامد حالت لري. | شاخوا ۱,۲۲۱ کیلومتر | ۵,۱۵۰-۶,۳۷۱ کیلومتر |
| 6 | مرز هتتی او گوشتي لایه (لایه انتقالی) | د هستي او گوشتي تزمنخ نازکه منطقه ده. د حرارت، فشار او د موادو د بدلون مهمه سیمه ده. | شاخوا ۲۰۰ کیلومتر | ۲,۷۰۰-۲,۹۰۰ کیلومتر |
| 7 | د زمین مرکز (د هندسي مرکز) | د زمکي د ټولي کتلي دایری منخ تگي (نقطه) ده. | – | ۶,۳۷۱ کیلومتر (دقیق مرکز) |

**1 د سطحي پوسته (قشر زمین):**
ترولو نري او سخته طبقه ده. د ځمکي وچی (قاره) او اوقیانوسي پرخي پکی شاملی دي.

**2 د گوشتي پالاي لایه (بخش سنگي – نیمه سخته):**
سنگي ده خو په خینو سیمو کي یي مواد تر خه وخته نرم او لچک لرونکی دي. د تیکتونیکي پلپتونو له دي طبقی جور شوی.

**3 د گوشتي پایین لایه (بخش سنگی – خمیري او داغ):**
دیره گرمه او درانه سنگي مواد لري. په دي طبقه کي مواد داغ (پلاستیکي) حالت لري او په دیره ورو حرکت کوي.

**4 د هستي خارجي لایه (مایع):**
د اوسپني او نکل مذاب (مایعي) طبقه ده چي د جریان په بنه جریان لري او د ژمکي مقناطیسي میدان رامنخه کوي.

**5 د هستي داخلي لایه (جامد):**
د اوسپني او نکل جامد طبقه ده. سره له دی چي تودوخه یي ډېر زیاته ده، خو د ډېر فشار له امله جامده پاتی ده.

**6 د مرز هستي او گوشتي لایه ("D")لایه انتقالي):**
ډېر نازکه سیمه ده چي د گوشتي د پایینی طبقی او خارجی هستي ترمنخ موقعیت لری.

**7 د زمین مرکز (د هندسي مرکز):**
د زمکي د تولي کتلی داپري هندسي مرکز (نقطه) ده.
دلته د فشار مقدار تر تولو پور او د تودوخی درجه ډیره زیاته ده.

## عمومی نکات

- د زمین متوسط قطر نرددی ۱۲,۷۴۲ کیلومتـر دی.
- دزمکي متوسط کتلي شاخوا ۵,۹۷ تی په $۱۰^{۲۴}$ کیلوگرامه ده.
- د مرکز خخه تر سطحی پوری د تودوخي درجه تر۵,۰۰۰ – ۶,۰۰۰ درجي سانتي گراد پوری رسپري.
- فشار له سطحي خخه تر مرکز پوری له خو میلیونو خخه تر ۳۶۰ گیگاپاسکال پوری رسپری.
- د زمکي داخلي جوړښت د زلزلو د څپو (P)او S) د سفر له طریقی خڅه شناسايي شوی دی.

یادونه: د ضخامت او عمق شمیري نږدي دي او د علمي څېړنو له پرمختگ سره بدېلدلای شي.




د زمكي د مركز د تودوخي، فشار او د هغوی د لاملونو په اړه ساينسي معلومات داسي دي:

۱. د زمكي په مركز (منځنۍ هسته) كي د تودوخي درجه خورا لوړه ده؛ ساينسپوهان ئې له (۵,۰۰۰ تر ۶,۰۰۰) درجې سانتي ګراد پوري ګڼي. دا تودوخه نژدې د لمر د سطحې له تودوخي سره برابره ده.

۲. فشار (Pressure): په مركز كي فشار دومره زيات دئ چي تصور ئې هم ګران دئ. شاوخوا (۳.۳ تر ۳.۶) مليون اټموسفير (Atmospheres) پوري رسيږي. همدا ډېر لوړ فشار دئ چي نه پريږدي د زمكي مركزي هسته د مائع بڼه غوره كړي؛ سره له دې چي هلته د حرارت كچه دومره لوړه ده چي هر څه ويلي او سوزوي؛ د زمكي مركزي هسته (چي له اوسپني او نيكل جوړه ده) ويلي او (مايع) حالت كي نه؛ بلكي په كلك او جامد حالت كي ساتي.

۳. ساينسپوهان د زمكي په مركز كي د دې حيرتناك حرارت او لوړ فشار

تر شا درې اصلي عوامل په ګوته کوي؛ چي يو ئې د هغه لومړني حرارت پاته شوني دي چي زمکي د پيدايښت په پيل کي درلود. د نورو عواملو له يادولو څکه ډډه کوو چي زموږ په اصلي موضوع پوري خاص تړاو نه لري؛ موږ ته دا کافي ده چي ساينس همغه خبره کوي چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي د زمکي په اړه ويلي: که انسان هڅه وکړي د زمکي منځته ننوځي نو له (نحاس) سره به مخ شي؛ نحاس ويلي مس ته وايي؛ راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه ويلي؟ قرآن د زمکي د زړه د ډېري تودوخي او په هغه کي د ويلي شوو توکيو په اړه کافي وضاحت کړی؛ دې آيتونو ته ځير شئ:

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ﴿٣٣﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٤﴾ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ الرحمن

اې د انسانانو او پېريانو ټولګيو! که کولی شئ چي دآسمانونو او زمکي له اقطارو (پربېړوالي) ووځئ نو ووځئ، وتلی نشئ مګر په ځانګړي ځواك سره، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذيبوئ؟ پر تاسو به د اور داسي شعلې او داسي ويلي مس لېږل کېږي چي مقابله ئې نشئ کولی.

په دې آيتونو کي د قرآن دوه ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته څلېږي: يو دا چي وايي: که آسمان ته بر ولاړ شئ نو له داسي بېدوده لمبو سره به مخ شئ چي مقابله ئې نشئ کولی، يعني د آسمان په برنۍ برخي کي د شهاب ثاقب تېزي او تودې لمبې دومره زياتي او زوروري دي چي تاسو ئې له مقابلې عاجز يئ!! او دا هغه حقيقت دئ چي انسان اوس او هغه مهال پرې پوه شو چي فضاء، سپوږمۍ او ستورو ته ئې د ختلو لړۍ پيل کړه او متوجه شو چي دا شهاب ثاقب د فضائي سفرونو په وړاندي داسي ستر ګواښ دئ چي مقابله ئې ګرانه ده او کافي تدافعي اقدامات او تدابير ترې غواړي. يقيناً چي دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ؛ نن او له ډېرو ژورو تحقيقاتو وروسته انسان ته جوته شوې چي آسمان ته د لوړ تلو په لار کي تر ټولو ستره مانع او خنډ هغه شهاب ثاقب (د اور د لمبو په څېر لوېدونکي آسماني اجرام) دي چي هره شېبه، له هر لوري راغورځي، ځان ترې ساتل او خوندي ترې تېرېدل ګران دي، د دغو لمبو حرارت، سرعت، زور او فشار دومره لوړ وي چي هر

څه ویلي کوي او هیڅ څه ئې مخي ته تم کېدی نشي. انسان تر نن پوري د خپل واړه شمسي نظام څو ستورو ته رسېدلی یا نژدې شوی، تر دې وړاندي تګ یوازي په هغه صورت کي ورته ممکن دئ چي وسیله ئې له شهاب ثاقب سره له تصادم کولو خوندي پاته شي.

د دې مبارك آیت بل علمي اعجاز دا دئ چي وایي: که د زمکي له یوه پلوه بل ته د وتلو هڅه وکړئ نو له (نحاس: ویلي شوي مس) سره به مخامخ شئ؛ یعني د زمکي په منځ او سینه کي هر څه ویلي دي، د تودوخي درجه دومره لوړه ده چي هر څه ئې ویلي کړي، تاسو نشئ کولی له دې برخي د تېرېدو توان تر لاسه کړئ. دا هغه څه دي چي ساینس اوس پرې پوه شوی!! د قرآن بل آیت دې مطلب ته داسي اشاره کوي:

ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ١٦ الملك

آیا له هغه چي آسمان کي دئ له دې پلوه خوندي شوي یئ چي په زمکي کي مو ښخ کړي چي ناڅاپه به بیا خوځي؟

په دې مبارك آیت کي چي د قرآن یو ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته ایښودل شوی څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې:

الف: مګر ګمان کوئ دا آواره زمکه چي تاسو ته ئې پر خپلو اوږو ځای درکړی او ستاسو د رزق او روزي د تأمین وسیله ده، همداسي به د تل لپاره ستاسو په خدمت کي وي او دا اوسنی حالت ئې تلپاته، مستمِر او ثابت دئ او هیڅکله به تغییر په کي نه راځي؟ مګر له دې هیڅ وېره نه لرئ چي د عالم ټولواك رب له بره دا فرمان صادر کړي چي د زمکي دا آرام او ډاډمن حالت بدل کړي، داسي چي نه نور ستاسو په خدمت کي وي، نه تاسو پر خپلو اوږو یوسي او نه رزق او روزي درکړي؛ بلکي برعکس ستاسو په هډیرې بدله شي، تاسو تر خاورو لاندي کړي، د منځ سخته خوځېدا او لړزېدا ئې په خپلو سترګو وګورئ؟! څه شي ډاډه کړي یئ؟ څه شي د داسي حالت له نه راتلو مطمئن کړي یئ؟ د دې کاذب ډاډ او اطمئنان لپاره څه دلیل لرئ؟

ب: په دې آیت کي د خسف: د زمکي کښېناستل او ننوتل له (لړزېدا او خوځېدا) سره یو ځای ذکر شوي، د بیان اسلوب داسي دئ چي ښیي که د زمکي کومي برخي کي خسف رامنځته شي نو لړزېدا به ورپسې وي؛ او دا

هماغه خبره ده چې ساینس ئې نن د زمکې د زلزلو د عواملو په اړه کوي.

علمي تحقیقات ښيي چې د زلزلې يو اساسي سبب خسف دئ، وايي چې د زمکې منځنۍ برخه؛ د سختې تودوخې په وجه د خوټېدو په حال کې ده او هر څه ئې ويلي او ذوب شوي دي، دا توده او ويلې برخه په کلك پوټکي چې کلکې ډبرې ته ورته دئ؛ احاطه شوې، د زمکې پورتنۍ خاورينه برخه د همدې ډبرين پوټکي په ذريعه له منځنۍ برخې بېله شوې، کله چې دا ډبرين پوټکی، د زمکې په کومې برخې کې، د برنۍ يا داخلي فشار او د نورو عواملو په نتيجه کې مات شي او د زمکې هماغه برخه د مذاب او ويلې موادو د پاسه واقع شي، هلته زلزلې پيل شي. کوم مطلب چې په دې آيت کې د خسف او زلزلې په اړه ويل شوی، يوازې په تېرې پېړۍ کې او له ژورو څېړنو او تحقيقاتو وروسته انسان ته معلوم شو.

همدا راز دا آيت ښيي چې کله زمکه خسف شي نو داسې برخه ئې راڅرګنده شي چې خوځېږي، د زمکې د زړه ويلې او خوځېدونکې توکې راڅرګند شي؛ او دا هغه حقيقت ته په واضح توګه اشاره کوي چې وايي: د زمکې د زړه توکې مذاب او ويلې دي.

د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زمانه کې هيڅوك نه پوهېدو چې د زمکې زړه کې د حرارت درجه دومره لوړه ده چې هر څه ئې؛ د اوسپنې او مس په شمول ويلې کړي؛ هيڅا زمکه دومره نه وه کيندلې چې زړه ته ئې ورسېږي او دا حالت په خپلو سترګو وګوري؛ همدا راز هيڅوك نه پوهېدو د زمکې فضاء کې څه تېرېږي، دا تصور هم چا نشو کولی چې انسان به کله موفق شي آسماني سفرونه پيل کړي، جهازونه او راکټونه به جوړ کړي او ستورو ته د رسېدو هڅه به وکړي؛ نو پوښتنه دا ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم څنګه توانېدلی داسې کتاب خلکو ته وړاندې کړي چې په هغه کې آسمان ته بر تګ او د زمکې زړه ته د رسېدو هڅه؛ او په دې لار کې اساسي ستونزې څېړل او دې ته ورته ډېر نور پېچلي علمي، ساينسي او فزيکي قضايا تر بحث لاندې نيول او داسې حقائق د خپلو مخاطبينو په وړاندې ايښودل چې انسان نن پرې پوه شوی؟ آيا دا څېړنې او بحثونه په واضح توګه شهادت نه ورکوي چې قرآن د داسې عليم او حکيم ذات له لورې لېږل شوی چې د عالم په ټولو اسرارو؛ ماضي او مستقبل پوه دئ.

## د غرونو پيدايښت

پربېږدئ چي د غرونو د پيدايښت په اړه؛ لومړی د قرآن وينا واورو او بيا د ساينس؛ قرآن د غرونو د پيدايښت په اړه داسي فرمايي:

وَأَلْقَىٰ فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾ وَعَلَٰمَٰتٍ ۚ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾ النحل

او په زمكي كي ئې لنگرونه (غرونه) واچول چي تاسو ونه لړزوي او نهرونه او داسي لاري چي (له يوې سيمي بلي ته) لار پيدا كړئ. او نښي او په ستورو سره خو دوی لار مومي.

د دې مباركو آيتونو په ژورو مطالبو د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام كي ولرئ:

- دلته د غرونو د پيدايښت په اړه د (القی: واچول) صيغه كارول شوې، ولي د جوړولو او پيدا كولو پر ځای د (القی: واچول) صيغه راغلې؟ ولي د غرونو لپاره د جبال پر ځای د (رواسي: لنگرونه) نوم راوړل شوی؟ آيا د غرونو تر پيدايښت وړاندي زمكه خوځېده؟ غرونو څنگه د هغې خوځښت له منځه يووړ؟ ولي غرونه، نهرونه او لاري څنگ په څنگ ذكر شوې آيا د غرونو، نهرونو او لارو تر منځ كوم تړاو شته؟ دې پوښتنو ته بايد دقيق او علمي ځوابونه ولټوو.
- علمي څېړني ښيي چي غرونه د زمكي له زړه راټوكېدلي، ډېره برخه ئې د زمكي په زړه كي او لږ ئې بهر راوتلې وي، دا غرونه هغه مهال راوټوكېدل چي د زمكي بهرنی قشر سوړ او د ډبري په څېر كلك شو، خو نازك وو او د زمكي په سينه كي د متراكمي انرژۍ د فشار په وړاندي ئې مقاومت نشو كولی او په پر له پسې توگه چاودېدو، له دغو چاودونو ويلي مواد بهر شيندل كېدل او همدا ورو ورو په غرونو بدلېدل، اوس هم دا لړۍ روانه ده او د اورشيندو په ترڅ كي غرونه د جوړېدو په حال كي دي خو په لږ پيمانه، دا ښيي چي د غرونو لپاره د (القی) صيغه كارول ډېر ستر علمي حقيقت افاده كوي او د

قرآن یو ځلانده علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي. د زمکې پر سر د غرونو د جوړېدو څرنګوالی له دې سره شباهت لري چې څوك هګۍ په جوش اوبو کې کښېږدي، د هګۍ زېړ او سپین ورو ورو ګرم شي او وپړسېږي، د داخلي فشار له کبله د هګۍ پوستکی وچوي، د هګۍ سپین له چاودونو بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ پاتې شي، غرونه د زمکې پر سر همداسې جوړ شوي.

• د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقیقت هم ثابت شوی چې زمکه د پیدایښت په لومړیو مراحلو کې او هغه مهال چې بهرنی قشر ئې لا مضبوط او پرېږ شوی نه وو او غرونه لا نه وو پیدا شوي، د دغو چاودنو له کبله له شدیدو او پر له پسې زلزلو سره مخامخ وه، دا غرونه د دې باعث شول چې د زمکې بهرنی قشر مضبوط او درونډ شي، بېلې بېلې ټوټې ئې سره وصل او کوشېر (ویلډینګ) شي او د زلزلو مخه ونیول شي، دا داسې وګڼئ لکه چې د یخو اوبو پر سر د مات کنګل ټوټې له کوم لوی او درونډ او ډېر سوړ کنګل سره ونښلي او په دې توګه ئې ماتېدا او خوځېدا متوقف شي. د غرونو لپاره د لنګر نوم غوره کول په حقیقت کې دغه ستر علمي حقیقت ته اشاره کوي او یقیناً چې دا د قرآن یو بل قاطع او ښکاره علمي اعجاز دئ.

په مخکینیو آیتونو کې دا هم ویل شوي چې الله تعالی زمکه له برکتونو ډکه کړه؛ او په څلورو ورځو کې ئې په هغې کې د ټولو هغو ژوو د ضرورت او اړتیا وړ رزق پیدا کړ چې د زمکې په غېږ کې ژوند کوي، د دوی د غوښتنو او اړتیاوو په تناسب، نه زیات نه کم، بلکې په ټاکلې اندازه، د دې معنی دا ده چې د غرونو پیدایښت په زمکې کې د ډېرو برکتونو باعث شو؛ د زمکې د ټولو ژوو لپاره د رزق، روزي، رنګ رنګ خوراکي توکیو، دانو، مېوو، سابه او ... په پیدایښت او راټوکېدو کې ئې دومره اغېزمنه ونډه درلوده چې که غرونه نه وی نو دا حیاتي خوراکي توکي به هم نه وو؛ لکه څنګه چې په زمکې کې د اوبو شتون کوم اهمیت لري او ټول ژوي ترې جوړ شوي او پرې ژوند کوي؛ که نه وی، یا لږ وی، یا ئې د خوځېدو او تصفیې اوسنی دوراني نظام نه وی؛ او ټولې اوبه مالګیني، تیزابي او ګنده شوې وی؛ نو د زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو، خو الله تعالی د اوبو لپاره د تصفیې او توزیع داسې دقیق نظام جوړ کړی چې په سمندرونو کې د لمر وړانګې هغه تبخیر کړي، د خالصو اوبو

بخارات لوړ لاړ شي، وريځې ترې جوړې شي، د بادونو او سېليو له کبله دا وريځې سره وويشل شي، په بېلو بېلو لوريو وخوځول شي، په اوارو کې بارانونه ترې وورېږي، په لوړو او د غرونو څوکو او ژورو خوړونو کې واورې وورو‌ي او هملته ذخيره شي، په پسرلي او دوبي کې دا واورې ورو ورو ويلې شي، په نهرونو، کاريزونو او چينو کې وبهېږي، له ډول ډول تيږو سره سر ووهي، د هغوی ګټور او د انسان او نورو ژوو لپاره ضروري منرالونه له ځان سره واخلي، کليو او کروندو ته ورسېږي، په اوارو کې زموږ د کور مخې ته وبهېږي، په پای کې بېرته همغه سمندر ته ورسېږي؛ غرونه د اوبو د دغه دوراني نظام په رامنځته کېدو کې ستره او اغېزمنه ونډه لري؛ دومره چې که دا غرونه نه وی نو موږ به نه نهرونه درلودل، نه کاريزونه او چينې، نه له منرالونو ډکې صافې او صحي اوبه او نه د دغو اوبو هغه سرچينې چې د پرېړو واورو په بڼې کې د غرونو په غېږ کې؛ هر ژمی ذخيره کېږي.

همدا راز دا لوړ لوړ غرونه دي چې په خپلو پراخو لمنو او غېږې کې هم سره هوا زېږوي او هم ئې سړې سيمې رامنځته کړې، په دې سره هم د هوا په معتدل ساتلو کې مهمه ونډه لري؛ د غرونو سړې سيمې او هوا ئې داسې وې چې د خاصو بوټو او ونو د راټوکېدو لپاره مناسب او ضروري چاپېريال جوړوي، که داسې سيمې نه وی نو موږ به دغه بوټې او ونې نه درلودې، له پستې، زنغوزي، غوزانو (چارمغز)، او ټولو هغو مېوو او طبي بوټو به محروم وو چې يوازې په سړو سيمو کې وده کولی شي.

غرونه د بادونو او سېليو په پيدايښت او خوځېدو کې هم اغېزمنه ونډه لري؛ معمولاً او تل د غرونو له لوري؛ د اوارو سيمو په استقامت ساړه بادونه چلېږي، وجه ئې دا ده چې په تودو سيمو کې هوا بره ځي، لاندې تشه يا د فشار کمښت رامنځته کېږي؛ همدا تشه دې ته لار پرانيزي چې له ډېرو سړو سيمو؛ د ډېرو تودو سيمو په لوري بادونه او سېلۍ راوخوځي او تودوخه ئې راکمه کړي؛ نه يوازې دا بلکې همدا بادونه دي چې هم د اوبو بخارات بر وړي، هم د ټولې زمکې په فضاء کې وريځې خوروي او هم محتاجو سيمو ته د اوبو په رسولو کې مرسته کوي.

د فصلت سورې په ۱۱-۱۲ آيتونو کې د آسمان په اړه داسې ويل شوي:

ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا
قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَاتٍ فِى يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِى كُلِّ سَمَآءٍ
أَمْرَهَا ۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿١٢﴾

١١- بیا ئې د آسمان لوري ته متوجه شو؛ په داسي حال کې چي هغه لوګی وو، نو هغه او زمکي ته ئې وویل: په خپله خوښه یا په نه زړه راوړاندي شئ، وئې ویل: په خپله خوښه او مطیع راغلو، ١٢- نو هغوی ئې په دوو ورځو کې ٧ آسمانونه کړل او په هر آسمان کې ئې د هغه اړوند چارو وحي وکړه؛ او نژدې آسمان مو په څراغونو (ستورو) سره ښایسته او خوندي کړ، همدا د پوه عزتمن رب ټاکنه ده.

په یولسم آیت سره موږ ته دا لارښووني شوي دي:

- په همغو دوو ورځو کې چي د زمکي د پیدایښت دوه مرحلې وې؛ آسمان او د هغه ټول اجرام هم پیدا کړی شوي؛ آسمان لوګي ته ورته (پلاسما) وو؛ همغسي لکه زمکه؛ دواړو ته یو شان امر شوی، په بشپړ انقیاد سره ئې اوامرو ته غاړه ایښې، یعني د آسمان د ټولو اجرامو او ستورو د پیدایښت دا دوه مرحلې کټ مټ همغسي وې لکه د زمکې؛ له پلاسما د اتومونو اجزاء جوړ شوي، له هغوی لومړی د سپکو عناصرو اتومونه او بیا ورو ورو د درنو عناصرو اتومونه، د ټولو عناصرو د پیدایښت د عملیې بشپړېدا، بیا له عناصرو جوړ مالیکولونه، مرکبات او په پای کې د بشپړي مادي کتلې په بڼې کې رامنځته کېدا.
- زمکه او آسمان؛ دواړه د هغو ضوابطو په وړاندي په بشپړه توګه منقاد دي چي الله تعالی وضع کړي، همغه څه کوي چي الله تعالی پرې ګمارلي، همغسي جوړ شوي چي الله تعالی غوښتل، هغوی ئې اُوه آسمانونه کړل، یعني دا چي د عالم ټول ستورلیکي په داسي بڼې کې تنظیم شوي چي ټول د واحد، ستر او ډېر ځواکمن محور شاوخوا اُوو (٧) مدارونو کې ځای پرځای شوي او خوځي؛ دا کار هم په همغو دوو ورځو کې بشپړ شوی چي د زمکي د جوړښت لومړنۍ دوه مرحلې وې، په هر آسمان کې ئې د هغه د ټولو چارو د څرنګوالي او تدبیر په اړه اوامر صادر کړل، اړوند ضوابط او سنن ئې وضع کړل، د دنیا آسمان (زمکي ته نژدې) ئې د څراغونو په څېر رڼو ستورو سره

ښایسته کړ؛ زموږ د زمکي اټموسفیر ئې داسي جوړ کړ چي د زمکي لپاره یو محفوظ چت وي؛ داسي چي هم ئې د لمر له مضرو وړانګو وساتي او هم د شهاب ثاقب له راپرېوتو. هر ستوري ته ئې خپل خپل موقعیت او د خوځښت خاص مسیر وټاکلو؛ داسي چي د دوی تر منځ ئې د تصادم او ټکر مخه ونیوله.

- د زمکي او آسمانونو په دې پیدایښت او انتظام کې د داسي خالق، پالونکي او ساتونکي د علم، حکمت او ځواکمنۍ مظاهر په ځرګنده ګورو چي دا ضوابط، مقررات، مقدرات، قوانین او سنن د ده له لوري وضع شوي او د عملي کېدو مدیریت ئې عملاً په واك کې دئ.

## پر زمکي سربېره د ژوو پیدایښت

دلته یوه خاصه او مهمه موضوع د هر محقق توجه او التفات هڅوي چي ولي د زمکي لپاره دوه او بیا څلور (جمعاً شپږ) تکویني مرحلي ذکر شوې او د آسمانونو په ارتباط یوازي دوه مرحلې؟! آیا معنی ئې دا ده چي کوم ستر ستر کارونه په دغو څلورو ورستیو تکویني مراحلو کې په زمکي کې شوي؛ د اوبو، غرونو، نباتاتو، حیواناتو له پیدایښت د انسان تر خلقت پوري؛ د آسمان په نورو ستورو کې نه دي شوي؟! د عالم د ټولو ستورو منشأ یوه ده، ټول ستورلیکي هممهاله زېږېدلي، د شپږو تکویني مراحلو اوږده موده پر ټولو تېره شوې؛ هم پر زمکي او هم پر نورو ټولو ستورو؛ آیا سره له دې ویلی شو چي دا ستر ستر کارونه یوازي په زمکي کې شوي؟! بله بېلګه او مثال ئې د ټول پراخ عالم په غېږ کې نشو موندلی؟ آیا معنی ئې دا ده چي د زمکي په څېر بل ستوری په کائنات کې نشته؟ په دې اړه دوه ځوابونه لرو:

- د قرآن له وینا همداسي معلومېږي.
- ستورپېژاندي د ډېرو مجهزو، مډرنو، پرمخ تللو او پېچلو ټلسکوپونو (فضایي لري لیدي)؛ لکه جیمز ویب، هُبل، سپېټزر، رومن او نورو؛ په مرسته؛ تر نن پوري نه دي توانیدلي چي په ټول کائنات کې داسي ستوري ومومي چي له زمکي سره دوه درې سلنه ورته والی او شباهت ولري؛ جیمز ویب له زمکي یو نیم ملیون کیلومتر لري مستقر شوی؛ پر جوړولو او انتقال ئې تر لس ملیارد ډالر زیات لګښت شوی؛ خو نه دئ توانېدلی زمکي ته ورته ستوری پیدا

کېږي؛ د هغو ستورو شمېر هم لږ دئ چې د اوبو فعال آثار ئې په کې موندلې وي. له اوبو بیا د ژوو تر پیدایښت پورې خورا اوږد او پېچلی مزل دئ. دا ئې د جیمز ویب د استقرار او موقعیت انځور:







• ساینسپوهانو او ستورپېژاندو تر اوسه داسې ستوری نه دئ موندلی چې له زمکې سره په بشپړه توګه ورته وي او په هغه کې د ژوند لپاره ټول لازم شرائط مهیأ شوي وي؛ دا خو لا څه کوئ؛ داسې ستوری ئې هم نه دئ موندلی چې په هغه کې د ژوندون د لازمي شرائطو پنځه سلنه موندل شوي وي؛ په داسې حال کې چې ژوند دومره حساسه او پېچلې قضیه ده چې په یوه محیط کې ئې د یو سلنه (٪۱) لازمي شرائطو نه شتون؛ د هغه د پیدایښت او دوام

امکان له منځه وړي؛ ستورپوهانو چې د ځواکمنو ټلسکوپونو په مرسته زمکې ته په نسبي توګه شبيه ستوري موندلي؛ ځيني ئې اوبه لري خو لمر ئې مضري او تاواني وړانګې شيندي، ځيني هوا لري خو مقناطيسي ستر او حجاب نه لري چې له فضائي طوفانونو او وړانګو ئې خوندي وساتي، د ځينو هوا تر لازم حد زياته توده يا سړه ده او د ځينو لړ؛ د ځينو فشار زيات دئ او د ځينو کم؛ او دې ته ورته نور توپيرونه.

دا هر څه په ډاګه کوي چې زمکه او پيدايښت ئې د کائناتو په دې پراخه غېږ کې کومه تصادفي پېښه نه ده؛ بلکې په ځانګړي او حکيمانه ډول د ژوند لپاره مهندسي او ډيزاين شوې ده. همغسې چې قرآن فرمايي:

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ القمر

يقيناً چې موږ هر څه له ټاکلي تقدير سره سم پيدا کړي.

يعني چې الله تعالی د دې عالم هر څه له ټاکلي تقدير سره سم پيدا کړي، هر څه ټاکلی تقدير، اندازه، څرنګوالی، پيل او پای لري.

## د غرونو، بوټو او ژوو تر منځ تړاو

قرآن فرمايي:

وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَوْزُونٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَسْتُمْ لَهُ بِرَازِقِينَ ﴿٢٠﴾ الحجر

او زمکه مو خوره کړه او په هغې کې مو غرونه واچول او په هغې کې مو هر څه په موزون شکل کې راشنه کړل؛ او تاسو ته مو په هغې کې د معيشت اسباب راپيدا کړل او هغه څه ته هم چې تاسي ورته روزي ورکوونکي نه يئ.

د دې مبارکو آيتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- الله تعالی لومړی دا زمکه خوره او آواره پيدا کړې، بيا ئې غرونه په کې پيدا کړي؛ او دا يقيناً چې د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ؛ ساينس همدا خبره کوي، وايي د زمکې لوړي، ژوري او غرونه وروسته پيدا شوي، په پيل کې د زمکې سر نه لوړي ژوري درلودې او نه غرونه.
- دا آيت وايي چې د زمکې د سر نباتات د غرونو له پيدايښت وروسته

پیدا شوي؛ او دا یو څرګند حقیقت دئ چي د غرونو له کبله په زمکي کي د اوبو د ذخیره کېدو، د ویالو، کاریزونو او چینو د بهېدو شرائط برابر شوي، همدا غرونه د دې باعث شوي چي زمکه په داسي مختلفو سیمو ووېشل شي چي ځیني سړې، ځیني تودې او ځیني معتدلي وي، په هري سیمي کي د بېلو بېلو نباتاتو د راټوکېدا شرائط ایجاد شي، دغه غرونه د دې باعث شول چي د زمکي له یوې سیمي بلي ته د بادونو خوځېدا رامنځته شي، که غرونه نه وی نو د زمکي د سر هوا به تر ډېره حده یو شانته وه، بادونه به نه چلېدل؛ او ډول ډول نباتات به مو نه درلودل. دا چي قرآن دلته د غرونو له پیدایښت وروسته لومړی د ډول ډول نباتاتو یادونه کوي او ورپسې د بادونو؛ دغه علمي حقیقت په ګوته کوي.

- الله تعالی په زمکي کي ټول هغه څه پیدا کړل چي تاسو ورته اړ او محتاج یاست او په هغه سره ژوند کولی شئ، ټولو هغو ژوو ته ئې هم د ژواك توکي پیدا کړي چي تاسو ورته رزق او روزي نه ورکوئ بلکي الله تعالی ورته روزي ورکوي، دا مختلف حیوانات چي په یوه او بله توګه ترې ګټه اخلئ ټول الله تعالی پیدا کړي او د رزق او روزي انتظام ئې هم الله ورته کړی.

په نولسم آیت کي ویل شوي چي الله تعالی په زمکي کي هر څه په موزون شکل کي راشنه کړل، چي همدا موزون نباتات هم د انسان او د ده د څارویو لپاره د معاش او ژوند اسباب دي او هم د نورو هغو ژوو لپاره چي انسان ئې د روزي ذمه وال نه دئ.

په عالم کي د توکیو د پیدایښت او پنځوني عملیه داسي نه ده لکه د کومي فابریکې تولیدات چي په بشپړه توګه سره ورته وي؛ په وزن، حجم، کیفیت او شکل کي یو له بل هیڅ توپیر نه لري؛ الهي او فطري خلقت داسي دئ چي د انسان له پیدایښت تر نن پوري دوه داسي انسانان نه دي پیدا شوي چي له هره پلوه په بشپړه توګه سره ورته وي؛ نن په نژدې اته ملیارد انسانانو کي دوه داسي انسانان نه موندل کېږي چي د لاس د ګوتو ګاري ئې په بشپړه توګه یو ډول وي او سترګي ئې په خپلو کي هیڅ توپیر ونه لري؛ د انسانانو دا دواړه غړي داسي بارکوډ ګڼلی شو چي له مخي ئې په دقیقه توګه پېژندی او له نورو بېلولی شو. په یقین سره ویلی شو چي زمکه د خپل ځانګړي ترکیب او جوړښت له پلوه همداسي خاص بارکوډ لري.

که په کائنات کې د زمکې په څېر د بلې زمکې او ستورې جوړېدا ممکنه وی نو تر ننه به په هر ستورليکې کې ډېرې داسې زمکې جوړې شوې وې او د انسان په څېر عقلمن او د علم په وسله سمبال مخلوق به په کې پيدا شوی وو؛ داسې چې له علمي او تخنيکي پلوه به هم انسان ته ورته وو؛ اوس به د هغوی جيمزويب هم په فضاء کې مستقر شوی وو او لږ تر لږه د هغوی سيګنالونه به تر موږ رارسېدلي وو!!

د آسمانونو او زمکې د پيدايښت په اړه د قرآن وينا دا ده:

• آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کې پيدا شوي؛ بايد متوجه وو چې دلته له (يوم) زموږ د زمکې ۱۲ ساعته ورځ مراد نه ده؛ بلکې يوه اوږده (تکويني مرحله) مراد ده؛ لکه څنګه چې د زمکې او نورو ستورو ورځ فرق لري؛ د سپوږمې ورځ د زمکې له دېرشو ورځو سره برابره ده؛ په ځينو ستورو کې تر دې هم اوږده؛ همدا راز قرآن د الله تعالی په ارتباط کله يوه ورځ زر کلونه او کله پنځوس زره کلونه بولي. لکه چې فرمايي:

تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ ۝٤ المعارج

فرشتې او روح (جبرئيل) تر ده ورپورته کېږي؛ په داسې يوې ورځ کې چې مقدار ئې پنځوس زره کالونه دئ.

يعني فرشتې او د دوی سالار او سردار جبرئيل عليه السلام چې د روح او ژوند متعلق چارې ورسپارل شوې، د لوړ تلو لپاره ځانګړی او خاص معرج؛ (د لوړ تګ وخت) لري، پنځوس زره کلنه منصوبه ورسپارل کېږي، د خپل مأموريت په پای کې لوړ درومي او د الله تعالی حضور کې مشرف کېږي؛ چې د مخکينيو مأموريتونو نتائج وړاندې او نوې دندې په غاړه واخلي، يعني دلته هر کار د دقيقې او اوږدمهالې منصوبې له مخې په خپل خپل وخت ترسره کېږي، د قيامت منکران هسې تلوار او عجله کوي او د قيامت او الهي عذاب ځنډېدا ئې د خپل انکار لپاره توجيه او دليل وي.

• په دوو مرحلو کې آسمانونه او زمکه پيدا کړی شوي او په څلورو مرحلو کې د زمکې تسويه او برابرول بشپړ شوي. چې په دې کې يوه مرحله هغه ده چې د زمکې پر سر غرونه د لنګرونو په څېر پيدا کړی شوي او په همدې سره

ئې د زمکې لړزېدا تم کړه، بله ئې زمکې ته داسې جوړښت ورکول دي چې د برکت ټاټوبې ترې جوړ شو، هم ئې ژوي په کې پيدا کړل او هم ئې د هغوی رزق او روزي؛ دومره چې د ټولو حاجت ته په صحيح او بشپړه توګه ځواب ووايي؛ له زمکې ئې د انسان لپاره ډاډمن او د سکون او راحت باعث کور جوړ کړ او له آسمان مضبوط چت.

• ټول کائنات، آسمانونه او زمکه او څه چې د دوی تر منځ دي؛ تر لومړي پيدايښت وړاندې د لوګي په څېر ول. او دا همغه مرحله ده چې د عالم د جوړښت اصلي توکيو لا مادي بڼه نه وه غوره کړې او عناصر او مرکبات ئې لا نه وو خلق شوي.

• نژدې آسمان په ستورو ښايسته شوی او د هغه په غېږ کې ټول ستوري په خوندي او مصونه توګه ځای پرځای شوي. دغو ستورو هم آسمان ته ښايست ورکړی او هم ئې خوندي کړی. يعنې کوم ستوري چې موږ ئې په آسمان کې ګورو دا په حقيقت کې موږ ته تر ټولو د نژدې آسمان اړوند ستوري دي؛ نه ټول ستوري؛ موږ په خپلې فضاء کې يوازې د خپل اړوند ستورليکې ستوري ګورو؛ د ټولو ستورو ليدل اصلاً انسان ته په هيڅ توګه او هيڅکله ممکن او مقدور نه دي؛ او دا هغه ستر حقيقت دئ چې ستورپوهان وايي: ټول دغه ستوري چې موږ ئې په خپلو سترګو ګورو يوازې زموږ د هغه اړوند ستورليکې ستوري دي چې په انګريزي کې (Milky Way)، په فارسي کې کهکشان خط شيري او په پښتو کې شيدې وزمه ستورليکی ورته ويلی شو.

• په ټولو آسمانونو کې د يوه الله سنن او اوامر حاکم دي؛ که د عالم هرې برخې ته ولاړ شئ او د هغه ځای حاکم سنن او طبيعي ضوابط وڅېړئ؛ نو وبه ګورئ چې په بشپړه توګه سره ورته دي او دا ښيي چې د ټولو مخلوقاتو منشأ يوه ده او د ضوابطو وضع کوونکی ئې يو دئ، نه دوه او يا تر دې زيات.

• په زمکې کې د ټولو ژوو لپاره دومره رزق او روزي تعبيه شوې چې د ټولو حاجتونو ته ځواب وايي. نو په زمکې کې د فقر سبب د دغو خوراکې توکيو کمښت نه دئ؛ بلکې عامل ئې د انسان او د هغه په لاس د جوړ شوي ظالمانه نظام غير عادلانه وېش دئ.

که د دغو آيتونو اساسي مطالبو ته لږ ځير شئ نو وبه ګورئ چې فقره

فقره ئې همغه څه وايي چې څېړونکي او ساينسپوهان اوس پرې پوه شوي.

دې ته مو پام وي چې په پورتنيو آيتونو کې ويل شوي چې زمکه ئې په دوو ورځو کې پيدا کړه او ورپسې ويل شوي چې په څلورو ورځو کې ئې هغه تسويه او برابره کړه؛ او ورپسې ويل شوي چې بيا ئې د آسمان لوري ته مخه کړه په داسي حال کې چې لوگی وو، نو هغه او زمکې ته ئې وويل: په خپله خوښه يا په نه زړه راوړاندې شئ، وئې ويل: په خپله خوښه راځو، نو هغه ئې په دوو ورځو کې اُوه آسمانونه کړل؛ د قرآن په نورو آيتونو کې د ټول عالم د پيدايښت موده هم شپږ ورځې ښودل شوې او دا ښيي چې د زمکې د پيدايښت لومړۍ دوه ورځې همغه دي چې په ترڅ کې ئې آسمانونه او زمکه پيدا شوي او اړوند جوړښتونه ئې په برخه شوي، دې ته مو هم پام وي چې قرآن د آسمانونو او زمکې پيدايښت هممهال بولي او وايي چې دواړه سره نښتي ول او په يوه وخت سره بېل شوي، نو د دې معنی دا ده چې نه آسمان تر زمکې وړاندي پيدا شوی او نه زمکه تر آسمان وړاندي، دا بحث غلط او بې‌بنسټه دئ چې څوك د يوه پيدايښت تر بل وړاندي گڼي، دواړه په يوه وخت پيدا شوي، البته د زمکې تسويه او برابرول د دواړو له يو ځايي پيدايښت وروسته پيل شوې او څلور بېل بېل پړاوونه پرې تېر شوي چې اوسنی حالت ئې غوره کړی.

نن ساينسپوهان وايي:

- په سر کې د عالم ټول اجرام سره نښتي ول او د انرژي يوه متکاثفه وړه کتله وه، د يوه ستر انفجار په ترڅ کې خوره وره شوه، د انفجار د حرارت درجه دومره لوړه وه چې د مادې ابتدائي اجزاء؛ الکترون او پروټون ئې هم رامنځته کېدو ته نه پرېښودل؛ کائنات انتهائي رقيق جوړښت درلود؛ ساينسپوهان دا رقيقه فضاء د پلاسما په نامه يادوي؛ پلاسما ورو ورو مادي بڼه غوره کړې.
- د زمکې پر سر غرونه ډېر وروسته راپيدا شوي، د غرونو تر پيدا کېدو وړاندي زمکه ډېره خوځېدله، بهرنۍ ډبرين قشر او پوټکی ئې په پر له پسې توگه ماتېدو او د همدې ماتېدلو له کبله زلزلې راتلې، خو د همدغو غرونو له پيدايښت وروسته دا خوځښت او زلزلې راکمې شوې او زمکې اوسنی حالت غوره کړ.

- په دغو غرونو سره نه یوازې د زمکې هغه پر له پسې خوځښت او زلزلې متوقف شوې بلکې په زمکې کې داسې شرائط برابر شول چې بېلې بېلې سیمې ئې د بېلو بېلو ژوو د پیدایښت لپاره جوګه شې، په زمکې کې د ژوو او د دوی د رزق او روزي د پیدایښت لړۍ له دې وروسته پیل شوه. که دا غرونه نه وی نو له یوې خوا به په زمکې کې نه د واورو ستر ستر ذخائر وو، نه نهرونه، چینې او کاریزونه او نه د بېلو بېلو نباتاتو لپاره مناسب چاپېریالونه او هوائي موسمونه؛ د ټولې زمکې هوا به تر ډېره حده سره ورته وه؛ حتی بادونه او سیلۍ به هم نه وې؛ ځکه د بادونو د خوځېدو او چلېدو یوه اساسي وجه دا ده چې په تودو سیمو کې هوا پورته ولاړه شي، تشه رامنځته شي او د دې تشې د ډکولو لپاره له ګاونډ سړو سیمو بادونه او سېلۍ راوخوځېږي. همدا بادونه دي چې د سیمو په هوا او موسمي چاپیریال کې تعادل رامنځته کوي، هوا تصفیه کوي، وریځې خوځوي او د نباتاتو په القاح کې مرسته کوي.

او دا ټول هغه څه دي چې قرآن په دغو او نورو آیتونو کې څوارلس پېړۍ وړاندې ویلي!!

## آیا زمکې ته ورته ستوری په کائنات کې شته؟

له ما دا پوښتنه وشوه: ستاسو په نظر؛ آیا د کائنات د قوانینو او مادي جوړښت دا بشپړ یووالی او ثبات؛ دا احتمال ډېروي چې د کائناتو په نورو برخو او ستورلیکو کې به هم د زمکې په څېر زمکې او د ژوند د پېدا کېدو لپاره مناسب شرائط او چاپېریال چمتو شوی وي؟

زما مختصر ځواب او وروسته تفصیلي شرح ئې؛ خوښ او پرې قانع شو؛ مختصر ځواب مې دا وو: که په ټولې نړۍ کې دوه داسې انسانان نه موندل کېږي چې په بشپړ ډول سره ورته وي؛ یا حتی د سترګو جوړښت یا د لاس د ګوتو ګاري ئې سره ورته وي؛ نو داسې ستوری موندل چې کاملاً له زمکې سره یو شانته وي؛ همداسې ناممکن او محال دي؛ زما د ځواب تفصیل داسې وو: ما د قرآن د یوې برخې له څو آیتونو چې کله کله ئې د تهجد په لمانځه کې تکراروم؛ دا نتیجه تر لاسه کړې چې په زمکې کې د شپې او ورځې دا اوسنی نظام؛ د ټول عالم له اوسني نظم سره داسې ژور تړاو لري چې که په عالم کې معمولي تغییر راشي نو د زمکې شپه او ورځ به هم تغییر کوي او د ژوند

اوسنی مناسب چاپېرال به ئې هم له منځه ځي؛ د لمر او زمکې تر منځ موجود واټن، د شمسي نظام د ټولو ستورو او لمر تر منځ واټن، همداسې زموږ په ستورليکې کې زموږ د شمسي نظام موقعيت، او په ټول عالم کې زموږ د ستورليکې موقعيت؛ دا ټول داسې تنظيم شوي چې په نتيجه کې ئې د زمکې دا اوسنی چاپېريال رامنځته شوی؛ او د ژوند ضروري شرائط په کې برابر شوي؛ د دې ستر عالم په هرې برخې کې لوی او پراخ تغيير زموږ پر شمسي نظام او د زمکې پر موقعيت او شرائطو اغېز لري؛ په نورو ستورو کې د ژوو د پيدايښت لپاره کټ مټ داسې شرائط په کار دي چې په بشپړه توګه له زمکې سره ورته وي؛ او دا راته دومره محال او غير ممکن معلومېږي لکه په ټولو انسانانو کې دوه داسې کسان موندل چې د ګوتو ګاري ئې سره ورته وي؛ آيتونه دا دي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٤﴾ غافر

٦١- الله هغه ذات دئ چې شپه ئې ستاسو لپاره داسې ګرځولې چې په هغې کې هوسا شئ او ورځ ئې د ليدو وسيله، بې‌شکه چې الله پر خلکو د پېرزوينې خاوند دئ خو د خلکو ډېری شکر نه کوي، ٦٢- همدا ستاسو رب دئ، د هر څه خالق، له ده پرته بل معبود نشته، نو څنګه دوکه کېږئ؟ ٦٣- همداسې هغه دوکه کړی شوي وو چې د الله له آيتونو ئې انکار کولو. الله هغه ذات دئ چې زمکه ئې تاسو ته تم ځای وګرځوله او آسمان ئې چت؛ او تاسو ته ئې صورت درکړ، نو ستاسو صورت ئې غوره او ښايسته کړ او له پاکيزه وو ئې تاسو ته روزي درکړه، همدا ستاسو پالونکی رب دئ، نو با برکته دئ د عالمونو رب الله.

د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• د چا په اراده چې شپه او ورځ ځي راځي، یوه ئې ستاسو د هوساینې لپاره بله ئې تاسو ته د رڼا او تودوخې درکولو لپاره؛ او په دې توګه ئې خپل ستر فضل ستاسو په برخه کړی، همدا ذات الله تعالی دئ.

• د شپې او ورځې همغږي او هدفمني او هغه نتائج چې د دوی په تلو راتلو مرتب کېږي، داسې چې شپه ستاسو د هوساینې او سکون لپاره ده، چې د ورځې له خوا د مسلسل کار په نتیجه کې ضایع شوې انرژي جبران او خپل قوت تجدید او اکمال کړئ او د سبا ورځې لپاره مستعد او تیار شئ او ورځ ئې ستاسو د معاش د تأمین وسیله ګرځولې، داسې چې هر څه د هغې په رڼا کې پېژندلی او کارولی شئ، په دې ترتیب رحمٰن رب خپل ستر فضل ستاسو په حال شامل کړی، چې ستاسو اړتیاوو ته د دې طبیعت په غېږ کې او د هغه په تحولاتو او بدلونونو کې ځواب وایي.

• شپه او ورځ پر دې سربېره چې د الله د فضل او پېرزوینې نښې او مظاهر دي؛ د هغوی تګ راتګ د دې عالم له ګڼ شمېر اجرامو سره لکه لمر، سپوږمۍ، زمکه، حتی ستوري، ستورلیکې؛ او هر څه چې په آسمانونو او زمکه کې دي؛ عمیق ربط او تړاو لري، د دغو ټولو خاص تنظیم او په خپلو منځونو کې خاص ارتباط او تعلق، په دې منتج شي چې شپه او ورځ په خپل موجوده شکل کې په یوه بل پسې راشي، د دې ټول عالم د بېلو بېلو اجرامو تر منځ تناسق، یووالی او هم غږي او بیا د دوی او د انسان د طبیعت تر منځ دا موزون او متناسب پیوند او تعلق په خپله ثابتوي چې د ټول عالم پیدا کوونکی او پالونکی رب یو دئ، هغه دا عالم اداره کوي، هر څه ته ئې د خوځېدو خاص لوری او جهت ټاکلی او د ټولو تر منځ ئې دا توافق او یووالی راپیدا کړی.

د ٦٤ آیت لارښوونې دا دي:

• هغه ذات چې زمکه او آسمانونه ئې پیدا کړل، د دوی تر منځ ئې داسې وحدت، تنسیق او یووالی رامنځته کړ چې یو ستا د اوسېدو لپاره تم ځای او مستقر وي او بل ئې چت او په دغه کور کې چې زمکه ئې فرش او آسمان ئې چت دئ، ته ئې له داسې جوړښت سره پیدا کړې چې په دې کور کې اوسېدی شې، هغه ستا له طبیعت سره متوازن او متناسب دئ، فشار ئې، حرارت ئې،

یخني ئې، سختوالی او نرم والی ئې او هر څه ئې ستا لپاره مناسب دي.
- ستا د دې کور چت او فرش یو بل ته لاس ورکوي او په ګډه کار کوي، یو اوبه راوروي، بل دانه او مېوه راشنه کوي او په دې ترتیب ستا لپاره د داسې پاك رزق انتظام کوي چې ته ئې هم له رنګ، هم له خوند او هم له بوی لذت او خوند اخلې، ستا اړتیاوو ته ځواب وایي او ستا د ژوند او بقاء عوامل برابروي.
- هغه ذات چې د آسمان، زمکې او ستا تر منځ ئې دا یووالی او تناسق راپیدا کړی هماغه ستاسو رب او د عالمونو رب دئ.

یعني په آسمانونو او زمکې کې د یوه الله حکم نافذ دئ او له یوې مرجع د ټولو ساتنه او پالنه کېږي، له همدې امله ده چې له یوې خوا ګورو چې د عالم د دې بې‌حسابه اجسامو او اجرامو تر منځ ټکر او تصادم نه راځي او هر څه په خپل خپل مدار او مسیر کې خوځي او اداره کېږي، له بلې خوا زمکه او آسمان په ګډه کار کوي او د انسان اړتیاوو ته ځواب وایي، که چېرې د دې خور او پراخ عالم اداره، حفاظت او ساتنه؛ د واحد مدیر، مدبر، قیوم او پالونکي ذات په واك کې نه وی یا په مختلفو لاسونو کې وی، هرومرو به د ارادو اختلاف په ټکر او تصادم منتج کېدو او د دنیا نظم به متلاشي کېدو. د زمکې او آسمان تر منځ یووالی او هم جهتي دا ثابتوي چې د دواړو خالق او رب یو دئ.

## د زمکې اوسني شرائط او ارتباط ئې له ټول کائنات سره

حقیقت همدا دئ چې په دغو آیتونو کې ځلېدلی؛ د زمکې پر مخ د ۲۴ ساعتونو شپه او ورځ او د څلورو فصلونو تګ راتګ؛ یوازې د زمکې په خپل جوړښت او حرکت پورې تړلی نه دئ بلکې دا د ټول شمسي نظام د دقیق جوړښت او ثبات نتیجه ده؛ که د لمر جاذبه لږه تغییر ومومي، یا د مشتري او شمسي نظام کوم بل ستوري وضعیت، حرکت او فاصله کې تغییر راشي؛ نو په نتیجه کې به ئې د زمکې د څرخېدو سرعت او د (۲۳,۵) درجې زاویه بدلېږي او په دې سره به یا شپه او ورځ خورا اوږدې شي؛ دومره چې په یوې برخې کې به ئې هر څه وسوزي او په بلې کې به کنګل شي او یا به د فصلونو دا

اوسنی متعادل نظام له منځه لاړ شي. یعني چې د زمکې دا کوچنی نظم د ټول کاینات له ستر نظم سره په داسې یوه مزې تړل شوی چې په یوې برخې کې د توازن خرابېدا؛ په زمکې کې د ژوند او د دوام امکانات ئې له منځه وړي.

او په کائنات کې د بلې زمکې موندل؛ دومره ګران او ناممکن کار دئ لکه په څو ملیارده انسانانو کې دوه داسې انسانان موندل چې د ګوتو د سرونو ګاري ئې په بشپړه توګه سره ورته وي.

د بیولوژي او نجوم له نظره په عالم کې د بل داسې ستوري شتون چې له هره پلوه له زمکې سره ورته وي او ټول هغه شرائط په کې شتون ولري چې د ژوند او دوام لپاره ئې ضروري او لابدي دي؛ که په بشپړه توګه محال او ناممکن نه وي نو شبه محال دي؛ دا شرائط دومره حساس دي چې که په همدې زمکې کې لازم احتیاط ونه شي نو کېدی شي دا زمکه د انسانانو په هدېرې بدله شي؛ همدا سږ کال دوبې کې په اروپا کې د حرارت درجه لږ زیاته شوې وه او په نتیجه کې ئې په ځینو اروپایي هېوادو کې د ٤١ درجې سانتي ګرات حرارت له کبله په څو ورځو کې شاوخوا ٤٠٠٠ اروپایان مړه شول؛ په داسې حال کې چې په هند او پاکستان کې د حرارت درجه کله تر ٥٠ درجې سانتي ګرات رسېږي خو د مرګونو شمېره ئې دومره نه وي؛ همدا راز په نورو هېوادونو کې د سختو سیلابونو او طوفانونو شاهد وو؛ وجه ئې د زمکې د اوزون پردې سولېدا ښودل شوې چې دا هم په زمکې کې د زیات کاربن دای اکساید ګازونو د تولید له کبله رامنځته شوې؛ د ملل متحد اړوند ادارې څو کاله وړاندې دا ګواښ کړی وو چې که د دې ګاز د زیات تولید مخنیوی ونه شي نو د زمکې چاپېریال به دومره بده بڼه غوره کړي چې د ژوند امکانات به په کې ختم شي.

له دې څو ساده بېلګو باید دا حقیقت زده کړو چې د زمکې اوسنی جوړښت او چاپېریال ډېر حساس او پېچلی دئ؛ د څو درجو حرارت تغییر فاجعې زېږوي او د زرګونو انسانانو په مرګ منتج کېږي؛ نو په زمکې کې او د زمکې ماحول ستورو کې جدي او پراخ تغییرات به څومره بدي پایلې ولري؟!

په زمکې کې د ژوند لپاره شرایط دومره حساس، پېچلي او پراخ دي چې دې ته کټ مټ ورته بله داسې زمکه او ستوری موندل چې د مقناطیسي ساحې، فشار، اوبو، هوا، او له خپل لمر د واټن له امله کټ مټ د زمکې په څېر وي؛

داسي ګران او محال دي لکه په ملياردونو انسانانو کي د دوو داسي انسانانو موندل چي به بشپړ ډول سره ورته وي. څوك چي په فضاء کې داسي ستوري لټوي چي زمکي ته ورته وي؛ هغوی ته وايو: لومړی په زمکي کې شبيه او ورته انسانان ولټوئ که موفق شوئ نو بيا د بلي زمکي موندلو لپاره فضائي سفرونه پيل کړئ؛ قرآن وايي: د انسان خلقت د آسمانونو تر خلقت ډېر آسان دئ:

لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾ غافر

د آسمانونو پيدايښت حتماً د خلکو تر پيدايښت ډېر ستر (کار) دئ؛ خو اکثر خلك نه پوهېږي.

بدباوره مخالفين د انسان بيا ژوندون محال ګڼي، په آخرت او الهي محاسبې او مکافات او مجازات باور نه لري، دې ته ئې پام نه دئ چي د آسمانونو پيدا کوونکي رب ته؛ د وړوکي انسان بيا پيدا کول ډېر ساده او آسان کار دئ!! لومړی ځل ئې پيدا کړی؛ له مرګ وروسته ئې بياراژوندي کول تر لومړي ځل ډېر آسان دئ؛ دا انسان دومره وړوکی دئ چي دی، زمکه ئې او ټول ستورليکی ئې؛ د ټول کائنات په پرتله د يوې منې په اندازه هم نه دي؛ نو دې ستر او ځواکمن رب العالمين ته به د انسان بيا پيدا کول ولي ګران کار وي؟

## غرونه څه دي او غوره تعريف به ئې څه وي؟

که وغواړو د غرونو لپاره تر ټولو غوره او دقيق تعريف؛ په جامع او مختصرو الفاظو سره وړاندي کړو؛ هغه به څه وي؟ غرونه د زمکي لويه برخه ده او له برکاتو ډکه زېرمه؛ کانونه ئې، ځنګلونه ئې، د واورو ستر ستر ذخائر ئې او ... آيا دا غرونه هسي د زمکي د سر لوړي دي، که داسي څه چي مېخونو ته ورته دي، ډېره برخه ئې په زمکي کې ننوتې ده او لږ بهر راوتلې ده؟ قرآن په دې اړه وايي:

أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا ﴿٦﴾ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ النبأ

آيا دا زمکه مو يوه زانګو نه ده ګرځولې؟ او دا غرونه؛ څو مېخونه؟

دا مبارك آیتونه موږ ته وايي:

- لږ دغي زمکي ته وګوره چي په غېږ کي ئې ژوند کوې او پر اوږو ئې درومې، ستا لپاره یوه زانګو، نه ډېره سخته او کلکه، هومره چي د استفادې وړ نه وي او نه هومره نرمه او پسته چي نه پرې تګ ممکن وي او نه د اوسېدو وړ، نه ډېره توده او نه له اندازې زیاته سړه، ستا له طبیعي جوړښت سره متناسبه، هوا ئې معتدله، ستا د اوسېدو لپاره جوګه، تیاره یوه زانګو، داسي چي که ئې وضعیت لږ تر دې بدل وی، د تودوخي درجه ئې زیاته یا کمه، فشار ئې لږ یا ډېر، د ورښت اندازه ئې زیاته یا کمه او بله هره عادي تبدیلي او تغییر ئې نظم له منځه وړي، ستا ژوند له جدي ګواښ سره مخامخ کوي او دا زانګو ستا لپاره ګور ګرځوي!!
- د زمکي له اوارو لږ د لوړو په لور؛ غرونو ته سترګي واړوه؛ آیا دې ته دي پام شوی چي دا غرونه ستا د زمکي مېخونه دي او ونډه ئې د زمکي د زانګو په راټینګولو او ټملو کي هومره ده لکه د کېږدۍ په درولو کي د مېږویو او د صندوق په جوړولو کي د مېخونو؛ هو؛ دا د زمکي مېخونه دي؛ له څو پلوه:

الف: داسي مه انګېره چي دا غرونه یوازي د زمکي پر سر لوړي دي، ګمان مه کوه چي د زمکي پورتنۍ برخه ګونځي شوې او دا لوړي او ژوري په کي راپیدا شوې، تا ته به غرونه د خاورو او تیږو لوړي غونډۍ برېښي، خو حقیقت داسي نه دئ، غرونه د مېخونو په څېر د زمکي په زړه کي ننوتي، لویه برخه ئې د زمکي په زړه کي او وړه برخه ئې راوتلې او د زمکي پر سر ده. او آیا پوهېږئ چي دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ، انسان اوس او په شلمه پېړۍ کي په دې پوه شو چي واقعاً غرونه هسي د زمکي د سر لوړي نه دي، بلکي د مېخونو په څېر ئې لویه برخه د زمکي په زړه کي او وړه برخه ئې د زمکي پر سر ده.

ب: دغو سترو او درنو غرونو د زمکي بېلې بېلې برخي په خپلو کي سره کلکي نښلولې دي، داسي لکه د اوسپني تختې چي د ولډنګ په ذریعه په خپلو کي سره ونښلي، دا غرونه د زمکي پر سر هغه درانه پېټي وګڼئ چي نه پرېږدي د زمکي هغه کلك او ډبرین پوستکی چي تر خاورو څو کیلومتره لاندي دئ، د هغه فشار په وجه مات شي چي د زمکي له زړه د خوټېدونکو موادو له کبله راولاړېږي، په دې ترتیب غرونه د زمکي د زلزلو مخنیوی کوي، انسان له

ډېرو علمي څېړنو وروسته نن په دې حقیقت پوه شوی چې د ځمکې تر خاورین قشر لاندې، د کلکې ډبرې پرېړ پوستکی راتاو شوی او د ځمکې په زړه کې د ډېر فشار او تودوخې په وجه هر څه ویلې او د خوټېدو په حالت کې دي، له دې چې کوم فشار راپیدا کېږي هغه داسې وګڼئ لکه په سره اور پروت، د خوټېدو په حال کې د بخار دېګ چې له دننه تر سخت فشار لاندې وي، د ځمکې ډبرین پوستکی هم دې ته ورته د ډېر ستر فشار لاندې وي، که دا غرونه او د دوی زیات وزن نه وی نو د دې فشار په وړاندې به ئې د مقاومت تاب نه درلود او دلته هلته به یو په بل پسې ماتېدو او زلزلې به راولاړېدې. دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه ئې د (مېخونو) او (لنګر) په نامه یاد کړي او دا هغه حقیقت دئ چې انسان فقط په دې پېړۍ کې پرې پوه شو. قرآن دا حقیقت هم بیان کړی چې د غرونو له راپیدا کېدو د مخه ځمکه خوځېده، له پرله پسې زلزلو سره مخ وه، الله تعالی غرونه ورباندې راپیدا کړل او دا خوځښت ئې سمبال شو او دا هم د غرونو په ارتباط یو بل ستر علمي حقیقت دئ چې انسان اوس پرې پوه شوی.

ج: په دې هم پوهېږو چې غرونه د اوبو زېرمې په خپلې سینې کې ساتي، د واورې ستر ستر ذخائر له فوري ویلې کېدو ساتي، نهرونه، چینې او کارېزونه له همدې غرونو رابهېږي، د مختلفو سیمو د هوا او موسم په تغییر او د رنګ رنګ نباتاتو په زرغونېدو کې د غرونو ونډه ډېره اساسي او ټاکونکې ده، نو غرونه له دې پلوه هم د ځمکې د خیمې لپاره د مېخونو حیثیت لري چې د ژوند د بقاء او ژوندیو ته د رزق او روزي په برابرولو کې مؤثره ونډه لري.

## اوبه د ځمکې د سر لومړی مرکب

آیا کله مو دا پوښتنه په ذهن کې راولاړه شوې چې په ځمکې کې به کوم عنصر او بیا کوم مرکب تر نورو وړاندې پیدا شوی وي؟ ساینس دې پوښتنې ته ځواب موندلی؛ اوس باید دې پوښتنې ته هم ځواب ولټوو چې آیا قرآن هم په دې اړه څه ویلي که نه؟ مخصوصاً که یو کمونیست او سیکولر له تاسو دا پوښتنه وکړي. د الانبیاء سورې په دېرشم آیت کې مو ولیدل چې د آسمانونو او ځمکې له پیدایښت سره متصل د اوبو او له اوبو د ټولو ژوو

پیدایښت ته اشاره کوي او وايي:

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ الأنبياء

آیا هغه چي کفر ئې کړی؛ دې ته ئې پام نه دئ کړی چي آسمانونه او زمکه سره (نښتي) وو، نو موږ سره (بېل) کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پیدا کړی؛ نو آیا ایمان نه راوړي؟!

په دې آیت کي او یو په بل پسي د زمکي او آسمان له پیدایښت سره متصل د اوبو او له اوبو د هر ژوي د پیدایښت ذکر؛ دا مطلب په ګوته کوي چي د زمکي پر سر تر ټولو د مخه اوبه پیدا شوې؛ او بیا ټول ژوي له اوبو؛ دا هغه حقیقت دئ چي قرآن څوارلس سوه کاله مخکي بیان کړی او ساینس اوس پرې پوهېدلی. نن چي ته له هر ساینسپوه د زمکي، آسمان او اوبو د پیدایښت په اړه پوښتنه وکړې؛ او یا کوم مصنوعي هوش وپوښتې؛ نو ځواب به ئې همدا وي چي قرآن ویلي. ساینسپوهان وايي: "... په کائنات کي د مرکباتو جامد او مایع حالتونو ته په پام سره؛ اوبه تر ټولو لومړنی مرکب ګڼل کېږي؛ تر اوبو وړاندي بل مائع او جامد مرکب نه دئ پیدا شوی"؛ هغوی وايي: د زمکي لومړي پیدا شوي عناصر هایډروجن او هیلیوم دي، هایډروجن تر ټولو سپك او ساده عنصر دئ چي یو پروټون او یو الکترون لري، هایډروجن د اوبو د ترکیب دوه درېیمه برخه ده، د هایډروجن دوه اتومونه د اوکسیجن له یوه اتوم سره یو ځای شوي او اوبه ترې جوړي شوې؛ دا ترکیب د زمکي په فضاء کي او هغه مهال رامنځته شوی چي د زمکي د تودوخي درجه راکمه شوې او د فارنهایټ نژدې څلورو زرو درجو ته رسېدلې. نور عناصر تر هایډروجن وروسته جوړ شوي او اړوند مرکبات ئې هم وروسته وروسته پیدا شوي. قرآن د هود د سورې په اوم آیت کي فرمايي:

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِنۢ بَعْدِ ٱلْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ هود

او دی (الله) هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو (شپږو

تکویني مراحلو) کې پیدا کړل؛ او عرش ئې پر اوبو وو؛ د دې لپاره چې تاسو وآزمويي چې کوم يو مو د عمل له مخي تر ټولو غوره دئ؛ او که ته ووايې چې تاسو به له خپلي مړيني وروسته هرومرو راپاڅئ نو هغه چې کفر ئې کړی حتماً به ووايي: دا له ځرگند جادو (دوکې) پرته بل څه نه دئ!!

د دې آيت په تفسير کې د درنو مفسرينو تر منځ ژور اختلاف تر سترگو کېږي، هم په دې اړه چې آيا له شپږو ورځو همدا زموږ اوسنۍ ورځې مراد دي او که شپږ تکويني مراحل؟ او هم په دې اړه چې د دې فقرې معنی څه ده چې د آسمانونو او زمکې د پيدايښت په مهال د الله عرش پر اوبو وو؟ آيا عرش او اوبه د زمکې او آسمانونو له پيدايښت مخکې پيدا شوي؟ آيا عرش داسي شی دئ چې د بل څه پر سر ولاړ وي همغسي لکه د زمکې کوم تخت؟ تر اوبو وړاندي عرش چېري وو؟ تر عرش وړاندي الله تعالی چېري وو؟ او که معنی ئې دا ده چې هغه مهال يوازي اوبه د الله تعالی تر واکمنۍ لاندي وې او نور څه نه وو؟ آيا له اوبو مراد همدا زموږ اوسنۍ د ځښلو اوبه دي که دا چې هغه مهال آسمانونه او زمکه د اوبو په څېر (ويلي او مائع) وو؟

د دې مبارك آيت په اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

دلته د الله تعالی په اړه د (عرش) او (ورځې) يادونه شوې، انسانانو دا دوه نومونه د خاصو شيانو لپاره وضع کړي، کله چې دې ته ورته نومونه د غيبي او معنوي شيانو يا د الله تعالی په اړه راځي نو موږ ئې په هغه متبادره معنی نشو اخيستی چې انسانان ئې ورته کاروي، نه عرش داسي شی دئ چې د زمکې کوم تخت ته ورته وي او نه دا ورځ هغه موده ده چې زموږ له دولسو ساعتونو سره برابره وي، په کومو آيتونو کې چې داسي الفاظ د معنوي شيانو او غيبي امورو لپاره راشي هغوی ته متشابه آيتونه ويل کېږي، په هغوی کې داسي غيبي شيان چې انسان ورته نوم نه لري په داسي الفاظو ياد شوي چې انسان د ليدل کېدونکو شيانو لپاره وضع کړي، په دې سره موږ ته د معنوي او غيبي شيانو په اړه نسبي معرفت او معلومات راپه برخه کېږي، د دې يو مثال همدا د (ورځ) اصطلاح ده چې قرآن ئې يو ځای د داسي مودې لپاره راوړي چې زموږ له زرو کلونو سره برابره ده او بل ځای ئې د پنځوسو زرو کلونو اوږدې مودې لپاره کاروله، نو دا شپږ ورځې هم دا زموږ شپږ ورځې نه دي چې نژدې دوه اويا ساعتونه کېږي؛ بلکې شپږ تکويني مراحل

دي؛ چي اوږدوالی ئې يوازي الله تعالی ته معلوم دئ.

موږ په قرآن کې ګڼ شمېر استعارې مومو؛ د استعارو ماهيت داسي وي چي په متبادره او ظاهري معنی نه شي اخيستل کېدی؛ پر عرش استوی يوه استعاره ده؛ د دې لپاره کارول کېږې چي څوك د كوم ملك واكمني تر لاسه کړي او د مَلِك او پاچا په توګه عملاً واكمني پيل کړي؛ كه وايو احمد درونډ سړی دئ؛ نو معنی ئې دا نه ده چي احمد د وزن له پلوه درونډ دئ؛ بلکې د درونډ صيغه او صفت د يوې استعارې په توګه د يوه اخلاقي او معنوي صفت لپاره کاروو؛ په دې موخه چي هغه ته متانت او شرافت منسوب کړو. که وايو فلانی سپك انسان دئ؛ معنی ئې دا نه ده چي وزن ئې کم دئ؛ بلکې د ده اخلاقي سپکوالی او پرېوتی شخصيت بيانوو؛ د دې تفصيل د قرآن پلوشې تفسير د الاعراف د سورې د ۵۴م آيت په تفسير کې ولولئ.

د آيت د دې فقرې (وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ) په اړه درنو مفسرينو بېل بېل آراء وړاندي کړي، د ځينو له تعبيرونو داسي معلومېږي چي ګواکې د الله تعالی عرش به د زمکي د سر كوم تخت ته ورته شی وي او پر اوبو ئې اوسېدا او ولاړه همغسي وه لکه د اوبو پر سر د كوم تخت ودرېدا! دا غلطي هغو کړې چي د عرش په ارتباط د بايبل له ناسم تعبير او تفسير متأثر شوي؛ په داسي حال کې چي نه د الله تعالی عرش د زمکي كوم تخت ته ورته دئ او نه ئې پر اوبو اوسېدا داسي ده لکه پر اوبو د زمکي د كوم تخت ودرېدا، نه عرش ازلي شی دئ او نه اوبه، نه د دغو الفاظو مراد او معنی دا ده چي د الله تعالی عرش د اوبو له پاسه ولاړ وو او نه د الله تعالی عرش داسي شی دئ چي د ودرېدو لپاره کومي آواري سطحي ته ضرورت لري، الله تعالی دا آسمانونه او په هغوی کې ټول ستوري له کومي ستني پرته ودرولي نو عرش به ئې څنګه پښو او محل ته اړ وي؟! عرش څکه محل نه دئ چي الله تعالی مکان ته ضرورت نه لري؛ مکان او زمان ته اړتيا د مخلوق ځانګړني دي؛ الله تعالی نه د زمان تابع دئ او نه مکان ته اړ. دا غلطي انګېرني او ناسم تصورات د هغه چا د تنګ او تياره ذهن زېږنده دي چي الله تعالی او عرش ئې د زمکي د سر له مخلوقاتو سره تشبيه کوي، د آيت معنی دا نه ده چي د آسمانونو او زمکي د پيدايښت پر مهال د الله تعالی عرش د اوبو پر سر داسي ولاړ وو لکه د زمکي كوم تخت چي پر اوبو ولاړ وي!! دا کمعقله سادګان ولي دې ته متوجه

نه دي چې الله تعالی دا کائنات د اوبو په شمول له نشت پیدا کړی، نه اوبه ازلي دي او نه عرش، د کائنات تر پیدایښت وړاندې نه عرش وو او نه اوبه، الله تعالی په داسې حال کې وو چې له ده پرته هیڅ څه نه وو؛ د قرآن په پنځو آیتونو کې ویل شوي: الله تعالی لومړی زمکه او آسمانونه پیدا کړل بیا ئې پر عرش استوی وکړه؛ یعني الله تعالی لومړی کائنات پیدا کړ او ورپسې ئې د هغه د ټولو چارو سمبالول پیل کړل؛ دا ځکه چې الله تعالی هم خالق دئ او هم د چارو سمبالوونکی؛ همغسې چې قرآن فرمايي: (... أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ... الاعراف: ٥٤): ... په دې پوه شه چې هم خلقت (پیدایښت) الله ته مختص دئ او هم امر (چارې سمبالول)؛ قرآن دا مطلب د (ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ) په شرح او تفسیر کې راوړی. د دې تفصیل د قرآن پلوشې تفسیر؛ د الاعراف سورې ٥٤ آیت په شرح کې وګورئ.

څوك چې د دې آیت په تعبیر کې دغه غلط اسلوب غوره کوي له داسې پوښتنو سره مخامخ کېږي چې هیڅ ځواب ورته نشي موندلی؛ لکه دا چې: عرش تر اوبو مخکې چېرې وو او پر څه ولاړ وو؟ اوبه پر څه ولاړې وې؟ الله تعالی تر عرش مخکې چېرې وو او پر څه ئې استوی کړې وه؟ ولې د قرآن په ټولو اړوند آیتونو کې لومړې د زمکې او آسمانونو پیدایښت ښودل شوی او بیا پر عرش استوی؟! له هغو چې د الله تعالی د کتاب په اړه داسې د علم، عقل او په خپله د قرآن د څرګندو آیتونو خلاف غلط او له ځانه جوړ شوي تفسیرونه او تعبیرونه کوي؛ هیله کوو؛ مه خلك د قرآن په اړه شکمن کوئ او مه ئې پر ځان خندوئ؛ ستاسو دا تعبیر همغسې دئ لکه چې استادان مو وايي: زمکه د غوايي پر ښکر ولاړه ده او زلزلې هغه مهال رامنځته کېږي چې دا غويی د سترېا له کبله زمکه له یوه ښکر بل ته انتقالوي!!

د یوه آیت په اصلي مطلب هغه مهال ښه پوهېدی شو چې وګورو په کوم مناسبت راغلی؟ د بحث اصلي موضوع ئې څه ده؟ تر هغه مخکې او وروسته څه ویل شوي؟ که دلته لږ ځیر شو نو راته جوته کېږي چې دا آیت له مخکیني آیت سره ژور ارتباط لري، په مخکیني کې ویل شوي چې د ټولو ژوو او ساکښو روزي د الله تعالی پر ذمه ده، همغه الله چې د دوی د پیدایښت او مړیني له ښېې خبر دئ، پوهېږي چې د څومره ژوو لپاره د رزق او روزي انتظام وکړي؛ ورپسې ویل شوي چې الله همغه ذات دئ چې

آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي؛ تاسو پوهېږئ چې د رزق او روزي اصلي اسباب آسمان او زمکه دي چې له یوه باران راورېږي او لمر ئې زمکې ته رڼا او تودوخه ورکوي او بله ئې دانه او مېوه راشنه کوي، او بیا په آسمان او زمکې کې د رزق تر ټولو مهم او اساسي توکی اوبه دي چې ورېدا، ذخیره کېدا، د زمکې پر سر روانېدا ئې د الله تعالی په حکم دي؛ او د ټولو ژوو او خوراکي توکیو پیدایښت ورپوري تړلی دئ؛ چې خبره داسي ده نو باید پوه شې چې واقعاً الله تعالی د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وار دئ، او دا همغه مطلب دئ چې په همدې توګه د العنکبوت په سوره کې په دې بڼه راغلی:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦٠﴾
وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ
ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ
ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ
ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ
﴿٦٣﴾ العنکبوت

او څومره ژوي داسي دي چې خپله روزي نه وړي (بار ئې د دوی پر اوږو نه دئ)، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم؛ او دی پوه اورېدونکی دئ؛ او که ئې وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووايي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږئ؟ دا خو الله دئ چې په خپلو بندګانو کې هغه چا ته روزي پراخوي چې دی ئې غواړي او یا ئې ورته محدوده او تنګه کوي؛ یقیناً چې هغه پر هر څه ښه پوه دئ؛ او که ئې وپوښتې چې څوك له آسمان اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلې مړيني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي: الله؛ ووایه: ستاینې ټولې الله ته دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

په دې آیتونو کې هم ګورئ چې لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بیا د آسمانونو او زمکې د پیدایښت، د لمر، سپوږمۍ د تسخیر (چې شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)،

بيا له آسمانه د اوبو راورېدا او بيا په زمکې کې د ژوندون پيلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه موږ ته ويل شوي چې رزق او وسائل او اسباب ئې د الله له لوري پيدا شوي او ذمه وار ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چې چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. که لږ ځير شئ نو درته جوته به شي چې د دغو دواړو سورتونو په دغو آيتونو کې بشپړ ورته والی او يو د بل شرح او تفسير دئ.

دې ته مو هم بايد پام وي چې لکه په (على الله رزقها) کې (على) د فوقيت او بروالي په معنی نشو اخيستی او داسي نه شو ويلی چې رزق ئې د الله د پاسه دئ؛ بلکې وايو رزق ئې د الله پر (ذمه) دئ، همداسي په (كان عرشه على الماء) کې نه شو ويلي چې عرش ئې د اوبو له پاسه ولاړ وو؛ بلکې بايد ووايو: اوبه د الله تعالی د واکمنۍ تر عرش لاندي وې. ځکه دلته د بحث اصلي موضوع همدا ده چې د رزق او روزي وسائل د الله تعالی په واك کې دي.

دې ته مو هم بايد پام وي چې که دا آيت په بل ځای کې راغلی وی او هلته د بحث موضوع د عرش څرنګوالی وی؛ نو قرآن موږ ته وايي چې د متشابه آيتونو د الفاظو داسي تأويل چې د مجازي معنی په ځای ئې په حقيقي معنی د پوهېدا هڅي او لټي ته ورته وي؛ دا د هغو کار دئ چې زړونه ئې بيمار وي، د ايمان او علم خاوندان د دغو آيتونو د الفاظو له تأويل ډډه کوي او وايي چې په تأويل ئې له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي، هيڅوك نه پوهېږي چې د عرش او پر اوبو ئې د ودرېدا کيفيت څنګه دئ، خو دلته په حقيقت کې په دې الفاظو سره موږ ته د هغه حالت کيفيت نه دئ انځور شوی بلکې دا مطلب ويل شوی چې د آسمانونو او زمکې له پيدايښت وروسته د الله تعالی په ملك کې او د ده د واکمنۍ تر عرش لاندي لومړۍ پيدا شوې ماده هغه اوبه دي چې انسانان او نور ژوي ترې پيدا شوي (ځکه قرآن وايي چې هر ژوی مو له اوبو پيدا کړی: وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍ)، تر دې مخکينی آيت هم د ژوو د پيدايښت، مرګ او رزق په اړه بحث کوي او دا آيت هم د ټول عالم پيدايښت ته اشاره کوي؛ او تاسو پوهېږئ چې اوبه د ژوو د رزق تر ټولو مهمه برخه ده، دانه، مېوه او واښه هم په اوبو راټوکېږي، په دې آيت سره موږ ته لارښوونه شوې چې الله تعالی د ژوو

تر پيدايښت مخکې د دوی روزې پيدا کړې، داسې لکه د ماشوم له پيدا کېدو مخکې چې د مور په تې کې شيدې ورته پيدا کوي.

ځينو درنو مفسرينو ويلي چې دا عالم د آسمانونو او زمکې له پيدايښت مخکې د مائع (اوبو) په څېر وو، که څه هم دا تعبير تر يوه حده د پام وړ دئ؛ خو دا به يوازې په هغه صورت کې د منلو وړ وو چې د بحث اصلي موضوع د عرش د څرنګوالي بيانول وی؛ نه ژوو ته روزې ورکول.

ځيني بيا په دې عقيده دي چې په سر کې زمکه په پرېړو ورېځو پوښل شوې وه، پر له پسې زورور بارانونه پيل شوي؛ دومره چې ټوله زمکه په اوبو کې پټه شوې او همدا د قرآن د دې آيت مصداق ګڼي چې وايي: و کان عرشه على الماء، ځکه دا مهال د زمکې پر سر له اوبو پرته بل هيڅ څه نه وو، نه نباتات وو، نه حيوانات او نه د زمکې وچې او لوړې تر سترګو کېدې. هغوی وايي: د زمکې په ټولو مرکباتو کې د اوبو مقدار تر ټولو زيات دئ، که دا نن د زمکې سطح آواره وی او لوړې ژورې ئې نه درلودی او ټولې اوبه د مائع په بڼه کې وی؛ نو د ټولې زمکې مخ به ئې داسې پوښلی وو چې د اوبو ژور والی به نژدې دوه ميله وو. خو په دې ټولو تعبيرونو کې تر ټولو دقيق تعبير همغه دئ چې اوبه د زمکې لومړنی پيدا شوی مرکب دئ؛ (وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ).

## اوبه او بوټي له زمکې راپيدا شوي

قرآن وايي چې الله تعالی د زمکې دا اوبه او بوټي په خپله له دې زمکې راپيدا کړي او له بل ځای او ستورې زمکې ته نه دي راوړل شوي؛ په دې اړه د قرآن آيت دا دئ:

وَٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ۝٣٠ أَخۡرَجَ مِنۡهَا مَآءَهَا وَمَرۡعَىٰهَا ۝٣١ النازعات

او له دې وروسته ئې زمکه خوره کړه، د هغې اوبه او د هغې واښه ئې ترې راوايستل.

دا آيتونه د زمکې درې ځانګړتياوې په ګوته کوي:

الف: زمکه ئې د آسمان له تسويې او برابرولو وروسته آواره کړه، ځينو مفسرينو دا ګمان کړی چې د (بعد ذلك) ښايي مراد دا وي چې زمکه او آسمان يو له بل وروسته په يوه زماني تفاوت سره پيدا شوي، لومړی يو او

ورپسې بل، ځینو دا مخکې ګڼلې او ځینو بل، دا په داسې حال کې چې قرآن په ډېر صراحت سره فرمايي چې زمکه او آسمان سره جوخت او يوه کتله وه او وروسته سره بېل شوي او په يوه وخت کې پيدا شوي، داسې نه ده چې لومړی يو او بيا بل پيدا شوی وي، کوم آيتونه چې د تأخير او تقدم خبره کوي هغه د زمکې او آسمان د تسويې د څرنګوالي بېلو بېلو پړاوونو ته اشاره کوي، نه د دوی د پيدايښت نېټې ته؛ يعني تسويه او برابرول ئې يو په بل پسې ترسره شوی، لکه چې دلته په دېرشم آيت کې ويل شوي چې د زمکې آوارول د آسمان له برابرولو وروسته ترسره شوي.

ب: په زمکې کې ئې اوبه خلق کړې او هغه ئې د زمکې له زړه راوايستې؛ د دې معنی دا ده چې اوبه له بل ځای او له کومې بلې سيارې زمکې ته نه دي راانتقال شوې؛ بلکې په خپله په زمکه کې راپيدا شوې.

ج: په زمکې کې ئې د نباتاتو د راټوکولو استعداد اېښی، د اوبو له پيدايښت وروسته ئې د هغې نباتات راشنه کړل، نو دا نباتات هم له بل ځای زمکې ته نه دي راوړل شوي؛ بلکې په خپله د زمکې له زړه راټوکېدلي.

دې ته مو بايد پام وي چې دا دوه مسئلې (د زمکې پر سر اوبه څنګه پيدا شوې او نباتات څنګه راشنه شوي)؛ له هغو مسائلو دي چې له اوږدې مودې راهيسې تحقيقات ورباندې روان دي او ساينس نن هغې نتيجې ته رسېدلی چې قرآن څوارلس سوه کاله د مخه بيان کړې؛ ساينس نن همغه خبره کوي او وايي چې اوبه او نبات په خپله په زمکه کې راپيدا شوي او له بلې سيارې زمکې ته نه دي راانتقال شوي. اصلاً د زمکې شاوخوا فضاء کې داسې ستوری نشته چې په هغه کې نباتات وي.

## د ټول عالم او کائنات يو رنګوالی

قرآن وايي چې دا ټول عالم سره ورته دئ، منشأ او بنسټ ئې يو دئ، د دې خور عالم په هيڅ برخې کې تضاد، تفاوت او توپير نشئ موندلی:

ٱلَّذِى خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًاۖ مَّا تَرَىٰ فِى خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ۝٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ

خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ﴿٤﴾ الملك
هغه ذات چې اُوه آسمانونه ئې پوړ پوړ پیدا کړل؛ د رحمن په مخلوقاتو کې بېلوالی لیدی نه شې، نو سترګې وغړوه؛ آیا کوم چاود ګورې؟ بیا هم سترګې په وار وار وغړوه؛ ستا سترګې به ستا په لوري نامراده راګرځي او ستومانه به وي.

د دې مبارکو آیتونو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

الف: هغه ذات چې د واکمنۍ مظاهر ئې په ټول عالم کې هري خوا ته ګورو، هماغه ذات دئ چې هم ئې (مَلِك) دئ او هم (خالق)، هم ټولواك دئ او هم پیدا کوونکی، آسمان او زمکه د ده داسې مُلك چې په خپله ئې پیدا کړی. دا د آسمان اُوه ګوني پوړونه ئې پیدا کړي؛ او چاري ئې په خپله د ده په واك کې دي.

ب: داسې ګمان مه کوئ چې د زمکې او آسمانونو له پیدا کولو او په عالم کې د سننو او ضوابطو له وضع کولو وروسته ئې هر څه خپلې مخې ته پرېښې؛ اوس هر څه د همدې طبیعي سننو او قوانینو مطابق ترسره کېږي او الله تعالی هیڅ تصرف په کې نه کوي، نه؛ بلکې ستاسو باور باید دا وي چې الله تعالی هم پیداکوونکی دئ او هم واکمن او ټولواك، د الله پر واکمنۍ ستاسو باور باید د دې باور مکمِل او بشپړوونکی وي چې الله تعالی خالق دئ، باید په دې باور وئ چې څه الله تعالی پیدا کړي واګې ئې هم د ده په اختیار کې دي.

ج: قرآن کله د زمکې برنۍ فضاء د آسمان په نامه یادوي او کله آسمان د ټول کائنات د چت او سقف په توګه یادوي، یعني آسمان هم د زمکې مربوط مدارونه او هم هغه اُوه ګوني طبقات دي چې دا ټول کائنات ئې احتواء کړي. له وروستي آیت په صراحت سره معلومېږي چې دلته له اوو آسمانونو مراد هغه اُوه طبقې دي چې یو لاندینی او زمکې ته تر ټولو نژدې ئې ټول سماوي اجرام په خپلې غېږې کې نیولي؛ او نور شپږ ئې تر دې بر او یو د بل د پاسه، خو قرآن فرمايي چې ټول سره ورته دي؛ او په خپلو کې ئې توپیر او تفاوت نه شته. دا هم باید په پام کې ولرو چې له (فوق) مراد؛ مطلق فوق نه دئ؛ بلکې د انسان د موقعیت او د ده د انګېرنې له مخې فوق دئ؛ دی د خپل سر لوري

ته فوق (بر) او د ښکته لوري ته تحت (لر) وايي؛ قرآن د انسان په ژبه نازل شوی؛ او د ده ژبني اعتبارات په پام کې نیول شوي؛ دی کله چې په افغانستان کې د امریکا موقعیت ښيي نو د غرب لوري ته ګوته نیسي؛ خو په حقیقت کې بیا همدا امریکا د ده تر ښپو لاندې وي؛ جاپانی انسان بیا امریکا په خپل شرق کې ګڼي.

دا خبره د ډېر دقت او تأني وړ ده چې قرآن وايي: د عالم ټول مخلوقات د آسمانونو په شمول ورته والی لري؛ او په هیڅ ځای کې ئې توپیر او چاود نه شي موندلی!!

ساینسي تحقیقاتو ښودلې چې زموږ له زمکې تر ټولو لرې ستوری او تر ټولو لرې ستورلیکی؛ په خپل جوړښت او د هغو ضوابطو له مخې چې پرې حکومت کوي؛ زموږ زمکې او ستورلیکې ته ورته دي؛ او دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، همغسې چې قرآن ویلي؛ انسان پرې پوه شو چې د کائنات په هرې برخې کې او د عالم په ټولو مخلوقاتو کې د توپیر او تفاوت په ځای یووالی او مطابقت شته، قرآن وايي چې الله تعالی اُوه زمکې او اُوه آسمانونه پیدا کړي، نن د علمي ژورو تحقیقاتو په ترڅ کې انسان ته معلومه شوې چې زمکه اُوه طبقې لري؛ او د زمکې په سر د زمکې مربوطه فضاء هم اُوه طبقې ده. انسانانو ته دا هم جوته شوې چې د اتوم د مدارونو اعظمي شمېر هم اُوه دئ، له دې معلومېږي چې دا کائنات او مربوط ستوري او ستورلیکي ئې یوه داسې مجموعه ده چې په اُوو مدارونو کې تنظیم شوي. خو دا چې آیا ممکنه ده انسان د خپلو څېړنو په نتیجه کې یو وخت په دې حقیقت هم پوه شي؛ باید ووایو چې لا تر اوسه د دې حقیقت له درك ډېر ډېر لرې دئ.

د دریېم آیت د دې شطر (مَّا تَرَىٰ فِي خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍ...) په اړه څو تعبیرونه مومو:

لومړی: د الله تعالی په مخلوقاتو کې نه (تفاوت: توپیر) موندی شو او نه (فطور: چاود او ترڅ)؛ یعني دا چې چېرې رابطه پرې شوې وي او انقطاع رامنځته شوې وي؛ په مخلوقاتو کې تفاوت نه شو موندی یعني داسې څه نه شو لیدی چې وښيي دا د کوم بېل لاس محصول او مصنوع دئ، پیدا کوونکی ئې بېل دئ، د پیدایښت ماده ئې بېله ده، له نورو په خپل جوړښت کې ژور بېلوالی لري؛ او فطور یعني تشه، خلاء، نقص او کمی، یعني دا چې په عالم

کې کوم تش ځای، کوم کمی، د یوه داسي ضروري شي نشتوالی چي د نقص باعث شوی، که هر څومره په دې پراخ او بې انتهاء عالم کې د کوم عیب او نقص د موندلو لپاره لټه وکړو، هري خوا ته سترګي وغړوو، د دې تکل وکړو چي کوم (تفاوت) او (فطور) ومومو، خپلي سترګي دومره یوې خوا بلي خوا ته وغړوو چي ستړې او ستومانه بېرته راوګرځي؛ هيڅکله به نه کوم تفاوت وموندی شي او نه فطور؛ خپل مراد ته به ونه رسېږي او لټه به ئې بې حاصله وي.

دا آيت ښيي چي زموږ کائنات يوه داسي متحده مجموعه ده چي ټول اجزاء ئې يو له بل سره دقيقه رابطه لري، د يوه شتون د بل د بقاء سبب دئ، هيڅ بېهوده او بې هدفه شئ په دې پراخ عالم کې نه موندل کېږي، هر څه سم او دقيق پيدا شوي، د هر څه موجوديت يوه خلاء او تشه ډکوي؛ او يوه ضرورت ته ځواب وايي؛ او نشتوالی ئې د يوې تشي او خلاء سبب کېږي، هيڅ داسي څه نه شې موندلی چي وښيي پيدايښت ئې د بېل لاس او د بېلي منصوبې نتيجه وي؛ او داسي پيدا شوی وي چي د عالم له نورو توکيو سره توپير ولري. د دې ستري او مهمي ادعاء په اهميت او پراخو ابعادو ئې هغه وخت ښه پوهېدی شو چي د مخلوقاتو د پيدايښت اصل ته ځير شو، له دې ظاهري توپيرونو لږ مخکي ولاړ شو، د هر څه د جوړښت بنسټ او بنياد ته پام وکړو، نن د طبيعي علومو پوهانو ته معلومه شوې چي د عالم دا بېل بېل او رنګ رنګ توکي يوازي په ظاهر کې يو له بله توپير لري، په اصل کې ټول له يوه شي پيدا شوي، که د ماليکولونو او د هغوی د ترکيب په حد کې توپير لري، د اتوم او له اتوم مخکي حد کې کاملاً سره ورته دي، په حقيقت کې يو شئ، د يوې منصوبې له مخي، په مختلفو شکلونو کې جوړ شوی.

دوهم- ځينو نورو مفسرينو (تفاوت) د تضاد او عيب په معنی اخيستی او دا آيت داسي ترجمه کوي: د الله تعالی په مخلوقاتو کې تضاد او عيب نه شې موندلی. په دې تعبير کې څو اِشکالونه شته:

۱- د تفاوت لفظ په اصل کې نه د تضاد په معنی دئ او نه د عيب په معنی.

۲- که د دغه تعبير له مخي ووايو چي په مخلوقاتو کې توپير او تفاوت نشته، دا تعبير له واقع سره سمون نه خوري، عملاً توپيرونه تر سترګو کېږي؛ او که ووايو چي د الله تعالی په مخلوقاتو کې تضاد او عيب نشته دا يو ګونګ تعبير

دئ، په پیدایښت کې د تضاد نښتوالی واضح او روښانه مفهوم نه لري، پر دې برسېره موږ د الله تعالی مخلوقات ګورو نه د دوی پیدایښت، موږ خو دا ګورو چې دانه د زمکې له زړه د بوټي په څېر راوټوکېږي؛ او نیالګی ترې جوړ شي، خو زموږ سترګې دا توان نه لري چې د بوټي د راټوکېدو او له خاورې د نیالګي د جوړېدو څرنګوالی په خپله وګوري!!

د همدې لپاره د دې آیت دقیق تعبیر هماغه لومړنی تعبیر دئ، په دې معنی چې د الله تعالی په مخلوقاتو کې له دې پلوه توپیر او تفاوت نه شې موندلی چې یو ئې د یوه پیدا کوونکې د لاس زېږنده وي او بل ئې د بېل پیدا کوونکې، داسې نه ده چې د دوی په پیدایښت کې بېلابېلې منصوبې کارول شوې وي.

قرآن په عالم کې د ثابتو سننو، ضوابطو، مقدراتو او د خاصو اندازو او مقدار په اړه په زړه پورې او دقیقې لارښوونې لري؛ چې ځینې ئې دا دي:

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ۝٥ یونس

او دی هغه ذات دئ چې لمر ئې رڼا ګرځولی او سپوږمۍ ئې روښنايي؛ او هر یوه ته ئې د ټېکې ځای ټاکلی چې د کلونو په شمېر او حساب پوه شئ، الله دا نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره، هغو وګړو ته چې پوهېږي آیتونه په تفصیل سره بیانوي.

دلته باید څو خبرې په پام کې ولرو:

- د مخکینۍ موضوع په ارتباط ویل شوي چې الله تعالی هر څه په حقه پیدا کړي، د هر څه په پیدایښت کې حکمت او مصلحت مضمر دئ، دوه مثاله ئې لمر او سپوږمۍ دي، یو ئې د ورځې له لوري تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي او بل ئې ستاسو تیارې شپې روښانه کوي، تاسو شپې او ورځې ته ضرورت لرئ؛ له دې پرته د زمکې پر سر ژوند درته ممکن نه دئ؛ دا ځکه چې په همدې شپې او ورځې سره د زمکې هوا معتدله کېږي؛ لمر د ورځې او سپوږمۍ د شپې نښه ده؛ هر یوه ته ئې د ټېکې ځای ټاکلی، داسې چې له

ټاکلي ځایه خوځي او په ټاکلې نېټې وروستي منزل ته رسي، حرکت ئې دومره دقیق چې د هغه له مخي د شپو ورځو، میاشتو او کلونو حساب معلومولی شئ.

• له بیاژوندون، قیامت، حساب و کتاب او مکافات او مجازات انکار په دې معنی دئ چې هم عالم خوشی او بې‌هدفه پیدا شوی او هم انسان؛ نه د فساد، ظلم او کفر سزا ورکول کېږي او نه د ایمان او نېك عمل اجر او بدله!! کوم د عقل او شعور خاوند به دا خبره ومني چې د دې خور او پراخ عالم هر څه دي هدفمن پیدا شوي وي، د هر څه خوځښت او حرکت دي د دقیق حساب له مخي وي خو انسان دي د دغي عامي قاعدې خلاف او د یوې استثناء په توګه داسي پیدا شوی وي چې نه ئې پیدایښت کوم هدف لري، نه پوښتنه ترې کېږي، نه د ښه او بد عمل محاسبه ورسره کېږي او نه سزا او جزاء ورکول کېږي؟! نور مخلوقات مخصوصاً جامد ئې؛ داسي دي چې له خپل ټاکلي مسیر یوه ذره ښي او کیڼ لوري ته انحراف نه کوي او معمولي انحراف ئې د زوال او تباهي باعث کېږي، آیا سمه ده چې ووایو: انسان نه د حرکت لپاره ثابت او ټاکلی مسیر لري او نه د انحراف سزا ګوري؟!

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى۝١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ۝٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ۝٣ الأعلی

یاد کړه په پاکۍ سره نوم د خپل اعلی رب. هغه چې پیدا ئې کړل (هر څه) او برابر ئې کړل. او هغه چې اندازه او هدایت ئې کړل.

دا آیت دوو مطالبو ته اشاره کوي:

الف: ستا پالونکی رب (لوړ) دئ، لوړ تر هر هغه څه چې په دې عالم کي ستا تر سترګو کېږي، لوړ تر دې چې ستا په خیال، وهم او ګمان کي وګرځي، په دې پراخ عالم کي هیڅ څه هغه ته ورته نه شې موندلی.

ب: د خپل لوړ رب نوم په پاکۍ یاد کړه، په څو معنی:

اولاً: پام چې د الله جل شأنه په اړه د بحث په دوران کي کوم عیب او نقص ورته منسوب نه کړې، الله تعالی تر دې لوړ دئ چې په ذات او صفاتو کي ئې څه کمی او عیب وي.

ثانیاً: الله تعالی په داسي نامه مه یادوه چې د ده له عظمت او شأن سره نه ښایي، الله تعالی غوره نومونه لري، په دغو غوره نومونو سره ئې یادوه،

باید پوره محتاط وې چې د الله د یادولو او ذکر په وخت کې داسې نوم ونه کاروې چې د الله تعالی په شأن کې بې ادبي ګڼل کېږي، د الله ذکر خاص ادب او ځانګړی فرهنګ او قاموس لري، د ځان پاکوالی، د زړه حضور او د روح خشوع، د دې مقدس مقام آداب دي، څوك چې د الله تعالی د ذکر او یادولو په وخت کې له دې پرته بل حالت ولري، بې ادبي ئې کړې، همدا راز د ذکر په دوران کې هغه نومونه کارول چې له دې خاص او ځانګړي قاموس نه وي اخیستل شوي، الحاد او له اصلي لاري کږېدل دي، څوك چې د مستۍ او بې خودۍ په حالت کې، له جذبې او ساز او سرود سره الله یادوي بې ادبي کوي، څوك چې الله د ساقي، صنم، دلبر، معشوق، پیر مغان او ... په نامه یادوي بې فرهنګه دئ، د الهي ذکر له قاموس بې خبر او د الله تعالی د ذکر له آدابو بې برخې.

په دوهم آیت کې ویل شوي: ستا پالونکی رب همغه دئ چې دا ټول پیدا شوي ئې پیدا کړي، نه یوازې دا چې هغه ئې پیدا کړي بلکې (سم) ئې پیدا کړي، د دې عالم هر څه ښه، ښایسته، موزون او دقیق پیدا شوي، له یوې خوا د دوی (وجود او شتون) په دې دلالت کوي چې حتماً یو (پیدا کوونکی) لري، له بلې خوا د دوی سم، دقیق او موزون خلقت په دې شهادت ورکوي چې (پیدا کوونکی) ئې (اعلی) او (لوړ) دئ.

د هر څه پیدایښت له نشت پیل کړي، ورو ورو ئې کمال او د سموالي وروستي پړاو ته ورسوي.

له (پیدایښت) او(تسویې) علاوه دوې نوري ځانګړتیاوې هم د ده په مخلوقاتو کې ګورو:

- هغه ثابته او معینه اندازه چې د دوی په (مقدار) کې مراعات شوې.
- هغه لارښووني چې د هر څه په فطرت او خټه کې ایښودل شوې.

د دې عالم خالق او پالونکي رب هر څه د ضرورت په اندازه پیدا کړي، نه تر ضرورت کم او نه زیات، هیڅوك نه شي کولی د دې پراخ عالم په غېږ کې کوم داسې (اضافي) او (غیر ضروري) شی ومومي چې هسې او بې له کومې ګټې ئې دلته کوم (ځای) اشغال کړی!! همدا راز نه شي کولی د داسې کوم څه نوم واخلي چې په دې عالم کې ئې ځای تش او خالي دئ، د دې عالم د توکیو په (مقدار) او د دوی تر منځ (تناسب) کې چې کومه (اندازه) مراعات

شوي؛ دومره دقیقه ده چي په هغه کې ډېر لږ تغییر او تعدیل د ټول عالم د متلاشي کېدو باعث کېږي!! هر شی په خپل ځای او مقدار کې داسي دقیق پیدا شوی چي که له منځه ولاړ شي او یا ئې اندازه او مقدار کم او زیات شي، د ټول عالم بقاء له ګواښ سره مخامخ کوي.

پالونکي رب چي هر څه پیدا کړي، هغه ته ئې لارښوونه او (تلقین) کړی چي دنده ئې څه ده او دلته به د خپل شتون په دوران کې کوم کوم کارونه ترسره کوي، کوم خالي ځای به ډکوي، په کوم مسیر کې به خوځي، کوم نتائج به وړاندي کوي. مګر نه ګورئ چي لمر په خاص وخت کې له خاص ځای راخېژي، په معین مسیر کې درومي، د یوې معیني مسافې له پلې کولو وروسته، په خاص وخت کې، په داسي ځای کې پرېوځي چي له مخکې ورته ټاکل شوی، خپل مأموریت ترسره کوي، تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي، ستاسو، حیواناتو او نباتاتو اړتیاوو ته ځواب وایي، ستاسو په خدمت کې دئ، د دانې او مېوې په پیدایښت کې ممد او د رزق او روزي په درکولو کې درسره مرسته کوي، سپوږمۍ په شپه کې رابره کېږي، ستاسو تیاره شپې روښانه کوي او ستاسو لپاره په تیارو شپو کې روښانه او څرګند تقویم، چي د شپو ورځو حساب پرې معلوموئ شئ.

وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢١﴾ الحجر

او هیڅ داسي شی نشته چي خزانې ئې له موږ سره نه وي او نه ئې نازلوو مګر په معلومي اندازې سره.

یعني الله تعالی هر شی په یوه معلومه او معینه اندازه کې پیدا کړی، که دا عناصر دي، که د زمکې مرکبات دي، که ونې، بوټي او حیوانات دي، که هوا، باد، باران، واوره او اوبه دي، که ګرمي او یخني ده؛ د هر څه لپاره ثابت مقدار او حد ټاکل شوی، دومره چي دلته ورته ضرورت وي، نه تر ضرورت زیات او نه کم، هر څه ئې په همغه اندازه پیدا کړي چي د ژوو ژوند او ژواك او د زمکې او آسمان بقاء او دوام ئې غواړي. دا هم د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته ځلوي؛ نن انسان په دې پوه شوی چي د زمکې هر څه ثابت مقدار لري، سره له ټولو هغو تغییراتو چي هره شېبه په زمکې کې رامنځته کېږي، یو شی په بل بدلېږي، ځیني سره ترکیب شي او نوی شی

رامنځته کړي، ځیني په خپلو اجزاءو تجزیه شي، خو نه په دې ترکیب سره د اشیاءو په اصلي او ثابت مقدار کې تغییر راځي او نه ئې په تجزیې سره، که په ثابتو مقادیرو کې معمولي تغییر او بدلون راشي نه به د زمکې پر سر انسان ژوند کولی شي او نه نور ژوي او نه د عالم موجود نظم او نظام دوام کولی شي. دا تعادل او توازن ښيي چې د دې ټول عالم پیدا کوونکی او پالونکی یو دئ، که عالم د تصادفي تخلیق زېږنده وی یا ئې له یوه خالق پرته نور پیدا کوونکي درلودی نو نه به دا تعادل او توازن تر سترګو کېدو او نه د ټولو مخلوقاتو تر منځ دا موجود تنسیق، یووالی او همغږي.

وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّـٰهُ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍۭ بِهِۦ لَقَـٰدِرُونَ ۝١٨ المؤمنون

او له آسمان مو په ټاکلې اندازه اوبه وورولې او په زمکې کې مو هستوګنې کړې؛ او یقیناً چې موږ ئې پر له منځه وړلو قادر یو.

دا مبارك آیت موږ ته وایي:

الله تعالی له آسمان په ټاکلې اندازه اوبه وروي، د ضرورت په اندازه، نه تر ضرورت زیاتې او نه کمې، داسې انتظام ئې کړی چې دا اوبه په زمکې کې پاته شي، ځیني برخې ئې په سمندورونو کې، ځیني ئې د واورو په څېر په غرونو کې، ځیني ئې د زمکې پر سر او ځیني ئې په منځ کې؛ د زمکې پر سر د ژوند دوام دغه انتظام ته ضرورت لري، که دا انتظام نه وی او یا اوس له منځه ولاړ شي نو د ژوند امکانات به پای ته رسي، الله تعالی دا اوبه پیدا کړې او له منځه ئې وړی شي. دې ته ورته ګڼ شمېر آیتونه په قرآن کې مومو.

## اُوه آسمانونه او اُوه زمکې

قرآن وایي چې الله تعالی اُوه زمکې او اُوه آسمانونه پیدا کړي، نن د علمي ژورو تحقیقاتو په ترڅ کې انسان ته معلومه شوې چې زمکه اُوه طبقې لري او د زمکې پر سر د زمکې مربوطه فضاء هم اُوه طبقې ده. انسانانو ته دا هم جوته شوې چې د اتوم د مدارونو اعظمي شمېر هم اُوه دي، له دې معلومېږي چې دا کائنات او مربوط ستوري او ستور لیکې ئې یوه داسې مجموعه ده چې په اوو مدارونو کې تنظیم شوي. خو دا چې آیا ممکنه ده

انسان د خپلو څېړنو په نتیجه کې یو وخت په دې حقیقت هم پوه شي چې دا پراخ عالم یوه داسي مجموعه ده چې د یوې بې‌انتهاء اواري صفحې بڼه لري؛ او په همدې صفحې کې ټول ستورليکي په منظمه توگه ځای پرځای شوي او هر یو په خپل مدار کې خوځي؟ باید ووایو چې ساینس اوس همدا خبره کوي.

قرآن وایي چې بر اُوه مضبوط آسمانونه دي، باید وگورو چې د دې خبرې معنی څه ده او علم د دې وینا په اړه څه وایي؟ په دې اړه د قرآن یو آیت دا دئ:

وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ النبأ

او له تاسو بر مو جوړ کړل مضبوط اُوه گوني.

دا او تر دې مخکې آیت او ځیني نور موږ ته وایي: د زمکې پر سر ستاسو دا ټمځی داسي دئ چې د زمکې سطح ئې ستاسو د کور فرش، اُوه آسمانونه ئې چت، ستوري ئې فانوس، لمر ئې څراغ او سپوږمۍ ئې د شپې شمع ده. قرآن دې ته په اشارې سره چې ستاسو له پاسه مو مضبوط اُوه گوني پیدا کړي، څو اساسي خبرو ته اشاره کوي:

الف: یا خو زموږ دا زمکه اُوه فضائي مدارونه لري او یا دا ټول عالم د آسمانونو په نامه اُوه طبقو کې تنظیم شوی. په قرآن کې کله گورو چې له زمکې برې فضاء ته آسمان ویل شوي او فرمايي چې باران له آسمانه وروو او معلومه ده چې باران له هغو ورېځو راورېږي چې فاصله ئې زموږ له زمکې تر لسو کیلومترو کمه وي. او کله د ستورو موقعیت ته آسمان ویل شوي او وایي چې په ستورو سره مو د دنیا نژدې آسمان ښایسته کړی او کله ویل شوي چې اُوه آسمانونه مو پوړ پوړ یو د بل د پاسه پیدا کړي.

ب: گورو چې دا اُوه گوني طبقې ډېر مضبوط او دقیق نظام لري، ټول سماوي اجرام ئې په خپلي غېږ کې کلك نیولي، یو له بل سره د دوی له ټکر او تصادم مخنیوی کوي، نه پرېږدي چې یو د بل په مدار کې ننوځي، ستر ئې ووړ جذب کړي، هر یو په منظمه توگه، په خپل خپل مدار کې خوځي، هر یو په خپل خپل ځای کې ساتي، د دغو بې‌شمېره سماوي اجرامو دا دقیقه ساتنه ښیي چې زموږ په فضاء کې یو مضبوط، ځواکمن او دقیق نظام حاکم دئ.

ج: الله تعالی د ځمکې فضاء داسې جوړه کړې چې له یوې خوا د هغو مضر او تاوانې وړانګو او پلوشو مخنیوی وکړي چې له لمر د ځمکې په لور رادرومي او له بلې خوا د یوه مضبوط چت په څېر پر ځمکې د شهاب ثاقب له راپرېوتو مانع شي، کوم شهابونه چې د ځمکې په لور راځي له دغې متکاثف او پرېړې فضاء سره له ټکر او تصادم وروسته یا ویلي شي او یا ئې مسیر بدل شي او له ځمکې ئې مخه بل لوري ته واوړي او د هوا همدا طبقه د ځمکې تودوخه ساتې او په لایتناهي فضاء کې ئې د خورېدو مخه نیسي، هغه ستوري چې داسې متکاثفه او پرېړه فضاء نه لري له یوې خوا په پر له پسې توګه شهابي تیرې وربانديې راپرېوځي او له بلې خوا ئې د شپې له پلوه هوا ډېره سړه شي.

## د آسمان غیر مرئي ستنې

قرآن وايي چې الله تعالی آسمان په داسې ستنو ودرولی چې نه لیدل کېږي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ... ﴿٢﴾ الرعد

هغه الله چې آسمانونه ئې له داسې ستنو پرته لوړ کړل چې تاسو ئې وینئ.

دا آیت وايي: دا کتاب د هغه الله له لوري نازل شوی چې دا لوړ آسمان ئې له داسې ستنو پرته لوړ کړی چې لیدی شي، ستنې شته خو نه لیدل کېږي، او دا هغه ستر علمي حقیقت دئ چې د قرآن بل علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي، انسان نن په دې حقیقت پوه شوی چې د آسمان د ټولو ستورو تر منځ د جذب او دفع داسې نامرئي ځواک شته چې که دا نه وی او یا له اوسنې حالت ځواکمن یا کمزوری وی؛ نو د عالم دا موجود نظام پایښت نشو موندلی، یا به یوه بل جذبولو او یا به داسې خواره واره کېدل چې ټول نظام به له منځه تلو. که تاسو یوه ساینسپوه ته ووایئ چې زموږ په هغه مذهبي کتاب کې چې څوارلس پېړۍ وړاندې نازل شوی؛ راغلي چې آسمان په داسې ستنو لوړ ساتل شوی چې نه لیدل کېږي؛ نو یقیناً هغه به له ځنډ پرته تاسو ته ووايي: پر دې حقیقت انسانان په نولسمې پېړۍ کې پوه شول، تر دې د مخه هیڅوك په دې حقیقت نه پوهېدو او د آسمان د ستورو تر منځ د داسې ځواك د شتون تصور ئې هم نشو کولی.

## د ځمکې بېلې بېلې ټوټې

قرآن وايي چې د ځمکې سر له بېلو بېلو متصلو ټوټو جوړ شوی:

وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ۝٤ الرعد

او په ځمکې کې څنګ په څنګ پرتې ټوټې دي او د انګورو باغونه او کښتونه او د کجورو ګډبنستې او بېل بنستې ونې چې په يو ډول اوبو خړوبېږي، په داسې حال کې چې ځينو ته پر ځينو نورو د خوراك له پلوه فضيلت ورکوو، يقيناً چې په دې کې د تعقل کوونکو لپاره څرګندې نښې دي.

د دې مبارك آيت مهمې لارښوونې دا دي: څوك چې په سطحې نظر د ځمکې مخ ته ګوري؛ داسې انګېري چې ټوله ځمکه به د جوړښت او ترکيب له پلوه سره ورته وي، خو که په علمي نظر او دقت سره د ځمکې د بېلو بېلو برخو ترکيب ته ځير شو نو دا حقيقت راته جوت کېږي چې د ځمکې برنۍ سطح له داسې بېلو بېلو ټوټو جوړه شوې چې د ترکيب له پلوه يوه له بلې ژور توپيرونه لري، دا هغه حقيقت دئ چې قرآن په پورتني آيت کې ورته اشاره کړې او انسان هغه مهال پرې پوه شو چې د خاورې د ترکيب معلومولو پر مخ تللي وسائل او پوهه په لاس ورغله او يقيناً چې دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ. په نولسمې پېړۍ کې انسان له علمي پلوه هغه پوړ ته ورسېد چې په دې حقيقت پوه شي، اوس ورته جوته شوې چې د ځمکې ځينې برخې داسې دي چې په ترکيب کې ئې يو عنصر زيات دئ او د بلې په ترکيب کې بل عنصر، په ځينو کې مس زيات دي، په ځينو کې اوسپنه زياته ده او په ځينو کې سره او سپين زر، او دې ته ورته د نورو عناصرو د تناسب له پلوه توپيرونه، همدغه توپيرونه د دې باعث شوي چې په يوې سيمې کې يو ډول بوټې او ونې راټوکېږي او وده کوي او په بلې کې بل ډول، د يو ډول ونو مېوې

به په یوې سیمې کې یو ډول خوند لري او په بلې کې بل ډول، نه یوازې د خوند له پلوه به یوه له بلې توپیر لري بلکې د ګټې له پلوه یوه پر بلې فضیلت لري. د خوند په توپیر هر څوك پوهېدی شي خو د ګټې له پلوه د دوی تر منځ توپیرونو باندې پوهېدا نه یوازې ګران کار دئ بلکې له نولسمې پېړۍ مخکې انسان ته قطعاً ممکنه نه وه، د قرآن دا وینا له شکه پرته یو بل ستر علمي اعجاز دئ چې وایي: ځینو مېوو ته پر نورو د خوراك له پلوه فضیلت ورکوو او یقیناً چې د عقل خاوندانو ته په دې وینا او دې حقیقت کې ډېرې نښې دي.

د دې لپاره چې دا موضوع لازیاته واضح شي دوه مثاله ئې وړاندې کوم: د کابل په جنوب کې د عینك په نامه د زمکې یوه ټوټه ده چې په ترکیب کې ئې د مسو کچه ډېره لوړه ده، د دې ټوټې طول، عرض او ضخامت معلوم دئ، د ټولو موادو او په هغوی کې د مسو تخمیني اندازه هم معلومه شوې، د همدې معلوماتو له مخې یوې چینایي کمپنۍ د مسو د رایستلو معاهده امضاء او عملاً ئې کار پیل کړ، بل مثال ئې د کابل په شمال غرب کې د حاجي ګك سیمه ده چې د اوسپنې ستر کان په کې موندل شوی، د دې سیمې اوږدوالی، سور او پرېړوالی هم معلوم شوی او د اوسپنې تخمیني اندازه هم معلومه شوې، دا معلومات د نړۍ سترو سترو شرکتونو ته وړاندې شوي، چې له مخې به ئې د اوسپنې د استخراج معاهده لاسلیك کېږي، د دې دواړو ټوټو تر منځ د زمکې نورې ټوټې دي چې ترکیب ئې له دوی دواړو ځانګړې توپیرونه لري. خو دا چې دا بېلې بېلې ټوټې د زمکې د لومړنې پیدایښت په وخت کې رامنځته شوې که وروسته، باید ووایو چې په لومړي سر کې د زمکې برنۍ سطح یو ډول وه، ورو ورو په هغې کې تغییرات راغلي، دا بېلې بېلې ټوټې د هغو چاودنو په لړ کې رامنځته شوې چې د زمکې برنی قشر ئې مات کړی، د زمکې د زړه ویلې مواد بهر راوتلي، د زمکې پر سر خواره شوي او یوه خاصه سیمه ئې لاندې کړې، په دې ویلې موادو کې کله د یوه عنصر کچه زیاته وه او کله د بل، له همدې کبله یوه سیمه او د موادو ترکیب ئې له بلې توپیر لري. دې ته مو پام وي چې د زمکې درانه مواد د زمکې په زړه کې راغونډ شوي او سپك ئې د زمکې پر سر، دا درانه مواد د چاودنو او اورشیندو له کبله د زمکې سر ته راوتلي.

## د زمکې او د زمکې پر سر د ژوو پیدایښت

د زمکې او د زمکې پر سر د ژوو د پیدایښت په اړه محققین وایي: زمکه له خپل پیدایښت وروسته سخته توده او سره وه، د زمکې قشر او پوستکی ورو ورو سوړ شو، خو د سختې تېرې په څېر وو، لومړی اوبه راپیدا شوې، د زمکې ټولې اوبه د پرېړو وربځو په بڼه کې تر زمکې راتاو وې، د بارانونو ورېدل پیل شو، د باران او ګڼ شمېر نورو عواملو په وجه د زمکې د سر دا ډبرین پوستکی ورو ورو په خاوره بدل شوی، سیلابونو دا خاوره له ځان سره د زمکې آوارو او ژورو برخو ته انتقال کړه، د زمکې تودوخه لا هومره وه چې اوبه ئې د ځان د پاسه نه پرېښودې، د اوبو د تبخیر په نتیجه کې سېلاب راوړې خټه په صلصال (کړنګېدونکې وچې خټې او کودړې) بدله شوه، خو د زمکې د مزید سړېدو او مزید بارانونو په نتیجه کې داسې حالت رامنځته شو چې له یوې خوا د پرېړو وربځو پرده څېرې شي او د لمر وړانګې زمکې ته ورسېږي او له بلې خوا د زمکې د سر خاوره په لومړي سر کې ګمجنه خټه، سرېښناکه او ښوی خټه او وروسته توره بوی ناکه خټه شي، او په همدې سره د زمکې پر سر د ژوو د پیدایښت لپاره مناسب او ضروري چاپېریال برابر شوی او د هغوی د پیدایښت لړۍ پیل شوې.

راشئ د محققینو او ساینسپوهانو دا وینا د قرآن د وینا په څنګ کې کښېږدو او وګورو چې قرآن د دغو نظریاتو په اړه څه وایي؟ آیا په قرآن کې داسې څه مومو چې دغو بېلو بېلو مراحلو او د زمکې د سر تغییراتو ته ئې اشاره کړې وي؟ که داسې وي چې قرآن دغو خبرو ته په واضح الفاظو اشاره کړې وي، همغسې لکه چې د پیدایښت د پیل او د زمکې او آسمانونو د پیوستون او بېلتون په اړه ئې وایي، نو آیا د دې معنی به دا نه وي چې ساینسپوهان اوس په هغو حقائقو پوه شوي چې قرآن څوارلس سوه کاله د مخه ویلي وو؟!

## قرآن او د انسان پیدایښت

لکه څنګه چې قرآن وايي الله تعالی لومړی آسمانونه او زمکه پیدا کړي، بیا ئې اوبه پیدا کړې او بیا ئې ټول ژوي له اوبو پیدا کړي، همدا راز د انسان د پیدایښت د اصلي توکي په اړه لاندې الفاظ کاروي: تراب: خاوره، صلصال: کړنګېدونکي وچه خټه، صلصال کالفخار: کودړي وزمه خټه، سلالة من طين: د خټې خلاصه، حمإ مسنون: توره بوی ناکه خټه، نطفه: هغه ووړ ژوندی مخلوق چې په سترګو نه لیدل کېږي، علقه: ځوړند توکي، مصوره مضغه: د غوښې داسې ژوول شوې ټوټه چې شکل ورکړی شوی، غیر مصوره مضغه: د ژوول شوې غوښې داسې ټوټه چې شکل نه وي ورکړی شوی او طفل: ماشوم. د دې الفاظو اړوند آیتونه دا دي:

۱ـ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ الانبياء

هر ژوی مو له اوبو پیدا کړی؛ نو آیا سره له دې ایمان نه راوړي؟

۲ـ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾ الروم

او دا د ده (د قدرت) له نښو ده چې تاسو ئې له خاورې راپیدا کړئ، نو بیا داسې بشر شوئ چې خورېږئ.

۳ـ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًا ۖ وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ۖ ثُمَّ أَنتُمْ تَمْتَرُونَ ﴿٢﴾ الانعام

دی هماغه ذات دئ چې له خټې ئې راپیدا کړئ، بیا ئې د اجل (د مرګ د نېټې) پریکړه وکړه او نومولې نېټه له ده سره ده، خو تاسو بیا هم شك کوئ!!

٤- فَٱسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَم مَّنْ خَلَقْنَآ ۚ إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾ الصافات

نو پوښتنه ترې وکړه چې د دوی پیدایښت ګران کار دئ او که د هغه څه چې موږ پیدا کړل، یقیناً چې موږ دوی له سرښناکې خټې پیدا کړل.

۵ـ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا ٱلْمُضْغَةَ عِظَٰمًا فَكَسَوْنَا ٱلْعِظَٰمَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴿١٤﴾ المؤمنون

او یقیناً چي انسان مو د خټي له خلاصې پیدا کړ، بیا مو هغه د ټېکي په مضبوط ځای کي یوه نطفه وګرځاوو، بیا مو دا نطفه یو راځوړند توکی کړ او بیا مو دا علقه د غوښي یوه ژوولې ټوټه کړه، نو دا د غوښي ټوټه مو هډوکي کړل، نو هډوکي مو په غوښه پټ کړل، بیا مو په بل پیدایښت کي پیدا کړ، نو مبارك دئ دا الله؛ تر ټولو غوره خالق.

د دغو آیتونو تر تشریح او تفسیر وړاندي؛ اړینه ده چي څو مهم ټکي روښانه شي:

په دغو آیتونو کي د نطفې اصل « سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ: د خټي خلاصه» ښودل شوې، «سُلاله» هغه څه ته ویل کېږي چي په تدریجي او دقیق ډول له بل شي راایستل کېږي؛ دا کلمه په خورا مناسبه او دقیقه توګه په خاوره کي هغو اساسي او بایوکیمیاوي عناصرو ته اشاره کوي چي د انسان د بدن مادي بنسټ جوړوي؛ په دې سره قرآن دې ته اشاره کړې چي د انسان په مادي جوړښت کي د زمکي د مهمو عناصرو خلاصه کارول شوې؛ همدا راز (علقه) هغه څه ته ویل کېږي چي له بل څه راځوړند شوی وي؛ قرآن په دي سره د نطفې هغه حالت ته اشاره کوي چي د رحم له جدار راځوړند وي؛ په ځینو تفسیرونو کي علقه د غوټه شوې ویني په معنی ژباړل شوې چي ناسمه ژباړه ده؛ د عَلَقه او دې ژباړي تر منځ هېڅ لغوي تړاو نشته. قرآن د نطفې د ودي بېل بېل پړاوونه په داسي ډېر جامع او دقیق ډول بیان کړي چي د معاصر جنین‌پوهني له موندنو سره ژور مطابقت لري.

د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی د انسان نطفه د خټي له خلاصې جوړوي، یعني د ده په نطفه کي د اوبو په شمول د خاوري اکثر هغه مواد شته چي خاوره ترې جوړه شوې، له همدغي لمدې خاوري (خټي) دانه او مېوه جوړه کړي، دغه دانه او

مېوه د انسان (نارینه او ښځې) په بدن کې په مني واوړي، د دغې مني له یوې وړې ذرې (نطفې) د ده پېدایښت پیل کړي. علم نن همدا خبره کوي چې د انسان د بدن په ترکیب کې د خاورې اکثر مواد کارول شوي. او همدا خبره کوي چې د انسان پیدایښت له یوې وړې نطفې پیل شي.

• د نارینه او ښځې له مني یوه یوه نطفه غوره شي، تر ټولو ښه او پیاوړې ئې، دوی سره یو ځای شي، له همدې ځایه د انسان جوړښت پیل شي، الله تعالی ئې په یوه مضبوط، خوندي او مناسب ځای کې ځای په ځای کړي. دلته قرآن لومړی د نطفې جوړېدا یادوي او بیا ئې په یوه مضبوط ټمځای کې استقرار، د دې معنی دا ده چې ګډه نطفه په رحم کې له استقرار وړاندې جوړېږي، دلته هم د قرآن یو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندې ځلېږي او هغه دا چې د نارینه او ښځې د دوو نطفو (سپرم او اووم) یو ځای کېدا د مور د بدن په یوې برخې کې او هلته چې اووم (هګۍ) سپرم ته په انتظار پرته وي، تر سره کېږي او بیا له یو ځای کېدا وروسته رحم ته درومي او هلته تر هغه پاتې کېږي چې د یوه بشپړ ماشوم په څېر دنیا ته راشي. د قرآن دغه وینا چې لومړی ګډه نطفه جوړه شي او بیا په مضبوط مستقر کې ځای په ځای شي هغه ستر حقیقت انځوروي چې انسان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شو، تر دې وړاندې عامیانه انګېرنه دا وه چې د نارینه او ښځې مني په رحم کې یو ځای کېږي او همهلته ماشوم ترې جوړېږي. خو قرآن لا د مخه ویلي وو چې په رحم کې استقرار د نطفې له جوړېدا وروسته ترسره کېږي.

• دا نطفه وده وکړي، لومړی د علقه بڼه غوره کړي، د یوه ځوړند توکي په څېر شي، بیا د ژوول شوې غوښې بڼه غوره کړي، بیا ئې د بدن غړي په تدریج او یو په بل پسې جوړ شي؛ نه دا چې ټول یو ځایي جوړېږي؛ قرآن په (مخلقة) او (غیرمخلقة) سره همدې حقیقت ته اشاره کوي چې په نطفې داسي پړاو راځي چې د ماشوم ځیني غړي جوړ شوي وي او ځیني لا پاته وي او وروسته جوړ شي؛ د هډوکو جوړېدا ئې هم په خاص پړاو کې پیل او بشپړ شي، بیا دا هډوکي د غوښې په بوټیو پټ کړی شي، قرآن هغه مخکنۍ غوښه د مضغه په نامه یاده کړې او دا ئې د لحم په نامه او دا ښیي چې د دواړو ترکیب او حالت بیل بیل دئ او په خپلو کې توپیر لري.

• له دې وروسته هغه ته د یوه بشپړ ماشوم صورت او شکل ورکړی شي.

څه چې په دې مبارکو آیتونو کې ویل شوي علم نن د هغوی حرف حرف تأییدوي او د انسان د پیدایښت د بېلو بېلو مراحلو حالت همغسي ګڼې چې په دغو مبارکو آیتونو کې انځور شوي.

دې مبارك آیت ته هم ځیر شئ:

خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ الْأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ ۚ يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِّن بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٦﴾ الزمر

تاسو ئې له یوه نفس (ژوي) پیدا کړئ، بیا ئې د هغه جوړه ترې پیدا کړه، او تاسو ته ئې د څارویو اته جوړې پیدا کړې، تاسو د خپلو میندو په رحمونو کې په پر له پسې جوړښت او پیدایښت سره پیدا کوي، (یو پیدایښت په بل پسې) په درېو تیارو کې، همدا ستاسو رب دئ چې ټولواکي د ده ده، له ده پرته بل معبود نشته، نو کوم لوري ته ګرځول کېږئ (بې لاري کېږئ)؟

دلته د الله تعالی د ربوبیت څو څرګندو بېلګو ته اشاره شوې:

- انسان ئې له یوه ژوي او ساکښ پیدا کړ، بیا ئې له هغه د ده جوړه پیدا کړه. په دې سره د لومړني انسان د یوې جوړې پیدایښت ته اشاره شوې چې وایي: الله تعالی له یوه ژوي یوه جوړه (نر او ښځه) پیدا کړل.
- د څارویو اته جوړې (اوښان، غوایان، پسونه او وزې) ئې ورته پیدا کړې. همدا راز ئې د دغو څارویو جوړې پیدا کړي؛ یعني د انسان او د دغو څارویو لومړنی پیدایښت له دې پلوه سره ورته دئ چې د هر یوه جوړه له یوه یوه نفس او ژوي پیدا شوي. دا نفس (ژوی) قرآن په نورو آیتونو کې موږ ته راښيي او وایي چې انسان مو له نطفې پید کړی؛ په دې کې هم لومړنی انسان شامل دئ او هم اوسني انسانان. تاسو به د قرآن په هیڅ آیت کې دا ونه مومئ چې الله تعالی حواء له آدم علیه السلام پیدا کړې؛ بلکې وایي له (نطفه) او (واحد نفس) د انسان یوه جوړه پیدا شوې.
- تاسو د خپلو میندو د بطن په درېو تیارو کې د پیدایښت په داسي لړۍ کې پیدا کوي چې په پرله پسې توګه بدلېږي، د پیدایښت له یوه پړاو بل ته درومئ. د چا په اراده چې دا ستر ستر کارونه ترسره کېږي همدا ستاسو پالونکی رب دئ چې ټولواکي د ده ده او له ده پرته بل معبود نشته. نو کوم

لوري ته اړول کېږئ، پر بل معبود د باور درلودو لپاره څه دليل لرئ؟!

په دې مبارك آيت کې ويل شوي چي د انسان پيدايښت داسي دئ چي له يوه حالته بل ته اوړي، په بېلو بېلو مراحلو کې بېل بېل خلقت او جوړښت ورپه برخه کېږي، داسي نه دئ چي لومړنی جوړښت ئې ورو ورو وده کوي او تر پايه خپل لومړنی شکل او بڼه ساتي. او دا هغه ستر حقيقت دئ چي انسان اوس پرې پوه شوی.

علم ته له څوارلسو پېړيو وروسته دا خبره څرگنده شوه چي د انسان جوړښت د خاوري د اجزاوو له خلاصې دئ او د ده په وجود کې د خاوري خلاصه اجزاء را غونډ شوي او په دې هم پوه شوی چي په ماشوم باندي د مور په رحم کي همغه مراحل او پړاوونه يو په بل پسي راځي چي په پورتني آيت کې ذکر شوي، د نطفې په شکل کې راپيدا شي، ورو ورو دا نطفه په داسي ځوړند توکي بدله شي چي د رحم په جدار پوري نښتی وي او بيا د داسي يوې ټوټې غوښي شکل غوره کړي چي ژوول شوې ته ورته وي، وروسته د ده هډوکي راپيدا شي او بيا دغو هډوکو ته غوښه ورواغوستی شي او په پای کي د يوه مکمل ماشوم شکل غوره کړي او دنيا ته راشي.

علم ته داحقيقت هم جوت شوی چي د انسان نطفه د مور د بدن په دريو تيارو کي جوړېږي، د مور او پلار هغه نطفې چي له يو ځای کېدو ئې د ماشوم لومړنۍ مختلطه نطفه جوړېږي د مور د بدن په يوې ځانگړې برخي کي سره يو ځای کېږي، له هغه ځايه رحم ته درومي، هلته په يوه ځانگړي غلاف کي ساتل کېږي، په همدې غلاف کي دا لومړنۍ نطفه د تجزيې له لاري په دوو ، څلورو، اتو، شپاړسو او ... بدلېږي، تر هغه چي په رحم پوري د ځوړند توکي بڼه غوره کړي، د تغيير او بدلون له مختلفو پړاوونو تېرېږي او له يوه حالت بل ته اوړي، ورو ورو وده کوي او په پای کي د يوه بشپړ ماشوم هيئت غوره کړي. د انسان د پيدايښت لومړی نطفه د مور په زيلنځ کي جوړه شي، د زيلنځ له منځه د هغه خولې ته انتقال شي او هلته د زيلنځ او رحم تر منځ د هغې لاري په خوا کي د تلقيح (د نطفو يو ځای کېدا) لپاره منتظر او تم شي چي د رحم په لوري درومي، له تلقيح وروسته د رحم په لوري وخوځېږي، هلته داسي کڅوړه ترې راتاو شي چي د ملا (پېروان) په نامه يادېږي، دلته تر هغه پاته وي چي د زېږېدو نېټه ئې راورسېږي. نو د

انسان لومړنۍ نطفه د مور په بدن کې دقیقاً په دریو تیاره ځایونو (زیلنځ، د زیلنځ او رحم تر منځ او رحم) کې تم کېږي، په هر موقعیت کې د هغه جوړښت او خلقت تر بل توپیر لري، دا درې بېل بېل موقعیتونه او په هر یوه کې د نطفې بېل بېل حالتونه هغه مهال انسان ته جوت شول چې د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته وتوانېدو د نطفې د جوړښت مختلف مراحل وګوري، تر دې وړاندې ئې ګمان دا وو چې نطفه په رحم کې جوړېږي او همدلته وده کوي او بشپړ ماشوم ترې جوړېږي، زموږ مفسرینو هم دا آیت چې یقیناً د قرآن یو ستر علمي اعجاز ګڼل کېږي داسې تعبیرولو چې ګواکې دا درې تیارې د نس، رحم او پېروان (ملا) جدارونه او د هغوی تر شا تیارې دي. خو د قرآن الفاظ داسې دي چې وایي: تاسو د خپلو میندو په بطن کې په دریو تیارو کې، یو په بل پسې پیدایښت سره پیدا کوي.

**يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ: ...**

تاسو د خپلو میندو په رَحِمُونو کې په پر له پسې جوړښت او پیدایښت سره پیدا کوي، (یو پیدایښت په بل پسې) په دریو تیارو کې،...

**... ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ .... ﴿٥﴾: الحج**

بیا ئې د غوښې له داسې ټوټې (پیدا کړئ) چې یوې برخې ته ئې شکل ورکړی شوی او یوه برخه ئې له شکل پرته.

او دا له شك پرته همغه علمي حقیقت ته اشاره کوي چې انسان اوس پرې پوه شوی. او دا هم د ساینس له نظره په رَحِم کې د نطفې بېل بېل پړاوونه او حالتونه دي:






٦- ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ ۝٧ السجدة

هغه چي هر څه ئې پیدا کړي نو ښه ئې پیدا کړي او د انسان پیدایښت ئې له خټي پیل کړ.

٧- وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ۝٢٦ وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ۝٢٧ الحجر

او یقیناً چي انسان مو له کړنګېدونکي کودړي، له بوی ناکي توري خټي پیدا کړ او پېریان مو تر ده د مخه له بې‌لوګي اور.

لکه چي ګورئ په دې مبارکو آیتونو کي د انسان د پیدایښت لومړۍ ماده؛ "اوبه"، "خاوره"، "خټه"، "د خټي خلاصه"، "سریښناکه خټه"، "صلصال: کلکه خټه"، "کودړي وزمه خټه" او "توره بوی ناکه خټه" ښودل شوې. د قرآن د وینا له مخي دا کودړي وزمه خټه په دوو پړاوونو کي رامنځته شوې؛ یو ځل له عادي، ښوی او سریښناکي خټي چي کړنګېدونکې وه او بل ځل له توري بوی ناکي خټي، خو دا هم ببرته په توري بوي ناکي خټي بدله شوې؛ او له همدې توري بوی ناکي خټي د ټولو ژوو د پیدایښت لړۍ پیل شوې؛ لومړی د نورو ژوو او په پای کي د انسان. دا دئ ګورو چي قرآن اوبه

د ټولو ژوو او ژوندیو شیانو د پیدایښت اصلي ماده ګڼلې، داسي ژوندی شی نشته چي د جوړښت اساسي ماده ئې اوبه نه وي، د انسان د بدن نژدې اویا سلنه اوبه دي، همدا اوبه د غذا د هضم، د ده د بدن هري حجرې ته د غذا د رسولو او له بدنه د مضرو توکیو د ایستلو وسیله ده، همدا اوبه له انسان سره مرسته کوي چي د بدن د حرارت درجه ئې نه لوړه شي او نه ټیټه، انسان کولی شي له خوراك پرته تر نژدې شپېتو ورځو پوري ژوندی پاته شي خو له اوبو پرته تر یوې اونۍ زیات ژوندی نشي پاته کېدی.

له دې معلومېږي چي الله تعالی لومړی اوبه پیدا کړې بیا ئې ژوي، یعني د زمکي پر سر د ژوندون پیل له اوبو شوی. او دا هغه ستر حقیقت دئ چي انسان له ډېرو تحقیقاتو او اوږده علمي سفر وروسته پرې پوه شو، اوس په دې پوه شوی چي د زمکي پر سر ژوندون د اوبو له پیدایښت وروسته پیل شوی او پر زمکي همدا پراوونه تېر شوي چي د ژوو د پیدایښت لپاره چمتو شوې. یقیناً چي دا د قرآن یو ستر علمي اعجاز دئ، که تاسو نن د بیولوژۍ کوم بالانصافه عالم ته همدا خبره وکړئ نو هغه به یقیناً درته ووایي: دا هغه حقیقت دئ چي ساینس فقط په روانه پېړۍ کي پرې پوه شو.

که تاسو د انسان د خلقت مربوط آیتونو ته لږ ځیر شئ وبه ګورئ چي په ټولو کي (صلصال: کلکه خټه) له (حمإ مسنون: بوی ناکه خټه) وړاندي ذکر شوې؛ او په یوه آیت کي خو (صلصال) د انسان د پیدایښت داسي لومړۍ ماده ګڼي لکه د اور لمبه چي د جن د پیدایښت لومړۍ ماده ګڼي؛ هلته چي فرمایي:

خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ كَٱلْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ ٱلْجَآنَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴿١٥﴾

الرحمن

انسان ئې له کودړي وزمه کړنګېدونکې خټې پیدا کړ او جن ئې له بېدوده لمبې.

دا آیت وایي چي انسان ئې له صلصال پیدا کړی، داسي لکه جن چي ئې له اور پیدا کړی، د ده د پیدایښت اصلي ماده صلصال ده، دغسي لکه د جن د وجود اصلي ماده چي اور دئ، یعني د انسان د وجود لومړنۍ ماده په سر کي صلصال وه، خاوره شوه، خټه شوه او الله تعالی ترې انسان پیدا کړ. داسي

نه دي ویل شوي چې دی ئې صلصال کړی او بیا ئې روح په کې پو کړې.

قرآن چې د انسان د پیدایښت د مختلفو پړاوونو او حالتونو په اړه څه ویلي، علم نن همدا خبره کوي او همغه څه وایي چې قرآن ویلي: د انسان نطفه له خاورو جوړېږي، هغه دانه او مېوه چې وني او بوټي ئې له خاورو او ځمجني، بوي ناکې، توري ختې جوړوي، د انسان په بدن کې نطفه ترې جوړه شي، د پلار او مور دا دوه نطفې یوه له بلې سره وصل شي، یوه ګډه او مختلطه نطفه (خلیه او سلول) ترې جوړ شي، د مور په رحم کې ځای پرځای شي، څه موده وروسته د ځوړند توکي په څېر د مور په رحم پوری نښتې وي، بیا د ژوول شوې غوښې د یوې ټوټې بڼه غوره کړي، دلته دغه نوي مخلوق ته د صورت ورکولو لړۍ پیل شي، د ځینو برخو کار تر نورو وړاندي پیل او بشپړ شي او د نورو وروسته، همغسې لکه چې قرآن (مخلقة) تر (غیر مخلقة) وړاندي یادوي، زړه، غوړوونه، سترګي، خوله، پزه، لاسونه، پښې، او نور غړي ورکړی شي، د هډوکو جوړیدا ئې په خاص پړاو کې پیل شي، په یوې خاصې مرحلې کې یو ژوندی او متحرك ماشوم ترې جوړ شي، په ټاکل شوې نېټه د مور له رحم د وتلو لار ورته پرانیستل شي او له یوې تیاره او تنګې نړۍ یوې روښانه او پراخې نړۍ ته راووځي.

که تاسو د قرآن دغه آیتونه د داسې چا په وړاندي کښېږدئ چې د انسان او نورو ژوو د پیدایښت په اړه ئې ژوري او پراخې څېړنې کړې، دا ورته جوته شوې چې پر زمکې کوم کوم پړاوونه تېر شوي تر هغه چې د ژوندون لپاره لازم شرائط په کې برابر شوي، په لومړي سر کې څنګه وه، عناصر کله په کې پیدا شول، د مرکباتو د جوړېدو لړۍ کله پیل شوه، اوبه کله پیدا شوې، خاوره څنګه او کله پیدا شوه، پر خاورې کوم کوم مراحل تېر شوي چې د ژوو د پیدایښت لپاره چمتو شي، نباتات، بیا واړه او ستر حیوانات او بیا انسان کله پیدا شوي؛ او ګوري چې په قرآن کې دغو ټولو پړاوونو او مراحلو ته اشاره شوې، له نورو ستورو سره د زمکې ګډه منشأ درلودل او سره بېلېدا ئې، ورو ورو سړېدا ئې، پر سر ئې خاوره، خټه، سریښناکه لشمه خټه، کړنګېدونکې پخه خټه (صلصال) او توره بوی ناکه خټه، او په دې اړه د قرآن هره وینا له هغو نتائجو سره په بشپړه توګه ورته مومي چې ده له خپلو ژورو څېړنو تر لاسه کړي؛ د ماشوم د پیدایښت د څرنګوالي هغه پړاوونه ئې په دقیقه توګه

او په مجهز لابراتوار کې تر نظر لاندې تېر شوي وي؛ او اوس په دې پوهېږي چې انسان په لومړي سر کې د ژنونو مجموعه وي چې هر يو ئې د يوه خاص غړي د جوړولو دنده پر غاړه لري، يو ئې د زړه جوړولو دنده ترسره کوي، بل ئې د غوړونو، بل ئې د سترګو، بل ئې د لاسونو، بل ئې د پښو او همداسې د هر غړي لپاره يو ځانګړی ژن، د دوی شمېر څه باندې دېرشو زرو ته رسېږي، هر يو ئې په خاص پړاو کې خپل کار پيلوي او په ډېر دقت سره ئې بشپړوي، که داسې يوه بيولوژيست (ژوند پوه) ته د قرآن دا وينا واوروئ نو يقيناً چې هغه به تاسو ته ووايي: دا هغه څه دي چې ساينس اوس او د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته پرې پوه شوی!!

## په مسلمانانو کې د انسان د پيدايښت اړوند غلط باورونه

په مسلمانانو کې ځينې خلك د بايبل تر اغېز لاندې تللي او د آدم عليه السلام د پيدايښت په اړه ئې د بايبل غلطه خبره منلې او هغه ئې د قرآن د آيتونو په تفسير کې کارولې، داسې چې ګواکې الله تعالی لومړی د آدم عليه السلام مجسمه له خټې جوړه کړې، بيا ئې پر اور ايښې چې پخه شي، بيا ئې په هغې کې روح پو کړې او هغه راژوندی شوی، بيا ئې د ده له کيڼې پوښتۍ د ده مېرمن جوړه کړې!! دا خبري پردۍ دي؛ منشأ ئې بايبل، د يهودانو او نور او د ناپوه قومونو مذهبي کتابونه دي، د قرآن ګڼ شمېر آيتونه د دې انګېرني ترديد کوي او وايي چې د آدم عليه السلام پيدايښت داسې وو لکه د ده د اولاد پيدايښت، توپير ئې يوازې په دې کې دئ چې اولاد ئې د مور په رحم کې له يوې وړې نطفې پيدا کېږي او آدم عليه السلام د مور له رحم بهر له يوې نطفې پيدا شوی، قرآن وايي چې د عيسی عليه السلام پيدايښت داسې وو لکه د آدم عليه السلام پيدايښت، له دې توپير سره چې دا د مور په رحم کې له پلار پرته پيدا شوی او هغه له مور او پلار پرته، د ده نطفه هم له خاورې جوړه شوې، د هغه هم او د آدم عليه السلام د ټولو اولادونو هم. قرآن وايي چې لومړی د انسان پيدايښت پيل شوی او وروسته شکل او صورت ورکړی شوی، همغسې لکه د مور په رحم کې چې انسان لومړی يو بې‌شکله او بې‌تصويره نطفه وي، ورو ورو ځانګړی شکل غوره کړي، غوړونه، سترګې، زړه، لاسونه او پښې او نور غړي ئې وروسته وروسته جوړ شي. قرآن

په دې اړه فرمايي:

وَلَقَدْ خَلَقْنَـٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَـٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَـٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِـَٔادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ ٱلسَّـٰجِدِينَ ﴿١١﴾ الاعراف

او يقيناً چې موږ پيدا کړئ، بيا مو شکل او صورت درکړ، بيا مو ملائکو ته وويل چې آدم ته سجده شئ، نو له شيطان پرته ټولو سجده وکړه، چې (دی) له سجده کوونکو نه وو.

د دې مبارك آيت په اړه لاندې ټکيو ته پام وکړئ:

- د انسان (خلقت) او ده ته (شکل او صورت) ورکول بېل بېل ياد شوي، د دې معنی دا ده چې آدم عليه السلام ته له پيدايښت وروسته صورت او شکل ورکړی شوی، داسې لکه د ده اولاد ته چې له پيدايښت څه موده وروسته صورت او شکل ورکول کېږي، دواړه سره ورته دي، توپير ئې يوازې په دې کې دئ چې آدم عليه السلام له مور پلار پرته پيدا شوی. قرآن په دې وينا سره نه يوازې يو ستر حقيقت بيان کړی بلکې دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، انسان د پيدايښت په لومړيو شپو ورځو کې يوه نطفه وي، بيا په رحم پورې ځوړند توکی، بيا ژوول شوې غوښې ته ورته د غوښې ټوټه، ... په پای کې ورته د يوه ماشوم شکل او صورت ورکړی شي. د دې وينا په اهميت هغه څوك پوهېږي چې د انسان د پيدايښت د مختلفو مراحلو په اړه ئې ژورې علمي څېړنې او تحقيقات کړي وي.
- دا آيت د هغو خلکو غلطه انګېرنه بې‌بنسټه ثابتوي چې وايي: لومړی د انسان مجسمه جوړه شوې بيا په کې روح پو کړی شوې!! قرآن د دې رأيې په خلاف وايي چې انسان ته د ده له پيدايښت وروسته صورت او شکل ورکړی شوی. د دوی دا رأی نه په قرآن کې کوم شاهد او بنسټ لري او نه په صحيحو احاديثو کې، دوی دا رأی له بايبل اخيستې ده، دوی احسن الخالقين خدای په يوه کلال قياس کړی، بايبل په دې اړه ليکي: "... دغه وخت خدای آدم له خاورې جوړ کړ او بيا ئې د ده په پزه کې د ژوند روح پو کړه او ده ته ئې ژوندون ورپه برخه کړ او له آدمه يو ژوندی موجود جوړ شو"!

د مسيحيانو يو ډېر معروف انځورګر په خپلې مشهورې منظرې کې د دوو

انسانانو او څو فرشتو انځورونه داسي رسم کړي چي فرشتې د وزر لرونکو ښځو په بڼه کي او خدای او آدم علیه السلام سره ورته؛ او د دوو انسانانو په بڼه کي ښيي، فرشتو په خپلو وزرونو سره خدای لوړ نیولی او آدم پر زمکه پروت دئ او خدای د خپلي ګوتي له لاري آدم ته روح ورکوي!!

## انسان څنګه پيدا شوی؟

اما دا چي آدم علیه السلام څنګه له خاوري پيدا کړی شو؟ او قرآن په دې اړه څه وايي؟ د دې په ځواب کي لاندي خبري په پام کي وساتئ:

- دا سؤال يوازي د لومړي انسان د پيدايښت په اړه نه دئ مطرح؛ د ټولو ژوو، حیواناتو او نباتاتو په اړه مطرح دئ؛ بايد د ټولو د لومړي جد د پيدايښت په اړه واضح، قانع کوونکی او معقول ځواب ولرو.
- کله چي د انسان د پيدايښت په اړه څه وايو او اړوند آيتونه ئې څېړو نو بايد متوجه وو چي په دې څېړني کي د قرآن ټول هغه آيتونه په پام کي ولرو چي د انسان او نورو ژوو د پيدايښت د څرنګوالي په اړه ئې بحث کړی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښووني هم خپلي مخي ته کښېږدو او د خلقت په اړه د الله تعالی عام سنت هم په پام کي ولرو. د يوه آيت داسي تعبير وړاندي نه کړو او وئې نه منو چي له نورو آيتونو سره تعارض رامنځته کوي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحيح احاديث ئې ملا تړ او تأييد نه کوي، د الله تعالی له عام او مشهودو سننو سره اړخ نه لګوي او د عقل او علم خلاف خبره کوي.
- د انسان د پيدايښت په اړه زموږ ځواب بايد داسي وي چي هم د نورو ژوو د پيدايښت په اړه صدق وکړي او هم ئې زموږ عقل ومني، داسي ځواب ناقص دئ چي د الله تعالی د کوم مشهود سنت خلاف وي او عقل ئې نشي منلی، دا ځکه چي په قرآن کي نه د الله تعالی د سننو خلاف څه شته او نه د عقل خلاف. زموږ ځواب بايد دا راته روښانه کړي چي له ويروس او ميکروب نيولې تر فيل او ډايناسور پوري او له بکتريا او واړه بوټي نيولې تر سترو سترو ونو پوري، دا د زمکي د سر ټول ژوي او نباتات څنګه پيدا شوي، د پيدايښت پيل ئې څنګه وو او لومړی جوړه ئې څنګه پيدا شوې؟ آيا لومړی د ټولو دوې دوې مجسمې (د نر او ښځي) جوړې شوې، بيا روح په کي پو

شوې، ژوندي شوي او له همدغو لومړيو جوړو ئې نسل دوام کړی؟ او که داسي چي لومړی د هر ژوي يوه وړه نطفه پيدا شوې، دا نطفه په دوو برخو (نر او ښځي) وېشل شوې، ورو ورو ستر شوي، د يوې بشپړې جوړې په توگه ئې وده کړې او بيا له همدغي بشپړي جوړې د هغوی نسل دوام کړی؟ داسي لکه نن چي په خپلو سترگو گورو چي ټول ژوي او بوټي، که واړه دي او که ستر؛ له داسي وړې نطفې ئې پيدايښت پيل کېږي چي په سترگو نه ليدل کېږي، گڼ شمېر مراحل پرې تېر شي، ورو ورو د کمال او بشپړېدو په لوري وده وکړي او له څه مودې وروسته د يوه بشپړ ژوندي مخلوق په توگه راڅرگند شي. موږ په دې خور وور عالم کي د پيدايښت داسي بېلگه نه گورو چي د دې عام او مشهود الهي سنت خلاف لومړی د هغه بشپړه مجسمه جوړه شي او بيا روح په کي پو شي، داسي ژوی مو نه دئ ليدلی چي پيدايښت ئې له يوې وړې نطفې نه وي پيل شوی. دا عام الهي سنت او زموږ عقل راته وايي چي د اوسني پيدايښت توپير به له لومړي پيدايښت سره يوازي په دې کي وي چي اوس له يوې جوړې او د نر او ښځي له ازدواج راپيدا کېږي او په لومړي سر کي ئې دا جوړه (زوج) له يوې نطفې جوړه شوې او له دې وروسته ئې د اوسني طرز پيدا کېدو لړۍ پيل شوې. اوس ئې نطفه د مور په رحم کي جوړېږي او هغه مهال په زمکي کي جوړه شوې، اوس ئې نطفه د نر او ښځي د نطفو له يو ځای کېدو جوړېږي او هغه مهال يوه نطفه په دوو (نر او ښځي) تقسيم شوې. قرآن په مکرره توگه وايي: انسان مو له نطفې پيدا کړی؛ په انسان کي هم د ده لومړی جد شامل دئ او هم وروستی اولاد؛ همدا له نطفې پيدايښت هغه ثابت، مشهود او عملي الهي سنت دئ چي هره لحظه ئې عملي بېلگي په خپلو سترگو گورو. په لومړي سر کي او هغه مهال چي په زمکي کي د ژوند لازم شرائط برابر شول او د ژوو د پيدايښت پسرلی رامنځته شو؛ نو الله تعالی لومړی د ټولو ژوو لومړنۍ نطفې خلق کړې او د دې پسرلي په وروستني پړاو کي ئې د انسان نطفه؛ او په دې توگه د ژوو د پيدايښت لړۍ پيل شوې او تر ننه ئې دوام کړی.

- قرآن د عيسی عليه السلام دا معجزه هم يادوي چي د الله تعالی په إذن مړی د هغه په دعاء ژوندی شوی؛ او دا هم چي خلکو ته ئې ويلي: له خټي د مارغه څېره جوړوم بيا به هغه کي پو کوم او هغه به د الله تعالی په إذن

الوتونکی مارغه شي:

...أَنِّي أَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنْفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ .... ﴿٤٩﴾ آل عمران

...زه ستاسي لپاره له خټي د مرغه څېره جوړوم، بیا په هغه کې پو کوم، نو هغه به د الله په اذن سره ژوندی مارغه شي....

دا آیت موږ ته وایي: د انسان او هغه هم داسي چي پیغمبر دئ او الله تعالی په ټولو پیغمبرانو کې یوازي ده ته د ژوندي کولو معجزه ورکړې؛ نو د هغه په لاس د ژوندي کولو عملیه به یا داسي وي لکه په دې آیت کې چي ښودل شوې؛ له خاوري د مارغه مجسمه جوړول او په هغې کې پو کول او یا الله تعالی ته د مړي د راژوندي کولو دعاء کول. خو الله تعالی په هیڅ څه او هیڅ صفت کې د انسان او بل هیڅ مخلوق په څېر نه دئ؛ د ژوندون په پیدایښت کې د هغه سنت داسي نه دئ لکه د عیسی علیه السلام په لاس د مارغه ژوندي کېدا؛ په دې اړه الهي ثابت سنت داسي دئ چي په لاندي آیت کې بیان شوی:

فَانظُرْ إِلَىٰٓ ءَاثَـٰرِ رَحْمَتِ ٱللَّهِ كَيْفَ يُحْيِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾ الروم

نو د الله د رحمت نښو ته وګوره چي څنګه زمکه له خپلي مړیني وروسته راژوندۍ کوي. بېشکه چي همدا (الله) حتماً د مړو بیا راژوندي کوونکی دئ او هغه په هر څه ښه توانمن دئ.

دا آیت موږ ته لارښوونه کوي چي که غواړئ پوه شي الله تعالی به څنګه مړي بیا راژوندي کوي؟ نو د الله د رحمت نښو ته وګوره چي څنګه زمکه له خپلي مړیني وروسته راژوندۍ کوي؛ همداسي به ئې بیا راژوندي کوي. یعني د ژوند په پیدایښت کې الله تعالی خاص او ثابت سنت لري؛ تاسو ئې هره ورځ په خپلو سترګو ګورئ؛ لکه څنګه چي ئې نن پیدا کوي؛ په پیل کې ئې همداسي پیدا کړي په پای کې به ئې همداسي پیدا کوي.

قرآن د الله کتاب دئ، هر مطلب په ډېر دقت سره په کې بیان شوی، د شك مجال نه پرېږدي، یوازي د کږو زړونو خاوندان له هغه کوږ مطلب

اخلي. څنګه ممکنه ده چې د آدم علیه السلام پیدایښت دې د هیئت په بڼه کې شوی وي او قرآن دې په هیڅ ځای کې هغه ته اشاره نه وي کړې؟!

د قرآن لاندې دوو آیتونو ته لږ په دقت سره ځیر شئ:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾ فاطر

او الله تاسو له خاورې پیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځینه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي؛ مګر د ده په علم سره او نه د کوم عمر خاوند عمر ورزیاتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

که دې آیت ته لږ ځیر شئ نو په ډېر صراحت او وضاحت سره دا ترې معلومېږي: ۱- د انسان لومړی جوړه له یوې نطفې جوړه شوې، دلته الله تعالی فرمایي چې تاسو مو لومړی له خاورې او بیا له یوې نطفې پیدا کړئ او بیا مو جوړه جوړه پیدا کړئ، یعني د انسان پیدایښت لومړی له خاورې د یوې نطفې په بڼه کې پیل شوی او بیا ئې د زوج زوج پیدا کېدو لړۍ له همدې نطفې پیل شوې. څوک چې له دې پرته بله رأی وړاندې کوي د قرآن له دې څرګند آیت سره مخالفت کوي. ۲- د نوي مخلوق جوړښت او زېږېدا د هغې حکیمانه منصوبې له مخې تر سره کېږي چې علیم رب وضع کړې.

همدا مطلب د قرآن په بل آیت کې او له مزید تفصیل سره داسې راغلی:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ .... ﴿١﴾ النساء

اې خلکو! له خپل هغه ربووېرېږئ چې له یوه نفس (ژوي) ئې پیدا کړئ او له هغه ئې د ده جوړه پیدا کړه او له دواړو ئې ډېر نارینه او ښځې خواره کړل؛ ...

په دې آیت کې څو اساسي مطالب راغلي:

- د ټولو انسانانو خالق او پالونکی یو دئ.

- د ټولو انسانانو پیدایښت له یوه نفس (ژوي) پیل شوی، له همدې یوه نفس د ده جوړه پیدا شوې او بیا له دې دواړو د انسانانو د خورېدو لړۍ پیل شوې، د ټولو انسانانو لومړني پلار او مور یوازې یوه جوړه ده، په رګونو کې ئې یوه وینه ده، نسب ئې یو دئ، د یوې کورنۍ غړي دي، داسې نه ده چې نسلونه ئې بېل بېل او په نسب کې یو له بله بېل وي، داسې نه ده چې د نړۍ په بېلو بېلو سیمو کې بېل بېل نسلونه راپیدا شوي وي، د تور پوستو پلار بېل او د سپین پوستو بېل وي، عرب له یوه پلار او عجم له بل پلار پیدا شوي وي.
- همدا نفس (ژوی)؛ د فاطر سورې په ١١ آیت او نورو آیتونو کې د نطفې په نامه یاد شوی؛ نو د دې معنی دا ده چې د انسانانو لومړۍ جوړه هم له یوې نطفې پیدا شوې؛ همداسې لکه چې الله تعالی اوس انسانان او انسان ته ورته نور ژوي له نطفې پیدا کوي؛ د دغو ژوو په پیدایښت کې د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت همدا دئ نه بل څه.

دا دواړه آیتونه یو د بل تأیید، تشریح او تفسیر وړاندې کوي. د فاطر سورې آیت د «خاورې، نطفې او یوې جوړې» پړاوونه بیانوي او د النساء سورې آیت دا څرګندوي چې انسانان له یوه نفس (ژوي) پیدا شوي؛ داسې چې لومړی هغه په یوې جوړې بدل شوی او بیا له دغې جوړې د ده نسل خور شوی. د دغو دوو آیتونو له تلفیق د قرآن رأی داسې څرګندېږي:

- د انسان لومړنی منشأ خاوره وه؛
- له خاورې څخه لومړنۍ ژوندۍ نطفه راپیدا شوه؛
- هغه نطفه یا واحد نفس په لومړنۍ مذکر او مؤنث جوړې بدل شو؛
- د انسان وروستي نسلونه له همدې جوړې خواره شول.

دا رأی یوازې او محض ایماني دریځ نه دئ؛ بلکې پر قرآن سربېره؛ پر عقل او مشاهدې هم ولاړه ده. د انسان نننی پیدایښت له هغې نطفې پیل شي چې له خاورې راټوکیدلې توکې ئې اصلي منشأ وي؛ نن ئې نطفه د مور او پلار له ګډې نطفې رامنځته کېږي او د مور په رحم کې په یوه فرد بدلېږي. په پیل کې ئې هم نطفه له خاورې پیدا شوې؛ خو د زمکې په غېږ کې روزل شوې او په لومړنۍ جوړې بدله شوې. لومړنی پیدایښت باید په اصل کې د نني پیدایښت په څېر وي؛ په دې توپیر چې نن نطفه له یوې جوړې رامنځته

کېږي او د مور په رحم کې روزل کېږي؛ خو په پیل کې؛ یوه نطفه د زمکي په غېږ کې په یوې جوړې بدله شوې.

په دې استدلال کې د پیدایښت پر ثابت الهي سنت او د لومړني او مکرر پیدایښت تر منځ پر ورته والي استناد شوی دئ؛ قرآن په متعددو مواردو کې لومړنی پیدایښت او د پیدایښت تجدید د یو بل تر څنګ راوړي. له همدې امله؛ د لومړني پیدایښت او نني پیدایښت تر منځ قیاس؛ د قرآن له عمومي تګلاري بشپړ مطابقت لري. دې آیت ته هم ځیر شئ:

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝٣ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ۝٤ النحل

آسمانونه او زمکه ئې په حقه پیدا کړل، لوړ دئ له هغه څه چې ورسره شریکوي ئې، انسان ئې له نطفې پیدا کړ او هغه بیا څرګند جګړمار شو.

له دغو آیتونو څو خبري په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي:

- د آسمانونو او زمکي خالق؛ دا کائنات؛ په حقه او د دقیقي طرحي او منصوبې مطابق پیدا کړی.
- الله تعالی د خلقت او پیدایښت په کار کې هیڅ شریك نه لري.
- د انسان د پیدایښت لومړی ماده خاوره ده.
- له خاوري د ده نطفه جوړه شوې.
- بیا له دې نطفې د ده جوړه پیدا شوې. یعني د زوج زوج (نر، ښځي) پیدا کېدا لړۍ ئې له نطفې پیل شوې، یوه نطفه په یوې جوړې بدله شوې. بیا له همدې جوړې د ده د نسل پر له پسې پیدا کېدو سلسله پیل شوې.

په دغو آیتونو کې د انسان لومړني پیدایښت ته اشاره شوې، د آسمانونو او زمکي له خلقت وروسته او ورپسې دا خبره کول چې انسان ئې له نطفې پیدا کړ؛ همدا مطلب په ګوته کوي چې دلته د انسان لومړني پیدایښت ته اشاره شوې، نه وروستي پیدایښت ته. ابتدائي پیدایښت ئې هم د نطفې په بڼه کې پیل شوی او اوس ئې هم پیدایښت د یوې نطفې په بڼه کې وي. ډېره عجیبه ده چې څوك هم د دې صریح آیتونو خلاف خبره کوي او هم د ژوو د پیدایښت په اړه د الله تعالی د عام سنت خلاف.

دې ته مو هم پام وي چې اوس د انسان له نطفې يا نارينه ماشوم جوړېږي او يا ښځينه، دا پرېکړه هغه مهال کېږي چې د نارينه او ښځي د مني نطفې (سپرم او اووم) سره يو ځاى کېږي، که د ښځي په بيضې کې د نارينه د مني x سپرم ځاى په ځاى شو نو ماشوم به هلك وي او که y سپرم ځاى په ځاى شو نو ماشوم به نجلۍ وي، د دې معنی دا ده چې د جنس (نر او ښځي) نوع د پيدايښت په لومړي سر کې ټاکل کېږي نه وروسته، او دا آيت وايي چې بيا له دې نطفې د ده جوړه پيدا شوې، او د دې معنی له دې پرته بل څه نشي کېدی چې دلته د لومړي انسان پيدايښت ته اشاره شوې، هغه مهال له يوې نطفې يوه جوړه پيدا شوې.

دې ټکي ته هم بايد متوجه وو چې اوس؛ د انسان له (ترکيب شوې) نطفې؛ يا نارينه ماشوم جوړېږي او يا ښځينه؛ د جنسيت دا ټاکنه هغه مهال کېږي چې د سړي او ښځي نطفې (سپرم او اووم) سره يوځاى کېږي؛ ښځينه بيضه (اووم) XX کروموزومونه لري او نارينه سپرم XY؛ که د ښځي په بيضه کي د نارينه X کروموزوم ځاى پر ځاى شي؛ نو ماشوم به نجلۍ وي او که Y کروموزوم ځاى پر ځاى شي؛ ماشوم به هلک وي؛ د دې خبري معنی دا ده چې د جنس (نر او ښځي) ډول د پيدايښت په هماغه لومړي سر کي ټاکل کېږي؛ نه وروسته.

خو دا آيت وايي چې بيا الله تعالی له دغي نطفې يوه جوړه پيدا کړه؛ او د دې څرگنده معنی دا ده چې دغه لومړنۍ نطفه د داخلي تجزيې (وېش) له امله په يوې جوړې (نر او ښځي) بدله شوې ده؛ د آيت الفاظ دومره واضح دي چې له دې پرته ئې بل هيڅ تعبير او تفسير ممکن نه دئ؛ دلته د انسان هغه لومړني پيدايښت ته اشاره شوې چې له يوې نطفې ئې يوه جوړه (نارينه او ښځينه) رامنځته شوې؛ ځکه اوسنی پيدايښت ئې داسي دئ چې له دغي نطفې يا هلك جوړ شي يا انجلۍ؛ نه يوه جوړه.

- الله تعالی يوازي آدم عليه السلام له خاوري نه دئ پيدا کړی بلکې د ده اولاد هم هره ورځ له خاوري پيدا کوي، دا ځکه چې د هر يوه نطفه له هغو موادو جوړېږي چې له زمکې راټوکېږي، دا خاوره ده چې په دانې او مېوې بدله شي او د انسان په وجود کې د ده نطفه ترې جوړه شي او بيا د دغو نطفو له تلفيق انسان جوړ شي. قرآن په دې اړه فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَـٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِى ٱلْأَرْحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۚ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴿٥﴾ الحج

اې خلکو! که د بیا ژوندون په اړه په کوم شك کې یئ؛ نو موږ خو له خاورې پیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا له علقې، بیا د غوښې له یوې ټوټې (چې ژوول شوې غوندې وي) انځور شوې او نه انځور شوې؛ د دې لپاره چې تاسو ته وښیو؛ او څه چې وغواړو تر یوې ټاکلې نیټې ئې په رحم کې ځای پرځای کوو، بیا مو د ماشوم په څېر راباسو، بیا (همداسې دوام ورکوو) تر هغه چې د خپل زیات قوت (پړاو ته) ورسېږئ او له تاسو ځیني ومړل شي او ځیني مو تر ټولو لوېدلي عمر ته ورسول شي، هومره چې له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او زمکه ګورې چې وچه کلکه ده؛ خو کله چې اوبه پرې نازل کړو؛ وخوځېږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي.

دلته د ټولو انسانانو د عادي او ورځني خلقت مختلفو پړاوونو ته اشاره شوې؛ چې له خاورې پیل او په مرګ ئې پای ته رسي، په بل ځای کې د خاورې او ختې عصاره او خلاصه د انسان د ترکیب ماده ګڼې او دا د قرآن یوه بله معجزه ده چې وایي انسان د زمکې له خلاصې راپیدا شوی، یعنې د ده په وجود کې د هغو شیانو بېلګې شته چې په زمکه کې شته، انسان اوس په دې پوه شوی چې په رښتیا د انسان په وجود کې تقریباً ټول هغه عناصر شته چې په زمکې کې شته، د ده د جسم په ترکیب کې د اوسپنې په څېر مواد هم شته، له نن سل کاله مخکې که چا دا خبره کړې وی چې د انسان په جسم کې د اوسپنې په څېر د زمکې نور مواد هم شته؛ خدای خبر چې د ده په خبرې به ئې څومره خندلي وو، خو علم نن په دې حقیقت پوه شوی او د انسان د جسم د ترکیب په اړه د قرآن همدا خبره کوي.

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ۝١٢ المؤمنون

د طٰهٰ د سورې د پنځه پنځوسم آيت په وروستۍ فقره کې راغلي:

مِنۡهَا خَلَقۡنَٰكُمۡ وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً أُخۡرَىٰ۝٥٥ طه

له همدې زمکې مي پيدا کړئ او همدې ته مو بيا ورگرځوم او له همدې مو يو ځل بيا راباسو!!

د دې معنى دا ده چي په لومړي ځل ئې هم له دغي زمکې راايستلي يو او د قيامت په ورځ به مو يو ځل بيا له همدې زمکې راباسي؛ او دا همغه مطلب دئ چي د نوح سورې په ۱۷ آيت کې داسي راغلی:

وَ اللَّهُ أَنبَتَكم مِّنَ الأَرْضِ نَبَاتاً:

او الله له زمکې راوټوکولئ په ځانگړي ټوکولو سره.

متأسفانه ځيني د آدم عليه السلام د پيدايښت، په ده کې د روح پو کول، په جنت کې ځای پرځای کېدل، ده ته د شيطان وسوسه او له جنت د ده د وتلو په اړه داسي څه وايي لکه چي يا هغه زموږ جد نه وي او يا موږ د ده اولاد نه وو، د ده پيدايښت، ژوند او مرگ بايد همغسي وي لکه د ده د اولاد، يوازي په دومره توپير سره چي هغه له مور او پلار پرته پيدا شوی؛ په ده کې د روح پو کول به همغسي وو لکه د ده اولاد ته چي په خاص وخت کې روح ورکوي، ده ته د شيطان وسوسه بايد همغسي وي لکه نن چي شيطان د ده اولاد وسوسه کوي؛ الله تعالی خو موږ ته د آدم عليه السلام د پيدايښت په قصه کې زموږ د پيدايښت ځرنگوالی راښيي، موږ ته د انسان او د هغه ځانگړتياوي او خصوصيات رامعرفي کوي، د ده د عروج او زوال عوامل راښيي، شيطان او د هغه وسوسې را په گوته کوي، دا زموږ د جد قصه ده، د دې قصې په هنداره کې بايد خپل مخ وگورو او خپل ځان وپېژنو. په دې اړه تفصيلي بحث د قرآن پلوشې تفسير د النساء او الاعراف په سورتونو کې وگورئ.

کلونه وړاندي او په ځوانۍ کې مي د غرب د يوه معروف ساينس پوه؛ الکسيس کارل کتاب ( Man, the Unknown انسان؛ ناپېژاندی سړی) لوستو؛ ده د زمکې د پيدايښت مختلف پړاوونه په ډېر تفصيل سره څېړلي؛ دې ځای ته ورسېدم چي ليکلی ئې وو: د ژوو پيدايښت له **black soup** يعني توري

شوروا پیل شوی، بې‌اختیاره مي اوښکې توی شوې او له ځان سره مي وویل: آیا د قرآن د حقانیت د اثبات لپاره دغه معجزه کافي نه ده؟! دا ساینس پوه له کلونو کلونو تحقیقاتو وروسته هغه خبره کوي چي قرآن لا ډېر د مخه کړې، دی ورته **black soup** وایي او قرآن ورته توره خټه!! که تاسو د ونو او بوټو د ودي او د مېوو او دانو د جوړېدو لړۍ وڅېړئ نو وبه ګورئ چي د دوی جرړې هغه مهال له زمکي ضروري مواد؛ اوبه او منرالونه جذبولی شي چي د جرړو شاوخوا خاوره ئې لنده او توره خټه شي؛ د انسان او حیوان نطفې له همدغو دانو او مېوو جوړېږي چي منشأ ئې توره خټه ده.

په پای کې؛ راشئ د مقدس کتاب (اوسني بایبل او تورات) دې ادعا ته هم یو نظر واچوو؛ چي وایي: ... لومړی د بایبل انسان‌وزمه خدای؛ د انسان مجسمه جوړه کړه؛ بیا ئې د هغه په پوزه کې روح پو کړه؛ نو ژوندی شو! او کله چي دې خدای وغوښتل هغه ته جوړه وټاکي؛ نو یو شمېر حیوانات ئې ورته راوستل؛ چي آدم پخپله د هغوی له منځه یو غوره کړي؛ خو هیڅ یو ئې ترې خوښ نه کړ... ستړی شو او ویده شو... خدای ته مناسب فرصت په لاس ورغی چي آدم؛ په داسي حال کې چي ژور خوب وړی وو؛ عملیات کړي او د هغه له کیڼي پښتۍ د هغه مېرمن حواء پیدا کړي؛ کله چي آدم له خوبه راویښ شو؛ حواء ئې د ځان تر څنګ ولیده؛ خوښه ئې شوه او ویې ویل: خوښه مي ده؛ ځکه چي زما له جنسه ده!!

دوستانو! دا عادي خبره مه ګڼئ؛ دا د بایبل خبره ده؛ د دوه میلیارده مسیحیانو د مقدس کتاب خبره!! هغه کتاب چي نن هم؛ په یوویشتمه پېړۍ کې؛ د هر هوټل؛ آن د پنځه ستورو هوټلونو؛ د هري خوني پر مېز؛ یوه نسخه ئې ایښودل شوې وي؛ او د مسیحي هېوادونو جمهوررئیسان د لوړي مراسمو لپاره خپل لاس پر همدې کتاب ږدي!! مهمه نه ده چي بایبل د همدغسي خندوونکو خبرو یوه ټولګه ده؛ مهمه نه ده چي د انسان د پیدایښت د څرنګوالي په اړه د بایبل ادعاء تر کومه بریده د انسان له عقل؛ د الهي سننو او د پیدایښت اړوند څرګندو قوانینو خلاف ده!! په طبیعت کې دا قوانین او سنن؛ نه پټ دي او نه نامعلوم؛ هره ورځ او هره شېبه ئې روښانه بېلګې په خپلو سترګو وینو؛ تل دا نه بدلېدونکی الهي سنت ګورو چي هر ژوندی موجود؛ له یوې وړې حجرې پیلېږي؛ ورو ورو وده کوي او خپل کمال ته

رسيږي. د کلال په څېر مجسمه جوړول او په هغه کې پو کولو سره؛ ژوندی مخلوق پيدا کول؛ ساری او بېلگه ئې په ټول عالم کې نه گورو. دا انگېرنه؛ نه له عقل سره اړخ لگوي او نه په عالم کې د پيدايښت له عيني قوانينو سره.

مگر د بايبل پلويان هره شبېه په خپلو سترگو نه گوري چې الله تعالى ژوندي مخلوقات څنگه پيدا کوي، څنگه ئې له مړې خاوري جوړوي، څنگه روح په کې پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي؛ آيا دغه څه چې دوی او موږ ئې په خپلو سترگو گورو له هغه څه سره مطابقت لري چې بايبل ئې د آدم عليه السلام د پيدايښت په اړه وايي؟! آيا د ژونديو شيانو په پيداکولو کې د الله تعالى سنت همداسي دئ چې لومړی د يوه شي مجسمه جوړوي، بيا ئې په پزه کې روح ور پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي؟! آيا د بايبل ليکونکي او منونکي همداسي پيدا شوي؟! که دوی داسي نه وي پيدا شوي نو د دوی جد آدم عليه السلام به ولې داسي پيدا شوی وي؟! الله تعالى خو انسانان، حيوانات او بوټي داسي پيدا کوي چې په سر کې وړوکې نطفه وي، ورو ورو ستره شي او يو بشپړ ژوندی مخلوق ترې جوړ شي، څنگه ومنو چې لومړی الله تعالى د ټولو ژوو مجسمې جوړې کړې، بيا ئې د دوی په پزو کې روح پو کړې او ژوند ئې ورپه برخه کړی!! دا انگېرنه خو نه د هيڅ انسان عقل مني او نه په پيدايښت کې د الله تعالى له مشهود او نه بدلېدونکي سنت سره مطابقت لري.

## آيا انسان تر نورو ژوو وروسته پيدا شوی؟

که تاسو د الحجر د سورې له ۱۵ آيت تر ۲۷ آيت پوري له نظره تېر کړئ نو ډېر ژر به متوجه شئ چې الله تعالى لومړی زمکه او آسمانونه پيدا کړي، بيا ئې اوبه پيدا کړې، بيا ئې د زمکي د سر بوټي او نور ژوي پيدا کړي او په پای کې ئې انسان پيدا کړی. په ۱۵، ۱۹، ۲۰، ۲۲، آيتونو کې د آسمانونو، زمکي، غرونو، اوبو، بوټو او حيواناتو پيدايښت ته اشاره شوې او ورپسې په ۲٦ آيت کې د انسان پيدايښت ته، په ۲۷ آيت کې ويل شوي چې پېريان هم تر انسانانو مخکې پيدا شوي، دا تسلسل ښيي چې الله تعالى د انسان تر پيدايښت وړاندي د ده د معيشيت ټول ضروري شيان پيدا کړي او دا هغه حقيقت دئ چې ساينسپوهان اوس پرې پوه شوي او همدغه خبره کوي چې قرآن څوارلس

پېړۍ وړاندي کړي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د انسان او نورو ژوو د پيدايښت په اړه فرمايلي چي الله تعالی انسان د پيدايښت د مراحلو د وروستۍ شپږمي مرحلې په پای کي پيدا کړ.

ابو هريره رضي الله عنه وايي: پيغمبر علیه السلام تر لاس ونيولم او راته وئې ويل: الله تعالی د شنبې په ورځ خاوره پيدا کړه، د يکشنبې په ورځ غرونه، د دوشنبې په ورځ نبات، د سه شنبې په ورځ مکروه، د چهارشنبې په ورځ نور، د پنجشنبې په ورځ خزندگان او د جمعې په ورځ، د پيدايښت په پای او د ورځي په آخر کي، د ماښام او مازديگر تر منځ ئې آدم علیه السلام پيدا کړ.

عَنْ أَبِي هريرَةَ، قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ بِيَدِى فَقَالَ: «خَلَقَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ، التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ وَخَلَقَ فِيهَا الْجِبَالَ يَوْمَ الأَحَدِ وَخَلَقَ الشَّجَرَ يَوْمَ الإِثْنَيْنِ وَخَلَقَ الْمَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلاَثَاءِ وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الأَرْبِعَاءِ وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ وَخَلَقَ آدَمَ، عَلَيْهِ السَّلاَمُ، بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِى آخِرِ الْخَلْقِ، فِى آخِرِ سَاعَةٍ مِنْ سَاعَاتِ الْجُمُعَةِ، فِيمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ». مسلم

دا روايت د زمکي پر سر د پيدايښت مختلف مراحل توضيح کوي او وايي چي د زمکي پر سر د خاوري پيدا کېدل د پيدايښت مقدمه وه، له خاوري وروسته لومړی غرونه، بيا نباتات، بيا مکروه، بيا نور، بيا خزندگان او په پای کي آدم علیه السلام پيدا شوی. د دې روايت په اړه بايد دا خبري هم په پام کي ولرئ چي ځيني برخي ئې دقت ته ضرورت لري، لکه دا چي يو څه د مکروه په نامه ياد شوي چي د احاديثو شارحين بېل بېل شيان د دې مصداق گڼي، همدا راز ويل شوي چي نور د چهارشنبې په ورځ پيدا شوی، چي ښايي مراد به ئې هغه حالت وي چي د زمکي د سر پرېږي وربځي خورې او سره بېلي شوې او د لمر پلوشې پر زمکه لگېدلې، ځکه نور تر دې دېر د مخه پيدا شوی، لمر او زمکه د غرونو تر پيدايښت وړاندي ځلانده ول. او دا هم چي قرآن وايي: په زمکي کي لومړنی پيدا شوی مرکب اوبه دي.

که څه هم دا روايت؛ د سند له پلوه ضعيف بلل شوی؛ او په متن کي ئې هم ځيني ابهامات شته؛ خو د موضوع د اهميت په پار؛ په هغه کي د راغلو

ځینو مهمو مطالبو او ځینو بیان شوو حقائقو لپاره مي د هغه راوړل ګټور وګڼل؛ د دې روایت د لا دقیق تحلیل او سم درك لپاره؛ څو علمي ټکیو ته پام ضروري دئ:

- د مکروه مفهوم: د حدیث شارحینو؛ د «مکروه» کلمه په بېلابېلو معناوو تعبیر کړې ده؛ چې څېړل ئې ضروري نه برېښي.
- د چهارشنبې په ورځ د نور څرګندېدل: په دې روایت کې راغلي چې نور د چهارشنبې په ورځ پیدا شو. د ساینس له نظره؛ لمر او ډېر نور ځلېدونکي او نوراني ستوري؛ د غرونو تر پیدایښت مخکې وو او ځلېدل؛ نو په دې پړاو کې د نور له پیدایښت؛ ښایي مراد دا وي چې د زمکې له فضاء د لومړنیو پرېړو او متراکمو ورېځو او د ګازونو غبار ورو ورو لرې او کم شوی؛ او په لومړي ځل د لمر وړانګې د زمکې سطحې ته رسېدلې دي؛ د فوتوسنتز (د ژواک وده کې د نور ونډه)؛ او د ژوو د پیدایښت او ودې لپاره لازم شرایط برابر شوي. همداراز؛ علمي څېړنو ښودلې ده چې د کائنات د پیدایښت په پیل کې؛ او د بیګ بنګ له انفجار وروسته؛ نور موجود وو؛ خو په فضاء کې خورو الکترونونو د نور د وړانګو مخه نیولې وه؛ کله چې الکترونونه په اتومونو کې راغونډ شول؛ د نور د وړانګو لپاره لاره پرانیستل شوه؛ او د لیدلو امکان ئې رامنځته شو.
- د اوبو د پیدایښت تقدم: د قرآن د صریح نص له مخې؛ پر زمکه لومړنی پیدا شوی ترکیب؛ چې د ژوند سرچینه ده؛ اوبه وې.
- دا هم د تأمل وړ ده چې په دې روایت کې؛ د پیدایښت د هري مرحلې د مودې لپاره؛ د ورځو پر ځای د شنبې، یکشنبې... تر جمعې پوري؛ نومونه یاد شوي؛ او دا د بایبل له بیان سره ورته والی لري؛ ځکه هلته هم همدا نومونه کارول شوي؛ او بیان ئې داسي دئ لکه کائنات چې په ۷۲ ساعتونو کې خلق شوی وي؛ او الله تعالی د اوومې ورځې په رسېدو سره؛ د پیدایښت له کار فارغ شوی او استراحت ئې کړی وي. قرآن هم د کائناتو پیدایښت په شپږو ورځو کې یاد کړی؛ خو دا ئې څرګنده کړې ده چې دا ورځې؛ د انسان د زمکنیو عادي ورځو په معنی نه دي؛ بلکې د داسي اوږدې مودې لپاره کارول شوې چې د کائنات د پیدایښت له بهیر سره متناسبه ده؛ دا ورځې د الله تعالی له لوري د خلقت د مرحلو زماني واحدونه دي؛ چې کله د انسان له زرو

کلونو سره برابري وي؛ کله له پنځوس زرو کلونو سره؛ او بالتبع؛ کله تر دې هم خورا اوږدې.

## تتمه

په الله قسم چې د قرآن دا هره وینا او هر آیت؛ یو ستر علمي اعجاز دئ، داسې ستر اعجاز چې که تاسو ئې د هر حقپال او باانصاف عالم په وړاندې کښېږدئ نو محال ده چې هغه به دې ته سر ټیټ نه کړي او یوه ستره معجزه به ئې ونه ګڼي. پر ما د قرآن او ساینس تر منځ؛ دې توافق او یو د بل بشپړ تأیید؛ په همدغو مهمو مواردو کې؛ د دواړو ورته بیان او دریځ؛ دومره اغېز کړی چې قرآن مې په داسې حال کې له خپلې سینې سره کلك ونیولو او بیا مې ښکل کړ؛ چې په سترګو کې مې اوښکې رغړېدې.

متأسفانه دین په مجموع کې او قرآن په ځانګړې ډول؛ د ځینو داسې غرضي او مرضي کړیو او دین پلورونکو لاس کې لوېدلی چې عمداً یا د ناپوهۍ له کبله؛ د دغو مبارکو آیتونو داسې غلط تعبیرونه او تفسیرونه وړاندې کوي چې د قرآن له سترو علمي معجزاتو؛ پر قرآن د اعتراض خبرې جوړوي!! رحمان رب ته دعاء کوو چې خپل ښکلی قرآن؛ د جاهلانو او غرضي او مرضي کړیو له شر وژغوري! آمین

پای

مالیزیا

۱٤۰۵/٤/۲۰